# متعه

(لنډمهاله واده)

د علماوو له نظره

**"متعه" یا "لنډمهاله واده"** ........................................................................ ٢

بسم الله الرحمن الرحیم

د کتاب مشخصات:
د کتاب نوم: متعه (لنډمهاله واده)
د چاپ کال:۱۳۹۰
د چاپ شمېر:۱۰۰۰ ټوکه.
د چاپ وار: لومړی.

فهرست

فهرست........................................................................ ٤
سریزه ........................................................................ ٦
متعه دکومې نکاح نوم دی؟ ............................................ ٨
ایا متعه جایزه ده؟ ...................................................... ٨
١-د خلفاوو په سرچینو کې د ښځو متعه؛ یا لنډ مهاله واده ............... ٣٢
٢-په امامیه فقه کې لنډمهاله واده:........................................ ٣٣
٤. په سنتو کې لنډمهالی واده ............................................ ٣٨
٥. د خلافت په وروستیو کې له لنډمهاله واده د حضرت عمر د مخنیوي
علت : .................................................................. ٤٠
٦. تر حضرت عمر وروسته لنډمهالی واده.................................. ٤٩
ج) له حضرت ابن عباس سره د حضرت عبدالله عمر اختلاف ......... ٥٨
لنډمهاله واده........................................................... ٨٥
نننی ژوند او لنډ مهاله واده .............................................. ٨٨
نننی ځوان، د بلوغ پېر او جنسي کړکېچ.................................... ٨٩
کوم یو؟ لنډمهال رهبانیت یا جنسي کمونزم یا لنډمهال واده؟ ........... ٨٩
ازموېنېزه واده ........................................................... ٩٠
راسل او د لنډمهاله واده څرگندونه .......................................... ٩١
لنډمهاله نکاح او گڼ ښځې ................................................ ٩٩
په لنډمهالي واده کې د ماشومانو برخلیک ...................................... ١٠٠
لنډمهاله واده او د حرامسرای مساله ........................................ ١٠١
د حرمسرای جوړونې ټولنیز علتونه .......................................... ١٠٢
ایا د لنډ مهالي قانون تشریع د هوسرانۍ د تامین لپاره دی؟............ ١٠٤

"متعه" یا "لنډمهالهواده" ........................................................................ ٥

په ننني نړۍ کې حرمسرای ........................................................ ١٠٥
د دویم خلیفه لخوا د لنډمهالي واده منع ........................................ ١٠٧
د حضرت علي وینا .............................................................. ١١٠
لیکوال: استاد ناصر مکارم شیرازي ............................................ ١١٢
لنډمهاله واده (متعه) ........................................................... ١١٢
متعه ................................................................................. ١١٦

## سریزه

په انسان کې بېلابېلې غریزې دي، چې له دې غریزو څنې یوه هم د انسان جنسي غریزه ده او بلخوا مونږ مسلمانان عقیده لرو، چې اسلام خاتم دین دی او د انسان ټولو اړتیاوو ته په هر وخت او ځای کې ځواب ورکوي او په ټولنه کې، چې له ډېرو ځوانانو او له هغو وګړیو سره په تماس کې وم، چې له کوره به لرې ول او یا به یې د مالي توان د نه درلودو له امله واده نه شو کولای او د همدې امله به یې یو رټل شوي چار؛ یعنې زنا او یا هم لواط ته مخه کوله او داچې په خپله هم په دې عقیده وم، چې اسلام به هرومرو دې چار ته یوه لار لري؛ نو ددې ستر معضل د حل لپاره په اسلامي منابعو کې په لټه شوم، تردې چې په "عزیز التفاسیر" کې مې د "لنډمهاله واده یا متعه" په نوم یوه موضوع ومونده او پکې یې کښلي وو، چې اهل تشیع "متعه یا لنډمهاله واده" حلال ګڼي؛ خو د هغوی د رد لپاره یې کوټلي دلایل نه وو راوړي او دا هم راته د لا تعجب ځای و، چې وویل شي، چې خدای او رسول یې یو چار حلال کړی او موږ یې حرام ګڼو؛ نو ځکه مې په دې څېړنه کې هم د اهلسنتو او هم د اهل تشیع دلایل راوړي او په پای کې مې په دې اړه د اهل تشیع د معاصرو علماوو نظرونه هم راوړي دي او بې له کوم تصرفه مې هر څه د ګران لوستونکي مخې ته ایښي دي او قضاوت په خپله لوستونکو ته پرېږدم او هیلمن یم، چې د اسلامي مسایلو په پوهاوي کې راته یوازې ملاک قرآن او د رسول الله سنت وي او له بې ځایه تعصبونو څنې ډډه وکړو.

په دې څېړنه کې له "عزیز التفاسیر"، د آیت الله شیخ آصف محسني د "مسایل کابل" له کتابه، د مرحوم علامه سید مرتضی عسکري له "برګستره

سنت"، د آیت الله ناصر مکارم شیرازي له "اعتقاد ما"، د استاد مطهري له "نظام حقوق زن در اسلام" د آیت الله جعفر سبحاني د "منشور عقاید امامیه" او د فلسطین لیکوال دوکتور اسعد وحید القاسم د" در جستجوی حقیقت" له کتابونو گټه اخستل شوې ده.

په درنښت

ليکوال: (ابو حذيفه مولوي سلطان عزيز (عزيز)

### متعه دکومې نکاح نوم دی؟[1]

۱-داهل التشيع په نزد متعه د هغه عقد څخه عبارت ده، چې يوه ښځه په ايجاب او قبول سره په معين مهر باندې د ټاکلي وخت پورې د يوه نارينه د استفادې صالحه وگرځي، کله چې ټاکلی شوی وخت تېر شي؛ نو ذکره شوې ښځه بدون د طلاق څخه د نارينه څخه جدا کيږي (تفسيرالمظهري ۷٤/۲)

احناف عليمهم الرحمة وايي، چې که نوموړی عقد د نکاح په لفظ سره اجراء شي، هم د متعې حکم اخلي؛ خو چې وخت پکې ټاکلی شوی وي؛ ځکه چې په عقودوکې معنی ته اعتبار دی او دغه ډول نکاح د متعې په معنی سره ده (الهدايه کتاب النکاح)

### ايا متعه جايزه ده؟

۲_ اهل التشيع د آيت شريف د (فما استمتعتم به منهن فاتوهن اجورهن) څخه داسې معنی اخلي، چې: ای مسلمانانو! د کومو زنانه وو څخه، چې تاسو د موقتې نکاح په ذريعه استفاده وکړئ؛ نو هغوی ته ټاکل شوي اجرتونه ورکړئ. دوی همدغې نکاح ته متعه وايي او دا د دوی په نزد باندې جايز ده.

څرنگه، چې زموږ (اهل السنة والجماعة) داحاديثو کتابونو(صحيح مسلم ٤٥٠/۱) ، د فقې کتابونو (کتاب الفقه علی المذاهب الاربعه ٩٠/٤؛ احکام القرآن للجصاص ۱٤٨/۲) اوبالاخره. تفسير کتابونو (تفسير القاسمي

---

[1]. د بحث د عزيز التفاسير ۱۱۵/۳-۱۱۸ څخه بې له کمونې او زيادونې اخستل شوی دی.

١٣٠/٥؛ تفسير المظهري ٧٥/٢) د موقتې نکاح د تحريم په هکله پوره څېړنې کړې دي، چې داوړدوالي دکبله دلته ټولې نه شو رانقلولی؛ نو صرف په لاندې څو نکاتو باندې اکتفاء کوو، چې ددې مقام سره قوي ارتباط لري.

الف: د آيت شريف ذکره شوې توکړه داهل التشيع په متعې سره تفسيرول غلط کار دی؛ ځکه:

اول دا سورت تقريبا د اول سر څخه دشرعي نکاح په هکله بحث راروان دی چې وروستنی بحث هم همدغه مضمون تعقيبوي؛ نوکه په مخکې آيت شريف د يوې برخې تفسير د وړاندې او بېرته څخه مخالف کړی شي؛ نو داسې مثال به ولري؛ لکه څوک، چې د ملغلرو اميل وشکوي او ملغلرې دانه وانه شي. ښکاره ده، چې دا ډول کار د فصيح کلام سره مناسب نه دی.

دويم: په همدې سورت کې د منکوحو شماره په څلورو پورې حصره شوې ده، که بالفرض دلته داهل الشيع تفسير مراد کړی شی؛ نود منکوحو شماره په څلورو کې نه حصرېږي او داځکه، چې دوی د يوه پلوه همدغه متعه د نکاح په نوم يادوي اود بله پلوه ورته په ټاکلي شوي عدد باندې قايل نه دي او د متعو عدد نه حصروي.

درېم: په همدې سورت کې زيات تاکيد شوی دی، چې خپلو منکوحو ته په ميراث کې برخه ورکړئ؛ نو که دلته د هغوی متعه مراده کړی شي؛ نو معنی به داوي، چې ځينو منکوحو ته په ميراث کې برخه مه ورکوئ او داځکه، چې اهل التشيع ورته په ميراث قايل نه دي. (تفسير نمونه ٣٤٤/٣) داهل تشيع تصنيف.

څلورم: د نکاح په اهدافو کې الله (ج) عفت او پاک لمني د دوام په توگه شامله کړې ده، د همدې کبله یې په (محصنین) د اسم فعل صیغه نازله کړې ده او د اهل التشیع په متعې باندې خو دوامداره پاکلمنې نه ساتله کیږي ځکه، چې په هغې کې وخت ټاکلی وي.
پنځم: د (فمااستمتعتم) جمله په (ان تبتغواباموالکم) باندې تفریعه ده؛ نو د معنی حاصل یې داسې کیږي، چې: په نکاح کې د مال (مهر) ورکړه واجبه ده؛ خو تر څوپورې، چې د منکوحې څخه استفاده نه وي شوې؛ نو نیمایي مهر یې په خطر کې دی، اما کله، چې تاسو د هغوی څخه استفاده وکړئ؛ نو بیا ضرور ټول مهر ورکړئ اوچونگی ترې مه ستنوئ.
که د اهل التشیع متعه مراده کړای شي؛ نو ذکره شوې تفریع معنی نه ورکوي؛ ځکه وړاندې خو د دوی د متعې هیڅ بحث نه دی تېر شوی ترڅو دغه جمله ورباندې تفریع شي.
شپږم: په راتلونکې ایت شریف کې الله هغه خلکو ته، چې د اصیلې ښځې نکاح ته یې وسه نه کیږي هدایت کړی دی، چې دوی دې کم اصیلې په نکاح واخلي، چې د یوطرفه یې عادتا مهر خفیف وي او د بل طرفه یې د نفقې بوج په مالک باندې وي کله، چې هغوی د خپل استخدام څخه فارغه نه کړي.
نوکه بالفرض داهل التشیع متعه شرعي کار وي؛ نو الله (ج) به ضرور همدغو بېوسې خلکو ته د متعې تجویز نازل کړی وی؛ ځکه د خپلو خواوو د سړولو د پاره دکم اصلو د نکاح څخه هم متعه کول ډېر اسان دي، چې د دوی په اصطلاح نکاح ده او د نکاح لوازم نه لري (خوره اوڅښه او حساب مه منه)

اوم: اهل التشیع وایي، چې متعه کول اجتماعي ضرورت دی، خصوصا په دې زمانه کې د تحصیل دوره اوږد وخت ته اړتیا لري که دوی په رښتیانی نکاح باندې مصروف شي؛ نو تحصیل به یې ناتمام پاتې شي (تفسیر نمونه ۳٤۱/۳ د اهل تشیع تصنیف)؛ نوموږ د دوی څخه د لاندې پوښتو جوابونه غواړو:

* ایا محصلینو ته دا بهتره نه ده، چې جنسي غرایز یې په متعه باندې راویښ نشي؟

* ایا د تحصیل د پاي پورې هر یوه ته په اصطلاح دوه سوه متعې په کارنه دي؟ایا داکار د دوی د وسې پوره دی؟

* ایا د دوی تشویشونه په متعو نه اضافه کیږي، چې یو اولاد یې په امریکا کې وي او بل په اروپا کې؟ که بالفرض په متعه نسب ثابت شي (۲)

* او که ثابت و نه ګڼلی شي؛ نو ایا د نوموړو اولادونو مور دوی ته نفقه ورکولی شي، په داسې حال کې، چې پخپله یې د نفقې دپاره د متعې لاره غوره کړې ده؟.

* ایا په متعې باندې استعمال شوې زنانه څوک په دایمي شرعي نکاح اخلي؟

* ایا د دوی د ګذران دپاره کچنۍ خانې جوړول ضرور نه دي؛ لکه، چې د انقلاب څخه وړاندې دایران په جمهوریت کې د وخت پاچا (رضا شاپهلوي) داکارکړی وه؟.

ب: د پورتني بیان څخه ثابته شوه، چې اهل التشیع د متعې د ثبوت دپاره په قرآن کریم کې کوم آیت نشته، حال داچې داسلام به ابتداء کې یې په سفرونو کې تحقق موندلی دی؛ نوثبوت به یې په احادیثوباندې شوی وي، اما بالمقابل د نوموړي نکاح په نسخې کې زښت ډېر احادیث

روایت شوي دي، چې تقریبا د معنوی تواتر درجې ته رسېږي (درالمنثور ٤٨٥/٢) لاندې څومثالونه يې ولولی:

اول: د علي (ک) څخه روایت دی، چې ((ان رسول الله صلی علیه وسلم نهی عن متعة النساء یوم خیبر و عن اکل لحوم الحمر الانسیة)) (۴) یعنې: نبي کریم (ص) د ښځو د متعې څخه د خیبر د غزا پر ورځ منعه وکړه او هم يې دکورنیو خرو د غوښو څخه منعه وکړه (دواړه يې په همدې ورځ باندې حرام وګروځول اونسخه يې کړه).

دوهم: سبرة بن معبد وايي، چې مونږ دنبي کریم (ص) سره (د مکې دفتحې په ورځ) ملګري وو، چې اعلان يې وکړ، چې: ای خلکو! ما خو تاسو ته د ښځو څخه په استمتاع کې اجازه کړې وه (چې د متعې په عقد کې يې شاملې کړئ) خو یقیناً الله(ج) دغه استمتاع د قیامت ورځې پورې حرامه وګرځوله؛ نو هر څوک، چې د نوموړو ښځو څخه څه شی لري (په عقد کې شاملوي) ((فلیخل سبیلها ولا تاخذوا مما اتیتموهن شیئا)) (صحیح مسلم ٤٥١/١) نو هغه دې خوشې کړي او څه مو چې ورکړي دي، د هغه څخه ترې هیڅ شی بېرته مه اخلی.

دریم: د عبدالله بن عباس رضی الله عنها څخه راوایت دی، چې متعه د اسلام په ابتداء کې رواج وه، چې سړی به کوم ښار ته ورغی او هلته به يې څه معرفت نه درلود؛ نو یوه ښځه به يې د دومره وخت دپاره په نکاح واخستله، چې هلته به يې د څومره وخت د اوسېداني نیت درلود، هغې به ورته د سامان حفاظت کاوه او د شیانو (مالونو) اصلاح به يې ورته کوله تردې، چې دا ایت شریف نازل شو، چې: (الا علی ازوجهم او ما ملکت ایمنهم)) [المؤمنون: ٦] یعنې مؤمنان هغه خلک دي، چې خپل عورتونه د بل هر ډول زنانه وو څخه ساتي؛ مګر دخپلو ماندینو څخه او یا د هغو

وینځو ځخه، چې دوی یې مالکان ګرځېدلي دي؛ نو نوموړی صحابي وایي ، چې ددغو دواړوځخه په غیر نورې ټولې ښځې حرامې دي (جامع الترمذي ۲۱۳/۱)

د اهل التشیع متعه ځکه په ذکر شوي آیت باندې حرامه شوه، چې په دغه کې یوازې دوه ډوله ښځې سړي ته حلالې شوې دي، چې یا د سړي وینځه وي اویا منکوحه وي.او ذکرشوې متعه نه وینځه ده او نه منکوحه، که منکرحه وي؛ نو د منکوحې لوازم به یې درلودی؛ لکه مېراث، نفقه او داسې نور.

ځلورم: امیرالمؤمنین عمر (رض) یوه ورځې د ډېرو صحابه وو کرامو په وړاندې د ممبر د پاسه د متعې د تحریم اعلان وکړ، یوه صحابي (ص) هم دده اعلان رد نه کړ او په سکوت سره یې ورباندې اجماع وکړه. که بالفرض دوی ته یې د اباحت نسخه ځرګنده نه وي؛ نو ضرور یوه نفر خو به پرې خپله خواشیني ښکاره کړې وی (تفسیر کبیر ۵۱/۱)؛ لکه چې د مهر د تقلیل په باره کې ورباندې یوې ښځې اعتراض وکړ او دستي د خپل نظر ځخه صرف نظر شو اوپه جهر سره یې وویلې، چې : ((اصابت امراة واخطا عمر)) (تفسیر القرطبي ۹۹/۵)

ښځه حق ته ورسېده ا و عمر خطا شو.

فلسطینی لیکوال؛ ډاکټر وحید القاسم د لنډ مهالي واده په باب په"در جستجوی حقیقت" کې لیکلي دي:
لنډ مهاله واده هماغه د متعې واده دی، چې:
"کومه ښځه چې له یوه نارینه سره په ټاکلي مهر، د ټاکلي وخت لپاره د نکاح په ټولو سمو شرایطو واده وکړي او دواړه لوري پر مهر او وخت له یوه خوله کېدو وروسته دا صیغه ووایي چې:
"زوجتک نفسي بمهر قدره (کذا) الی الاجل المعلوم"
او وخت یې ټاکلي، او نارینه یې په ځواب کې وایي:
""قبلت" او د نورو عقودو په څېر په دې عقد کې هم، د عقد له ګردو شرایطو سره د وکیل نیول جایز دي او په دې توګه ښځه او نارینه تر یوې ټاکلې مودې پورې د یو بل شرعي همسر کېږي او وخت یې غځولای او یا یې پر همېشني وخت اړولای شي او پر ښځه واجب دي، چې د وخت له پای ته رسېدو وروسته، عده وساتي او که ښځه داسې وي، چې حیض یې راځي؛ نوعده یې دوه حیضه دي او که حیض یې نه راځي، عده یې پینځه څلوېښت ورځې دي او د متعې اولاد، که زوی وي یا لور، له خپل پلار سره یوځای کېږي." [١]
اهل سنت دا ډول واده نه مني او پر شیعه وو نیوکه کوي، چې ولې یې پر جواز ګرهمن دي. اوس پوښتنه دا ده چې: شیعه وو دا واده له کومه ځایه راوړی؟ او ایا د دې واده په اړه، اجتهاد کړای شو، چې حلال یا حرام یې کړو؟ او له کتاب او سنتو یې دلایل څه دي؟ په ځواب کې وایو:
د بېلابېلو مذاهبو لاروي مسلمانان یو خوله دي، چې دا واده په صدر اسلام کې مشروع او جایز و. امام بخاري (رح) له ابن عباس (رض) څخه

**[١] امام شرف الدین الفصول المهمه، ٢٣ مخ.**

روایتوي چې: " له پیغمبر سره غزا ته تلو او ښځې مو را سره نه وې؛ نو انحضرت (ص) ته مو وویل: اجازه راکوې چې ځان خصیان کړو؟انحضرت ترې منع کړو او اجازه یې راکړه، چې له ښځو سره په جامو (!) واده وکړو او دا آیت یې ولوست: [یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُواْ لاَ تُحَرِّمُواْ طَیِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللّهُ لَکُمْ (مایده/۸۷) = مؤمنانو!خدای چې کوم پاك څیزونه درته حلال کړي ناروا مه شمېرئ ] [۱]
وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاء إِلاَّ مَا مَلَکَتْ أَیْمَانُکُمْ کِتَابَ اللّهِ عَلَیْکُمْ وَأُحِلَّ لَکُم مَّا وَرَاء ذَلِکُمْ أَن تَبْتَغُواْ بِأَمْوَالِکُم مُّحْصِنِینَ غَیْرَ مُسَافِحِینَ فَمَا اسْتَمْتَعْتُم بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِیضَةً وَلاَ جُنَاحَ عَلَیْکُمْ فِیمَا تَرَاضَیْتُم بِهِ مِن بَعْدِ الْفَرِیضَةِ إِنَّ اللّهَ کَانَ عَلِیماً حَکِیماً(نساء/۲۴) = او مېړونې ښځې (هم پر تاسې حرامې دي)؛ خو هغه چې (په اسارت کې) درته په لاس راغلې وي (؛ ځکه اسارت یې د طلاق په حکم دی) دا احکام دي، چې خدای تاسې ته ټاکلي دي، بې لدې (ویل شویو ښځو) نورې ښځې تاسې ته د خپلو مالونو په لاس ته راوړو روا شوي دي، پدې شرط چې پاکلمني یاست او له زنا ځان وساتئ اوکومې ښځې چې متعه (= لنډ مهالی واده) ورسره کوئ؛ نوفرض دي چې مهر یې ورکړئ او د مهر تر ټاکلو وروسته د هغه څه په باب پر تاسې هېڅ گناه نشته چې په اړه یې مو له یو بل سره توافق کړی دی (بیا کړای شئ چې په خوښه، وخت یا مهر کم یا زیات کړئ) بېشکه چې خدای پوه (او) حکیم دی.
دا آیت هم د همدې ډول واده د مشروعیت په اړه راغلی؛ ځکه د اهل سنتو اغلبو مفسرینو په آیت کې د "استمتاع" اصطلاح د "متعې نکاح" په

---

**[۱] ــ صحیح بخاري (۱۱۰/۲ مخ)، کتاب التفسیر، باب: قوله یا ایها الذین امنوا....**

مانا یاده کړې ده. ابن عباس، ابي بن کعب او سعید بن جبیر (رضی الله عنهم) دا آیت دغسې لوست: " فَمَا اسْتَمْتَعْتُم بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ ."[١]

ابن کثیر په خپل تفسیر (٤٦٨/١مخ) کې د دې مطلب د څرګندونې لپاره وایي: " دا ډېره لرې ده، چې دوی د قرآن په اړونې ګروهمن وسي؛ نو مراد يې تفسیر دی، نه لوستنه."

خو اسلامي ډلو د دې واده په غځولو کې اړپېچ یا اختلاف وکړ او رامنځ ته شوې ستونزه دا و، چې آیا د متعې نکاح حرمه ده که ایا پر خپل حلالوالي پاتې شوه؟

کوم حدیث چې همدا اوس راولو، بېشکه جوتوي چې رسول اکرم (ص) په داسې حال کې له نړۍ سترګې پټې کړې؛ چې نه يې د متعې نکاح حرامه کړه یا يې منع ترې وکړه.

حضرت عمر (رض) وایي: "د متعې آیت په کتاب الله کې دی او د رسول الله (ص) په زمانه کې مو کوله او قرآن بیخي حرامه نه کړه او سول الله (ص) تر مړینې منع نه کړه؛ خو یو تن يې په خپل اند په اړه څه وویل".[٢]

دا روایت راښیي، چې یو تن په دې واده کې، په خپل فکر اجتهاد کړی دی.

---

[١] صحیح مسلم د نووی له شرح سره (٥٥٢/٣مخ) او (١٧٩/٩ مخ) دارالشعب چاپ.

[٢] صحیح بخاري (٣٤/٢ مخ) ، کتاب التفسیر، باب: فمن تمتع بالعمره.

صحیح بخاري تېر روایت دغسې راوړي:عمران (رض) وايي: د رسول اکرم (ص) په زمانه کې مو تمتع کوله او د قرآن آیت هم نازل شو؛ خو یو تن په خپل فکر ځینې څېزونه وویل." [۱]

په "شرح البخاري علی صحیح البخاري" کتاب کې راغلي، چې له تنه مراد، خلیفه عمر بن خطاب[۲] دی او د مطلب د ټینګار لپاره مسلم په خپل صحیح کې له ابی نضره روایتوي چې:

" له جابر بن عبدالله سره و، چې یو تن راغی او ورته یې وویل: ابن عباس او ابن زبیر د متعتینو (د حج او ښځو متعې) په اړه اړپېچ وکړ، جابر وویل: د رسول اکرم په زمانه کې مو دواړه کولې، تردې چې عمر راغې او موږ یې منع کړو؛ بیا مو ونه کړې." [۳]

صحیح مسلم په خپل سند له عطا روایتوي:

"جابر بن عبدالله، عمرې ته راغلی و، کور ته یې ورغلواو دوستانو وپوښت بیا د متعې خبره رامنځ ته شوه؛ نو ویې ویل: هو، موږ د رسول اکرم، ابوبکر او عمر په زمانو کې متعه کوله". [٤]

مسلم له جابر بن عبدالله روایتوي چې: د رسول اکرم (ص) او ابوبکر په وختونو کې مو په یو موټي کجورو او غنمو متعه کوله، تر دې چې عمر، د عمرو بن حرث په پېښهٔ کې ترې منع کړو؟ "[۱]

---

[۱] **صحیح بخاري (۳۷۵/۲ مخ)، کتاب الحج**

[۲] شرح الباري علی صحیح البخاري (۱۷۷/۴مخ) + پر صحیح مسلم د نووي شرح (۳۲۴/۳ مخ) دارالشعب چاپ.

[۳] **صحیح مسلم (۵۵۲/۳مخ) کتاب النکاح، باب المتعه**

[۴] **صحیح مسلم (۵۵۵/۳ مخ) کتاب النکاح، باب المتعه**

د عمرو بن حرث کیسه: یوې نېستمنې ښځې یې ور وواهه، چې د ژغورنې لپاره ورته څه خواږه ورکړي؛ خو عمرو بن حریث د خوړو ورکړه په دې شط ورسره ومنله، چې د متعې واده ورسره وکړي او ادعا یې کوله، چې دا هماغه د متعې واده دی!! او ښځې له ناچارۍ ومنله او چې حضرت عمر (رض) خبر شو، سخت غوسه شو او بندیز یې عملي کړ او ان امر یې وکړ، چې څوک متعه وکړي، سنگسار به یې کړي!

مسلم په خپل صحیح کې له ابونضره روایتوي چې:"ابن عباس د متعې امر کاوه؛ خو ابن زبیر یې منع کوله، دا مې جابر ته وویل، جابر وویل: د رسول اکرم (ص) په زمانه کې مو تمتع کوله، چې عمر راغی، او ویې وویل: خدای خپل پېغمبر ته هر څه چې غواړي حلال کړي دي؛ نو حج او عمره پوره وکړئ خو له دې ښځو سره له واده (متعې واده) ځان ټینګ وساتئ او بیخي و نه وینم چې یو تن، کومه ښځه بل ته (د متعې) نکاح کړي، چې په دې چار به یې سنگسار کړم".[2]

په صحیح ترمذي کې له عبدالله بن عمره (رض) روایتوي، چې یو شامې ترې د ښځو د متعې په اړه وپوښتل، ورته یې وویل:حلاله ده. پوښتونکې وویل: پلار دې منع کړې ده. ابن عمر وویل: که پلار مې یو مطلب منع کړی وي، حال دا چې رسول اکرم (ص) حلال کړي وي؛ نو سنت پرېږدم او د پلار خبره مې ومنم."[3]

---

[1] **صحیح مسلم (۵۵۲/۳مخ) کتاب النکاح، باب المتعه**

[2] **صحیح مسلم (۳۳۱/۳ ) کتاب الحج، باب مذاهب العلما فی تحلل المعتمر المستمتع، دارالشعب چاپ.**

[3] **صحیح ترمذي (۱۸۵/۳ مخ)، ۸۲۴ گڼه حدیث.**

د اسلامي امت عالم عبدالله بن عباس (رض) په خپلې دې نظریې خورا مشهور و، چې د متعې آیت بیخي نسخ شوی نه دی. زمخشري په خپل کشاف تفسیر کې له ابن عباس روایتوي، چې " د متعې آیت له محکماتو دی" د مطلب د تینگار لپاره په صحیح بخاري کې له ابو حجره روایتوي چې: " وا مې ورېدل، چې ابن عباس د ښځو د متعې اجازه ورکوله.مولی ورته وویل: هرومرو به د سختو حالاتو لپاره وي، چې ښځې په لږکیو یا یې په ورته حالاتوکې وي.ابن عباس وویل: هو!"[1]
طبري او ثعلبي په خپلو تفاسیرو کې له حضرت علي (ک) روایتوي، چې: " که عمر متعه نکاح منع کړې نه وای؛ نو بې له بدمرغه به بل چا زنا نه کوله".[2]

د لمر په څېر دا دلایل څرگند دي، چې د متعې واده حلال دی؛ خو ډېری اهل سنت پرې اپوته عمل کوي او ادعا کوي، چې د متعې آیت نسخ شوی دی او د ناسخ په اړه یې هم اړپېچ لري، چې ځینې یې په نسخ کې یو "آیت" یادوي او ځینې یې د "سنتو روایات" ناسخ بولي او موږ دا دواړه نظریات د تېرو ثابتو او قطعي احادیثو له مخې ردوو؛ ځکه رسول اکرم له نړۍ ولاړ؛ خو متعه یې منع نه کړه؛ خو هغوی یې چې په نسخ کې د قرآن آیت راوړي وایي:
وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ. إِلاَّ عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ (مومنون/۵، ٦)

حال دا چې دا یو "مکي" آیت دی ا د متعې آیت "مدني" دی؛ یعنې د متعې د واده د مشروعیت حکم "مدني" دی او کله هم تېر، راتلونکی نه

---

**[1] صحیح بخاري (۳٦/۷مخ) کتاب النکاح**
**[2] طبري تفسیر (۹/۵ مخ)**

نسخوي!!هغه چې د پیغمبر (ص) سنت د آیت نسخوونکي بولي؛ نو پر کومو احادیثو چې د نسخ ادعا لري، یو له بل سره په پوره ټکر کې دي. ځینې وايي چې د متعې آیت په خیبر کې نسخ شوی، ځینې یې په اوطاس، د مکې په سوبې، په تبوک غزا، قضایي عمرې او یا په حجة الوداع کې بولي او دا په ټکر کې روایات پخپله یو ټینګ دلیل دی، چې روایات سم نه دي. پردې سربېره چې دا ګرد روایات، واحد خبر دی، چې بیخي قرآني نص (چې د مسلیمنو په اجماع مشروع پېژندل شوی) نسخولای نشي؛ ځکه د مسلمانانو اجماع ده، چې په واحد خبر نسخ نه کېږي او آیت یوازې په آیت نسخ کېدای شي؛ ځکه خدای وايي:
مَا نَنسَخْ مِنْ آيَةٍ أَوْ نُنسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَا أَوْ مِثْلِهَا أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللّهَ عَلَىَ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ(بقره/۱۰۶) = هر حکم چې منسوخوو (او تغییروو) او یا یې (نسخ) ځنډوو، ترهغه ښه او یا انډول راوړو ایا نهٔ پوهېږې چې الله پرهر څه قادر دی؟

دا ټول څرګند دلایل د متعې نکاح مشروعیت جوتوي او څرګندوي چې پیغمبر (ص) منع کړې نه ده او د حضرت عمر د خلافت تر وخته شتون او د حضرت عمر منع کول یې پاینه جوتوي؛ نو د دې ستونزې هواري ته یوازېنۍ لار دا ده، چې ووایو، حضرت عمر دهغې زمانې د مسلمانانو د مصلحت په پار اجتهاد وکړ او د ملي نه دیني قانون له اړخه یې د ټاکلي وخت لپاره نهې کړه، که نه د حضرت عمر له مقام سره خو دا نه ښايي، چې د خدای حلال، حرام کړي یا دا چې په دین کې، کوم حکم وردننه کړي، چې په دین پورې اړه نه لري؛ ځکه هغه پخپله پوهېږي، چې تر قیامته د محمد حلال، حلال دي او حرام یې حرام دي؛ نو له تحریم یې مراد زماني منع ده او ملي تحریم دی نه دیني او د متعې په نکاح کې یې

دا سختي هرومرو له هغه لومړني ډوله نه ده، که څۀ هم هغه په خپلو ګردو چارو کې په شدت مشهور و او که کوم اجتهاد یې هم کاوه؛ نو په خپل اند یې د اسلام مصلحت په پام کې نیوه.[1] او په احکامو کې د حضرت عمر د اجتهاد له بېلګو او پکې یې سخت ګیري، د تراویح لمونځ دی، چې مسلمانانو ته یې امر وکړ چې د رمضان میاشتې نوافل په جماعت وکړي، چې د حضرت ابوبکر (رض) او حضرت رسول اکرم (ص) په زمانو کې ځانته ځانته کېدل. بخاري په خپل سند له حضرت ابوهریره (رض) روایتوي چې: "رسول اکرم وویل: چې څوک په ایمان د رمضان میاشت په لمونځونو او دعا تېره کړي، خدای یې ټول تېر ګناهونه ښښي."

ابن شهاب وايي: "رسول الله (ص) له نړۍ ولاړ او خلک هماغسې و (چې د رمضان نوافل یې ځانته ځانته کول) او دا چار د حضرت ابوبکر په زمانه او تر یوه وخته د حضرت عمر (رض) په خلافت کې همدغسې و. نوموړې زیاتوي: نو د رمضان میاشتې پر یوه شپه له عمر بن خطاب سره جومات ته راغلو او وینو چې خلک جلا جلا ځانته لمونځونه کوي او ټول سره بېلابېل دي؛ نو حضرت عمر (رض) وویل: په نظر مې غوره ده دوی راټول کړو، چې په یوه تن پسې په جماعت لمونځ وکړي.

نو بله شپه ورسره جومات ته ولاړ او ومو لېدل چې لمونځکوونکي په امام پسې په جماعت لمونځ کوي. حضرت عمر وویل: د عجب یو ښه بدعت دی او هغه وخت چې خلک ویده کېږي، تردې وخته غوره دی او مطلب یې وروستۍ شپه و؛ ځکه خلکو د شپې له سره لمونځ کاوه."[2]

---

[1] علامه کاشف العظاء، اصل الشیعه و اصولها، ۱۰۱ مخ.

[2] صحیح بخاري (۱۲۶/۳ مخ) کتاب صلاة التراویح

او ان د تراویح لمانځه د رکعتونو په شمېر کې یې هم اجتهاد وکړ او شل رکعته یې کړې.حضرت عایشه ام المومنین وایي: "رسول اکرم (ص) په رمضان او نورو میاشتو کې تر (۱۱) رکعتونو ډېر (نفل) نه کول."[1]

په هر حال، لکه چې د حضرت عمر د زمانې ځینو معاصرینو او ترې وروسته ځینو حدیثپوهانو، د متعې واده په اړه د خلیفه نهې ولیده او پر علت یې پوه نشول؛ نو دا پرې سخته پرېوته چې حضرت عمر د خدای حلال، حرام کړي دي، نو له ناچارۍ یې د هواري لپاره ادعا وکړه، چې متعه مخکې و؛ خو پیغمبر منع کړه؛ نو ځکه وارخطا او په اړولو خبرو سر شول، بېلگه یې د صحیح بخاري لاندې روایت دی، چې په علي (ک) پورې یې تړلی دی:

"علي (رضی الله عنه) ته وویل شو: ابن عباس خو متعه ناوړه چارنه بولي.علي وویل: په رښتیا رسول اکرم د خیبر پر ورځ د متعې له واده او د کورنۍ خره د غوښې خوړل منع کړل.

او ځینې خلک وایي: که په تمتع کې ټگې وکړي نکاح یې باطله ده او ځینو ویلي: نکاح روا ده او شرط باطل دی."[2]

که دوی د متعې د نکاح څخه د حضر عمر د نهې پر علت پوهېدای نو پر دغسې پرېشانۍ او سردرد نه اخته کېدل.چې څه مو وویل له دیني او تاریخي اړخه مو د متعې نکاح وڅېړله اوس یې له اخلاقي او ټولینز اړخه څېړو.

بې شکه مشروعیت یې بش رته یوازې یوه لورنه ده، په تېره بیا هغو مسافرو ته، چې د علم، تجارت، کسب، جهاد یا اسلامي پولو د ساتنې

---

[1] **صحیح بخاري (۱۳۷/۲مخ) کتاب التهجد.**

[2] **صحیح بخاري کتاب الاکراه، باب: الحلیة فی النکاح**

لپاره وځي؛ نو ناچاره دي، چې له دايمي مېرمنو لرې شي او حال دا چې په ځوانۍ او د شهوت په لوړو څوکو کې دي؛ نو دوی ته دوه لارې دي: يا به صبر کوي او له نفس سره به مبارزه کوي، چې غالبا د سختيو لامل دی او شونې ده، چې پر اروايي ناروغيو او پر نه جبرانيدونکيو زيانونو اخته شي، يا دا چې زنا وکړي او نړۍ له مفاسدو او زيانونو تر خولې کړي.

او د همدې لامل له مخې يې د فارس خليج يو واعظ شيخ احمد قطان اړ کړ چې په فليپين کې عربي زده کړيالو ته فتوا ورکړي، چې لنډ مهاله نکاح روا ده؛ خو نوم يې ورته بدل کړی او د "اطلاق په نيت واده" يې نومولی دی او شرط يې دغسې ښوولی، چې مېړه به په خپل زړه کې د طلاق نيت کوي، بې له دې چې څوک يې له نيته خبر شي؛ نو دا د ميړه په نيت کې لنډ مهاله واده دی او د ښځې د پوهې او نيت له مخې دايمي واده دی او په دې توګه د مېړه په زړه کې نيولی وخت، چې پوره شي، خپله مېرمن طلاقوي.

د دې ډول واده مخترعين، چې له ښځې سره ټګي برګي کوي او هم له قرآن او سنتو هم کوم دليل نه لري؛ خو بيا هم په همدې پلمه خپله تشريع سمه بولي، حال دا چې زيان يې د زنا له مفاسدو لږ نه دی! په زړه پورې خو دا ده، چې له همدې شيخ څخه يې د لنډ مهالی واده او د ابن عباس د فتوا په اړه وپوښتل؛ نو دا ډول واده يې حرام وباله او پر ابن عباس يې دخپلې فتوا له امله نيوکه وکړه او ويې ويل: " که د پوهانو په تېروتنو پسې ولاړ شو؛ نو زنديق او له دينه وځو"!!

او په دې توګه يې د قطان په نظر په قرآن او سنتو کې د متعې د حلالې نکاح پر ځای د "طلاق په نيت د واده" بدعت رامنځ ته کړ.

أَتَسْتَبْدِلُونَ الَّذِي هُوَ أَدْنَى بِالَّذِي هُوَ خَيْرٌ
''څرنګه يو ټيټ څيز د غوره څيز ځايناستى کوئ''
و لا حول و لا قوة الا بالله

د هېواد نامتو عالم آیت الله شیخ محمد آصف محسني په "مسایل کابل" کتاب کې د لنډمهاله واده په باب پوښتنې داسې ځوابولي دي:

*پوښتنه: په شیعه مذهب کې د ښځو متعه یا لنډ مهاله نکاح روا ده او په دې باب ډېر بحثونه شوي که لږ نوره رڼا هم ورباندې واچوئ؛ نو ښه به وي.

(ځ )_ټول مسلمانان یوه خو له دي، چې متعه روا ده او د اهل سنتو په صحاحو او نورو کتابو کې په دې باب احادیث راغلي، د سني او شیعه اختلاف دهغی په "نسخ" او "بقا " کې دی؛ یعنې اهل سنت وایي چې متعه د رسول اکرم (ص) په وخت کې نسخ او منع شوې او فعلا یوازې "دایمي نکاح " روا ده او شیعه وایي، چې دا حکم نسخ شوی نه دی او تر قیامته روا دی اود اختلاف منشا هغه بېلابېل احادیث دي، چې په باب یې راغلي، هر یو د خپل نظر د ثبوت لپاره پر احادیثو استدلال کوي که له تعصب او تقلید لرې، د اهل سنتو په احادیثو کې علمي پلټنه او څېړنه وشي؛ نو څېړونکی پوهېږي، چې دا احادیث په دوه ډوله دي:

(الف )_یو شمېر احادیث وایي چې دا کلمه نسخ شوې نه ده

(ب )_بل شمېر وایي چې نسخ شوې ده.

ددې احادیثو پلویان یوه خو له نه دي، چې څه وخت نسخ شوې او په دې باب په خپلو کې اختلاف لري.دلته د مسلې د سپیناوي لپاره د صحیح مسلم یو شمېر احادیث را اخلم:

۱ _ عن سیره: اذن لنا رسول الله (ص) بالمتعه فا نطلقت اناور جل... ثم ان رسول الله (ص) قال:من کان عنده شي من هذه النسا یتمتع فلیخل سبیلها (مسلم صحیح، ۱۸٤/۹-۱۸۵)

رسول اکرم (ص) راته اجازه راکړه، چې متعه وکړو(راوي له یوې ښځې سره له متعې وروسته وایي) او بیا یې وویل:له هر چا سره چې د ښځو متعه وي، هغه دې پرېږدي.

له دې حدیثه نسخ نه معلومېږي او ممکن مطلب داوي چې له هغوی تېر شي (پاتې وخت وروبښي) چې مدینې ته روان یو.

۲ _ و عن الربیع بن سیره ان اباه عرامع رسول الله (ص) فتح مکه... فاذن لنارسول الله(ص) فی متعه النسا... فلم اخرج ان حرمها رسول الله (ص)؛ یعنې سیره وایي:رسول اکرم (ص) راته د مکې په فتح کې د متعې اجازه راکړه؛ خو لا راوتلي نه ول، چې حرامه یې کړه.

۳ _ عن سلمه رخص رسول الله (ص) عام او طاس فی المتعه ثلا ثاثم نهی عنها (مسلم، صحیح ۱۸٤/۹)

رسول اکرم (ص) د مکې په فتح کې درې شپې متعې ته اجازه ورکړه، بیا یې حرامه کړه.

په هر حال سلمه او سیره ادعا کوي، چې د مکې په فتح کې د متعې جواز نسخ شوی دی.

٤ _ عن علی بن ابی طالب ان رسول الله (ص) نهی عن متعه النساً یوم خیبر و عن اکل الحمر الانسیه (۱۸۹/۹)

رسول اکرم (ص) د خیبر پر ورځ له متعې او د کورني خره د غوښې له خوړو منع وکړه.

دلته وګورئ چې له علي روایت شوی حدیث د سلمه او سیره له روایت شوي حدیثه توپیر لري او په تناقض کې دي، چې پر متناقضو احادیثو دلیل نیول کېدای نه شي.

۵ _ عن ابی نفره قال کنت عند جابر بن عبدالله فاتاه ات فقال ان ابن عباس و ابن الزبیر اختلفا في المتعتین فقال جابر فعلنا هما مع رسول الله (ص) ثم نهانا عمر فلم نعد لهما **(۲۳۳/۹)**

چا جابر ته وویل، چې عبدالله بن عباس او عبدالله بن زبیر د دوو متعو (د حج متعه او د ښځو متعه) په باب اختلاف درلود، جابر وویل، موږ دا دواړه د رسول الله (ص) په وخت کې کولې، بیا ترې عمر (رض) منع کړو او دواړه مو پرېښوولې.

د جابرله وینا معلومېږي، چې د متعې جواز نسخ شوی نه و، د لومړي خلیفه په وخت کې پر هماغه خپل حال و، تردې چې دویم خلیفه منع کړه.

٦ _ عن قیس قال سمعت عبدالله یقول کنا نغزو مع رسول الله (ص) لیس لنا نساء فقلنا الانستخصی فنهانا عن ذلك ثم رخص لنا ان ننکح المراه بالثوب الی احل ثم قرء عبدالله یا ایهاالذین امنوا لاتحرموا طیبات ما احل الله لکم و لاتعتدوا ان الله لا یحب المعتدین (۱۸۲/۹، صحیح مسلم).

حضرت عبدالله بن مسعود (رض) وایي: موږ له رسول اکرم (ص) سره جهاد کاوه او ښځې راسره نه وې، ورته مو وویل چې ځان خصیه کړو؟ آنحضرت (ص) راته وویل چې نه بیا یې راته اجازه راکړه چې د جامو په بدل کې تر یو وخته ښځې نکاح کړئ، بیا عبدالله پورته آیت ولوست: چې مؤمنانو!خدای چې درته کومې پاکې حلالې کړي، پر ځان یې مه حراموئ؟...

د دې آیت له لوستو د عبدالله موخه دا وه، چې متعه حرامه نه ده او روا ده او له دې ځایه د متعې حلیت ثابت دی.

٧ _ عن عطاء قدم جابر بن عبدالله معتمرا فجئنا في منز له فساله القوم عن اشياء ثم ذكرو المتعه فقال نعم استمتعنا على عهد رسول الله (ص) و ابى بكر و عمر (١٨٣/٩ مسلم)

جابر(رض) وايي چې د رسول اكرم (ص) ابوبكر او عمر (رضى الله عنهما) په وختو كې مو متعه كوله.

٨ _ عن عمران بن حصين انزلت ايه المتعه في كتاب الله ففعلناها مع رسول الله (ص) ولم ينزل قرآن يحرمه ولم ينه عنها ان مات قال رجل برايه ما شاء (صحيح البخاري ٤٢٤٦ ګڼه حديث)

د متعى آيت په قرآن كې نازل شوى دى او موږ له رسول كريم (ص) سره پرې عمل كړى، نه قرآن حرامه كړې او نه ترې رسول اكرم (ص) منع كړي يو، يو سړى چې له ځانه يې څه غوښتل ويې وويل (په دې باب د عمران په حديث كې بحث شوى)

په هر حال عبدالله بن مسعود، جابر بن عبدالله، عبدالله بن عباس او عمران (رضى الله عنهم) د متعې جواز نامنسوخ ګڼلى؛ خو يوازې جابر د دويم خليفه د منع له امله پرېښې وه او هغه روايت چې علي عليه السلام ته منسوب دى؛ نو په رښتيا چې تېروتنه ده؛ ځكه د علي او اولادې نظر خوښ‌ګند دى.

ابن جريح (د اهل سنتو يو عالم) له فكري او عملي پلوه د متعې پر جواز ګروهمن و.

د اهل بيتو ټولو امامانو د متعې جواز تلپاتې او نامنسوخ ګڼلى او شيعه فقه همداسې ده او زما مطلب د اهل سنتو د نظر بطلان او ردول نه دي؛ بلكې دهغو دلايلو راوړل دي، چې په شيعه فقه كې متعه جواز لري او ما له دې امله، چې خبره اوږده نه شي پر احاديثو لنډ شان وينه (بحث) وكړه،

ځکه په فقهي دلایلو ځوك ښه نه پوهېږي؛ خو بیا هم په خواشینۍ سره وایم چې په دې باب یوې نازکې موضوع ته اشاره وکړم:زه د دلایلو له مخې ډاډه یم، چې متعه د رسول اکرم (ص) له اړخ منع شوې نه ده او یوازې دویم خلیفه (رض) منع کړې، چې دا منع بیا د اهل سنتو د فقهي مذاهبو د تحریم منشا ګرځېدلې ده.

اوس پوښتنه کېږي چې ایا خلیفه دغسې حق لري او که نه، ایا منع یې له شریعته مخالفه ده؟ او ولې پرې اصحابو او فقهاوو نیوکه ونه کړه؟ایا شیعه د خلیفه دا منع باطله ګڼي او یا ان حرامه بولي؟

په ځواب کې وایو، لازمه نه ده، چې د خلیفه منع باطله یا حرامه وبولو او یا د تور ټکي وکاروو، دا غیر علمي او احساساتي خبرې به یوې خواته کړو او مسله د هواري مناسبه لار لري، که منطق ته غوږ کېږدو؛ نو د سني او شیعه ترمنځ هېڅ ډول بدګڅي او دښمني منځ ته نه راځي؛ بلکې مینه او محبت پیدا کېږي موږ وایو:

۱ _متعه روا ده او زموږ له نظره د نسخ دلایل یې قوي نه دي.

۲ _ له رسول اکرم (ص) وروسته خلفای راشدین او د مذاهبو خاوندان او بله کومه مرجع الهي احکام نسخ کولای نه شي.

۳ _ د " ما انزل الله " پر خلاف فتوا ورکول باطل او حرام دي.

٤ _ د مسلمانانو خلیفه د مصلحتونو له امله ځینې مباحات د لنډ وخت لپاره لازم یا منع کوي.ټول حکومتونه دغسې لنډمهالي احکام لري او ځوك پرې نیوکه نه شي کړای، اسلامي واکمن کړای شي مثلا فلاني هیواد ته به سفر نه کوئ سره له دې چې سفر درته روا وي.جومات ته تلل مستحب دي؛ خو اسلامي مشر د ځینو ملحوظاتو له امله کړای شي،

چې ورتلل ورته د لنډ وخت لپاره واجب او لازم وګرځوي او همداراز نور اختيارات چې ممکن د ټولو اسلامي مذاهبو ترمنځ پرې اتفاق وي.
هو، "فتوی" له "حکمه" توپير لري.
له يو اسلامي ټوليز (کلي) حکمه د يو مجتهد پوهېدنې او خبر ته " فتوی" وايي. او "حکم" خبر او پوهېدنه نه؛ بلکې موقّتي (او لنډ مهاله) انشا ده، لاندې حديث ته پام وکړئ:
سنن ابي داوود ۱۸٤/۲ مخ:عن ابي الطفيل قلت لابن العباس يزعم قومك ان رسول الله (ص) قدر مل بالبيت و ان ذلك سنه، قال صدقوا وکذبوا... صدقوا قدرمل رسول الله (ص) و کذبوا ليس بسنه ان قريشا قالت زمن الحديبيه: دعوا محمدا و اصحابه ان يموت موت العنف... فقال رسول الله (ص) ارملوا بالبيت ثلاثا...
د ابن عباس له حديثه معلومېږي، چې ان د رسول اکرم (ص) اوامرو ځينې وخت موقتي حکم او کله يې د دايمي شرعي احکامو حکم درلود په هر حال شرعي حاکم دغسې موقت احکام صادرولای شي؛ خو دايمي به نه وي او د حالاتو له بدلون او تغيير سره به له منځه ځي؛ ځکه پر خليفه (رض) د منع نيوکه نه شي کېدای او زموږ نيوکه پر فقهاوو ده، چې له دې منع يې داسې ځانونه پوه کړي، چې ګويا دا تلپاتې منع ده؛ خو بايد ووايم چې دا ډول علمي اختلاف نه ښايي، چې د اسلامي عالمانو ترمنځ د درز اوبې اتفاقۍ لامل وګرځي، ځکه دا يو معمولي او عادي کار دی والله الموفق.
[څېړونکی: دويم خليفه (رض) ولې متعه منعې کړه؟
فلسطيني. ليکوال ډاکتر اسعد وحيدالقاسم (در جستجوی حقيقت ۲۲۱ مخ) ليکي:((يوې نېستمنې او وږې ښځې د عمرو بن حريث د کور ور

ټك ټك كړ، چې وږې يم او مړه مې كړئ.د كور خاوند ورته وويل په دې شرط دې مړوم، چې متعه راسره وكړې او دا هماغه لنډمهاله نكاح ده.ښځې له ناچارئ ورسره ومنله، دويم خليفه(رض) چې خبر شو؛ نو ډېر پر غوسه شو او متعه يې منع كړه، ان امر يې وكړ څوك چې متعه وكړي؛ نو سنگسار به يې كړي.))

د همدې كتاب ۲۲٤-۲۲۵ مخونه:((دويم خليفه(رض) په هغه وخت كې د مسلمانانو د مصلحت لپاره اجتهاد وكړ او د يو ټاكلي وخت لپاره يې متعه منع كړه، چې دې ته حكومتي قانون وايو نه ديني؛ ځكه د حضرت عمر (رض) له مقامه لرې ده، چې د خداى حلال، حرام كړي يا دا چې په دين كې يو حكم نباسي، چې له دين سره هيڅ تړاو نه لري؛ ځكه پوهېده، چې د حضرت محمد (ص) حلال تر قيامته پورې حلال او حرام يې تر قيامته حرام دي؛ نو په غوڅه توگه وايو چې د عمر (رض) منع، زماني منع وه او د هماغو شرايطو په پام كې نيوو سره حكومتي تحريم و، نه ديني.]

۱-د خلفاوو په سرچینو کې د ښځو متعه؛ یا لنډ مهاله واده
په قرطبي تفسير کې وايي: ((تېر او اوسني عالمان يوه خوله دي، چې متعه؛ هغه واده دی، چې ميراث نه لري او بېلښت يې بې له طلاقه او د ټاکلې مودې په پای کې دی.))
ابن عطيه وايي: ((متعه [لنډ مهاله واده] هغه دی، چې نارينه، ښځه د دوو شاهدانو او د هغې د پالندوی په اجازه تر يوې ټاکلې مودې پورې په ښځې توب ونيسي. په دې شرط، چې يو له بله ميراث نه وړي او نارينه به هغه مهر ورکوي، چې دواړو پرې جوړ جاړی کړی دی او چې کله ټاکلی وخت راورسېد؛ نو پر ښځې د نارينه کوم حق نشته؛ خو دا چې د مياشتينۍ تر راتلو او د ذيلانځ د پاکېدو پورې عدت وساتي-ځکه بېشکه [احتمالي] اولاد [په دواړو پورې] اړه لري-او د عدت تر ساتنې وروسته او پر نه دوه ځانيتوب يقين، واده يې له بل نارينه سره جايز دی))(۲) په صحيح بخاري کې له رسول اکرم روايتوي، چې:
((هر نارينه او ښځه [چې پر لنډمهالي واده] توافق وکړي، لنډمهاله ژوند يې دوه تر درې شپو دوام مومي، تر هغې وروسته که يې خوښه وه، پرې يې زياتوي يا يو له بله بېلېږي.))(۳)
د ابن شيبه په ((مصنف)) کې له جابره روايتوي، چې يې وويل: ((که ټاکلې موده پای ته ورسي او وغواړي، بيا يې له سره ونيسي؛ نو بايد ښځې ته نور مهر ورکړي.))
وپوښتل شو: ((د ښځې د عدت وخت څومره دی؟)) ويې ويل: ((د يو حيض هومره، چې بايد خپل مېړه ته يې وساتي))(٤)

په طبري تفسير کې له اسدي، آيت داسې روايتوي چې: ((فما استمتعتم به منهن-الى اجل مسمى-فاتوهن...))
وايي: ((دا متعه داسې ده، چې نارينه او ښځه د دوو شاهدانو او د ښځې د پالندوی په اجازه د ټاکلي وخت پورې واده کوي او چې موده پای ته ورسي، نارينه پر ښځې څه حق نه لري او ښځه ازاده ده او يوازې خپل ذيلانځ بايد پاک کړي [عدت پوره کړي] او يو له بله ميراث نه وړي))(٥)
زمخشري په کشاف تفسير کې وايي: ويل شوي: ((دا آيت:[فما استمتعتم به منهن...] د درې ورځېني لنډمهاله واده په اړه نازل شوی او حکم يې تر هغه وخت پاتې و، چې خدای مکه د خپل استازي (ص) پر مخ پرانسته [د مکې سوبه] او بيا ((نسخ)) شوه او هغه داسې وه، چې نارينه، ښځه د يوې ټاکلې مودې پورې، يوه شپه، دوه شپې يا يوه اونۍ د جامو يا بل څيز په ورکړې (مهر) ځانته نکاح کوله او خپل خوند يې ترې اخسته او ازاده يې پرېښووه. نوم ته يې ځکه متعه ((گټنه)) وايي، چې نارينه له ښځې ((خوند)) اخستی يا ښځه له نارينه ((مهر)) اخلي))(٦)
دا و، د خلفاوو د ښوونځي په سرچينو کې د لنډمهاله واده تعريف او په ((اماميه فقه)) کې يې تعريف داسې دی:

٢-په اماميه فقه کې لنډمهاله واده:
د ښځو متعه يا لنډمهاله واده دا دی، چې ښځه، پخپله يا د خپل وکيل له لارې، ځان د ټاکلې مودې لپاره په ټاکلي مهر له داسې سړي سره واده وکړي، چې ترمنځ يې د شرعي واده خنډ او مانع نه وي-شرعي خنډ لکه: نسبي، سببی يا شيدني خپلوي يا عدت يا مېړه درلودل-او چې کله ټاکلی

وخت پای ته ورسي، یا میړه ښځې ته پاتې موده وبښي، له نارینه بېلېږي او که کوروالی شوی وي، ښځه باید د دوه میاشتني هوړمه عدت وساتي او که ښځه داسې وي، چې میاشتنۍ نه لري او شنډه شوې نه وي، باید پینځه څلوېښت ورځې صبر وکړي او که کوروالی شوی نه وي؛ نو تر کوروالي مخکې د مطلقه ښځې په څېر ده او د عدت ساتنه پرې لازمه نه ده. د لنډمهالي واده اولاد، په ټولو شرعي احکامو کې، د همېشني واده د اولاد حکم لري.(٧)

٣-په کتاب الله کې لنډمهاله واده

خدای پاک وایي: ((وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاء إِلاَّ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ كِتَابَ اللّهِ عَلَيْكُمْ وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَاء ذَلِكُمْ أَن تَبْتَغُواْ بِأَمْوَالِكُم مُّحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَافِحِينَ فَمَا اسْتَمْتَعْتُم بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً وَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَاضَيْتُم بِهِ مِن بَعْدِ الْفَرِيضَةِ إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا (نساء/٢٤)= او مېروښې ښځې (هم پر تاسې حرامې دي)؛ خو هغه چې (په اسارت کې) درته په لاس راغلې وي (؛ ځکه اسارت یې د طلاق په حکم دی) دا احکام دي، چې خدای درته ټاکلي دي، بې له دې (ویل شویو ښځو) نورې ښځې تاسې ته د خپلو مالونو په لاس ته راوړو روا شوي دي، په دې شرط چې پاکلمني یاست او له زنا ځان وساتئ او کومې ښځې، چې متعه (= لنډ مهالی واده) ورسره کوئ؛ نو فرض دي، چې مهر یې ورکړئ او د مهر تر ټاکلو وروسته د هغه څه په باب پر تاسې هېڅ گناه نشته، چې په اړه یې مو یو له بل سره توافق کړی دی (بیا کړای شئ په خوښه، وخت یا مهر کم یا زیات کړئ) بېشکه خدای پوه (او) حکیم دی.))

*د خلفاوو په ښوونځي کې د دې آیت تفسیر:

۱. عبدالرزاق په خپل مصنف کې له عطا روایتوي، چې یې وویل: ((ابن عباس دا آیت دغسې لوستی او تفسیر کړی دی: فما استمتعتم به منهن -الی اجل مسمی- فاتوهن اجورهن...؛ او له ښځو مو، چې تر ټاکلې مودې خوند واخست، واجب مهر یې ورکړئ.))(۸)

۲. په طبري تفسیر کې له حبیب بن ابي ثابت روایتوي، چې یې وویل: ((ابن عباس یو ((مصحف)) راکړ و یې ویل: دا قرآن د اُبی د لوست [او تفسیر] پر بنسټ دی. وایي: ددې آیت تفسیر پکې داسې و: فما استمتعتم به منهن -الی اجل مسمی-....؛))(۹)

۳. او همداراز په طبري تفسیر کې له ابی نضرة له دوو لارو روایتوي، چې یې وویل: ((له ابن عباسه مې د ((ښځو د متعې)) په اړه وپوښتل، ویې ویل: مگر د نساء سورت دې لوستی نه دی؟ ومې ویل:لوستی مې دی، ویې ویل:د ((فما استمتعتم به منهن -الی اجل مسمی-)) آیت دې پکې لوستی نه دی؟ومې ویل:که هغه په دې ډول لوستی او زده کړی وای، له تا مې نه پوښتل: ویې ویل:[چې څه مې وویل] هماغسې ده.))

٤. او همدا راز ابی نضره روایتوي، چې یې وویل: ((دا آیت مې ابن عباس ته ولوست ((فما استمتعتم به منهن)) ابن عباس وویل:-الی اجل مسمی-تر ټاکلې مودې پورې))

وایي: ((ومې ویل: ما دغسې لوستی نه دی او نه پرې پوه شوی یم. و یې ویل: پر خدای قسم، چې هغه آیت خدای دغسې نازل کړی دی او دا خبره یې درې ځل وویله.))

*د روایت څرگندنه:

د حضرت ابن عباس خبره، چې وايي: ((دا ډول يې نازل کړی))؛ يعنې د دې آيت له نازلېدو، د خدای مطلب د ((ښځو د متعې)) د حکم بيانول او معنا وه. هو! په قرآني لفظ کې د ((الی اجل مسمی)) غونډله راغلې نه ده؛ خو خدای په غير قرآني وحې، خپل استازی له دې حکمه خبر کړ او آنحضرت، هغه اصحابو ته ووايه او د ابی بن کعب او ابن عباس په څېر اصحابو، په خپلو مصاحفو کې تر دې آيت لاندې وکښه او د دې راوي په څېر او هغوی چې د حضرت عمر د تحريم له اغېزه د دې حکم په اړه شکمن شوي ول، بيان کړي او ډېنګار يې پرې کاوه.

۵. له عمير او ابی اسحاقه روايتوي، چې ابن عباس دا آيت داسې لوستی او تفسير کړی: فما استمتعتم به منهن-الی اجل مسمی....

٦. له مجاهده روايتوي، چې يې ويل: فما استمتعتم به منهن؛ يعنې لنډمهاله نکاح [لنډمهاله واده]

۷. له عمرو بن مرة روايتوي، چې له سعيدبن جبير يې د آيت لوست (او تفسير داسې)) اورېدلی دی:

((فما استمتعتم به منهن-الی اجل مسمی-

۸. حضرت قتادة وايي: آيت د ابی بن کعب په لوست (او تفسير) کې داسې و: ((فما استمتعتم به منهن-الی اجل مسمی))

۹. له شعبة بن حکم روايتوي، چې يې ويل: و مې پوښتل، ايا دا آيت منسوخ شوی دی؟ويې ويل: نه! (١٠)

١٠. د جصاص په احکام القرآن کې هم له حضرت ابن عباس، د ابی نضرة او ابی ثابت او د ابن کعب د لوست حديث راغلی دی (١١)

١١. بيهقي په خپل ((سنن کبرا)) کې له محمدبن کعبه روايتوي، چې ابن عباس وويل: ((متعه، لنډمهاله واده)) د اسلام له لومړيو وختونو و او

مسلمانانو دا آیت دغسې لوسته (او تفسیراوه):فما....-الی اجل مسمی-(۱۲)

۱۲. نووي د صحیح په شرح کې وايي: آیت د ابن مسعود په لوست او تفسیر کې داسې دی: فما ا....-الی اجل مسمی-(۱۳)

۱۳. زمخشري په خپل تفسیر کشاف کې وايي:

له ابن عباس څخه يې روايت کړی، چې يې وويل: ((دا له محکمو آيتونو څنې يو آيت دی))؛ يعنې نسخ شوی نه دی او پخپله يې همېشه دا آیت داسې لوسته (او تفسیراه):فماا....الی اجل مسمی-(۱٤)

۱٤. قرطبي وايي: جمهور عالمان وايي: له دې آيته مطلب، لنډمهاله واده دی، چې په صدر اسلام کې و او ابن عباس، ابی بن کعب او ابن جبیر آیت داسې لوستی (او تفسیر) کړی دی: فما استمتعتم به منهن-الی اجل مسمی-فاتوهن اجورهن (۱۵)

۱۵. د ابن کثیر په تفسیر کې راغلي چې: ابن عباس، ابی بن کعب، سعیدبن جبیر او سدي، آیت دغسې لوستی (او تفسیر) کړی دی:
فما استمتعتم به منهن-الی اجل مسمی-فاتوهن اجورهن فریضة (۱٦)

۱٦. دسیوطي په تفسیر کې هم راغلي:

د ابی ثابت او ابی نضرة حدیث او د ابی بن کعب له لوست (او تفسیره) د قتادة او سعیدبن جبیر راویت، او له ابن عباسه د مجاهدسدي او عطا حدیث او د حکم حدیث، چې وايي: آیت نسخ شوی نه دی او له ابن عباسه د عطا روایت چې وايي: د متعې د حلال والي حکم د نساء سورت په ((فما استمتعتم به....)) آیت کې دی، چې وايي: ((له کومو ښځو سره مو، چې د ټاکلې مودې لپاره په ټاکلي مهر نکاح کړې او خوند مو ترې اخستی، د هغوی ټاکل شوی مهر ورکړئ)) وايي: ((یو له

بله میراث نه وړي، که يې خوښه شوه، چې يې تر ټاکلې مودې وروسته وغځوي، ډېر ښه او که بېل شي، هغه هم ښه دي...)) (١٧)
مؤلف وايي: داچې څه مو ولوستل، د آيت په تفسير کې د مفسرانو تفسيرو، چې ابن عباس، ابی بن کعب، سعيدبن جبير، مجاهد، قتادة او نورو (١٨) آيت دغسې لوستی (او تفسير) کړی دی:
فما استمتعتم به منهن-الی اجل مسمی-يعنې:-لکه-ابی بن کعب، چې آيت دغسې لوستی او تفسير کړی، مطلب يې دا دی، چې دا تفسير يې له رسول اکرم اورېدلی دی او رسول اکرم د ((الی اجل مسمی=تر ټاکلي وخته)) غونډلې په ويلو آيت تفسير کړی دی.

٤. په سنتو کې لنډمهالی واده
(الف) د صحيح مسلم، صحيح بخاري، د عبدالرزاق او ابن ابی شيبه په مصانيفو کې، د امام احمد په مسند او د بيهقي په سننو او په نورو کې په ((نکاح المتعة)) باب کې، له حضرت عبدالله بن مسعود (رض) څخه روايتوي، چې يې وويل: ((ما له رسول اکرم سره غزا کوله او ښځې مو نه درلودې، ومو ويل: ايا غوره نه ده، چې ځانونه خسي کړو؟ پيغمبراکرم له دې چار منع کړو. بيا يې اجازه راکړه، چې د مهر (جامو او په څېر يې) په ورکړې له ښځو سره لنډمهاله واده وکړو)) وروسته عبدالله دا آيت ولوست:
((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تُحَرِّمُواْ طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللّهُ لَكُمْ وَلاَ تَعْتَدُواْ إِنَّ اللّهَ لاَ يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ (مائده/٨٧)= مؤمنانو!خدای چې کوم پاك څيزونه درته حلال کړي، ناروا مه شمېرئ او له بريده مه اوړئ؛ (ځکه) خدای تېري کوونکي نه خوښوي.)) (١٨)

(ب) په صحیح بخاري، صحیح مسلم او د عبدالرزاق په مصنف کې له حضرت جابر بن عبدالله او مسلمة بن اکوع روایتوي، چې یې ویلي دي: ((د رسول اکرم جارچي راغی، و یې ویل: ((پېغمبر اجازه درکړه، چې له ښځو سره لنډمهالی واده وکړئ.)) (۱۹)

(ج) په صحیح مسلم، د امام احمد په مسند او د بیهقي په سننو کې له سبره جهني روایتوي، چې یې وویل: ((رسول اکرم د لنډمهالي واده اجازه راکړه. زه او یو بل تن د بني عامر ټبر یوې ښځې ته په مارکه ولاړو، چې ښه تنومنه وه او هسکه غاړه یې درلوده، ویې پوښتل څه مهر راکوئ؟ما وویل: څادر مې او ملګري مې هم وویل: څادر مې. د ملګري څادر مې تر ما غوره و؛ خو زه ترې ځوان وم، هغه څادر ته یې، چې وکتل خوښ یې شو او چې ما ته یې وکتل، زه یې خوښ شوم و یې ویل: ته او څادر دې راته بس یاست. له هغې سره مې لنډمهاله واده وکړ او درې ورځې ورسره وم، چې رسول اکرم وویل: ((چا چې له دې ښځو سره لنډمهاله واده کړې وي، هغوی دې ازادې پرېږدي.)) (۲۰)

(د) د طیالسي په مسند کې له مسلم قریشي روایتوي، چې یې وویل: ((د حضرت ابوبکر له لور اسما بي بي کره ولاړو او د لنډمهاله واده په اړه مو وپوښتله، راته یې وویل: ((د رسول اکرم پر مهال مو کاوه.)) (۲۱)

(ه) د امام احمد په مسند او نوروکې له حضرت ابن سعیدخدري روایتوي، چې یې وویل: ((موږ د رسول اکرم په وخت کې لنډمهاله واده کاوه او مهر یې جامې وې.)) (۲۲)

(و) د عبدالرزاق په مصنف کې دي، چې: ((له موږ به ځینو د اوړو په ډکه کاسه متعه کوله.)) (۲۳)

(ز) په صحیح مسلم، د امام احمد په مسند او نورو کې له عطا روایتوي، چې یې وویل: حضرت جابر بن عبدالله د عمرې لپاره مکې ته راغی او موږ یې لیدو ته ورغلو، خلکو ترې مسایل پوښتل او خبره ((متعې)) ته راورسېده. حضرت جابر وویل: ((هو! موږ د رسول اکرم، ابي بکر او عمر په وختونو کې لنډمهاله ودونه کول.)) (٢٤)
او د امام احمد په مسند کې وروسته ترې وایي: ((او دا چار د عمر د خلافت تر وروستیو پورې و))
او په بدایة المجتهد کې وایي: ((دا چار د عمر د خلافت تر نیمایي پورې و، بیا عمر ترې خلک منع کړل.)) (٢٥)

٥. د خلافت په وروستیو کې له لنډمهاله واده د حضرت عمر د مخنیوي علت :

په صحیح مسلم، د عبدالرزاق په مصنف، د امام احمد په مسند، د بیهقي په سننو او نورو کې له حضرت جابر بن عبدالله روایتوي، چې یې وویل: ((د رسول اکرم او حضرت ابوبکر په ټول پیر کې یو مقدار اوړه او کجورې مو مهر ورکولې او ((لنډمهاله)) مو کاوه؛ خو حضرت عمر د عمروبن حریث د کړنې له امله منع کړ.)) (٢٦)
د ابن ابي شیبه په مصنف کې له عطاء له بن جابره روایتوي، چې یې وویل: ((موږ د رسول اکرم، حضرت ابوبکر او حضرت عمر په وختونو کې ((لنډمهاله واده)) کاوه، تردې چې د عمر د خلافت په وروستیو کې، عمروبن حریث له یوې ښځې سره ((لنډمهاله واده)) وکړ-راوي وایي:جابر د ښځې نوم واخست؛ خو هېر کړی مې دی-ښځه دوه ځانې شوه او حضرت عمر پرې خبر شو. راو یې غوښته او و یې پوښتله، چې

سمه ده؟ویې وویل:هو! حضرت عمر وویل: څوک شاهد و؟-عطاء وايي: نه پوهېږم، چې ښځې وویل: مور یا ولي مې. حضرت عمر ډارېده، چې څه چل ول نه وي، ویې وویل:ولې بې له دوی نه ول.)) (٢٧)
په بل روایت کې حضرت جابر وايي: ((عمروبن حریث له کوفې څخه مدینې ته راغی او له یوې ازادې شوې وینځې سره یې ((لنډمهاله واده)) وکړ. وینځه، چې دوه ځانې شوې وه، حضرت عمر ته یې راوسته، کیسه یې ترې وپوښتله، ورته یې وویل: عمروبن حریث راسره ((لنډمهاله واده)) کړی و. حضرت، عمروبن حریث هم وپوښته او هغه هم په څرګنده تایید کړه.حضرت عمر وویل: ولې دې، بې له هغې نه نیوه؟-او دا هغه مهال و، چې حضرت عمر ((لنډمهاله واده)) منع کړی و)) (٢٨)
په بل روایت کې له محمدبن اسود بن خلف روایتوي، چې یې وویل: ((عمرو بن حوشب د بني عامر بن لؤی د ټبر له یوې پېغلې سره ((لنډمهاله واده)) وکړ. پیغله دوه ځانې شوه او حضرت عمر خبر شو. حضرت عمر ترې سپیناوی وغوښت او هغې وویل: عمروبن حوشب ورسره لنډمهاله واده کړی دی. کیسه یې له عمرو وپوښتله او هغه تایید کړه. حضرت عمر وویل: شاهد دې څوک و؟-راوي وايي: نه پوهېږم. ویې ویل: مور یا خور یا ورور یا پلار یې-حضرت راپاڅېد او پر منبر کېناست، و یې ویل: ((پر نارینه و څه شوي، چې ((لنډمهاله واده)) کوي او عادل ګواه پرې نه نیسي او هغه نه ښکاره کوي[...]؛ خو دا چې حد پرې جاري کړم.))
راوي وايي: د حضرت عمر دا خبره هغه چا راته وکړه، چې له منبر سره ناست و او پخپله یې اورېدلې وه. وايي: خلکو هم ورسره ومنله)) (٢٩)

په کنزالعمال کې د ابي خیثمة له لور ام عبدالله روایتوي، چې: ((له شامه یو نارینه راغی او په کور کې یې هستوګن شو، و یې ویل: بې ښځې توب راباندې سخت تېرېږي، یوه ښځه راته پیدا کړه، چې ((لنډمهاله واده)) ورسره وکړم)) ((یوه ښځه مې ورته وښووله، مهر یې وټاکه او عادل وګړي یې پرې شاهدان کړل. تر دې وروسته د خدای تر خوښې یې له ښځې سره ژوند وکړ، بیا له مدینې-ووت)) حضرت عمر له دې پېښې خبر شو، زه یې راوغوښتم او ویې پوښتل: ایا چې څه وایي، سمه ده؟ و مې ویل:هو! ویې ویل: چې سړی راستون شو؛ نو خبر مې کړه، چې راغی، حضرت عمر مې خبر کړ. څوک یې ورپسې ولېږه او ورته یې وویل:څه څیز دې چار ته اړ کړې؟سړي وویل: زه، چې له رسول اکرم سره هم وم، دا چار مې کاوه او آنحضرت (ص) چې ژوندی و، زه یې منع نه کړم. ورپسې د حضرت ابوبکر په پېر کې هم وغوځېده او چې ژوندی و، منع یې ترې نه کړو. بیا ستا په زمانه کې له هغه نهې راته څرګنده شوې نه ده. حضرت عمر وویل: ((باخبر! پر هغه قسم، چې ساه مې د هغه په واک کې ده، که تردې مخکې مې منع کړی وې؛ نو اوس مې سنګسارولې. یو له بله بیل شئ، چې ((نکاح)) او واده له ((سناح)) او زنا وپېژندل شي.)) (۳۰)

د عبدالرزاق په ((مصنف)) کې له عمروه روایتوي، چې یې وویل:ربیعة بن امیة بن خلف د مدینې له یوې ناعربې ښځې سره (لنډمهاله) واده وکړ او دوه تنه ښځې، چې یوه یې خوله بنت حکیم وه، پرې شاهدان ونیول-خوله یوه صالحه ښځه وه-څه موده وروسته د ښځې دوه ځانیتوب راڅرګند شو. خوله، حضرت عمر له پېښې خبر کړ. حضرت عمر، په غوسه د څادر پیڅکه په ځان پسې راښکله او پر منبر وخوت او ویې

ویل: ((خبر شوی یم، چې ربیعة بن امیه د مدینې له یوې ناعربې ښځې سره واده کړی او دوه ښځې یې پرې ګواهانې نیولي دي، که ما تر دې مخکې منع کړی نه وای[؛ نو اوس] مې سنګساراوه.)) (۳۱)
امام مالک په موطا او بیهقي په سننو کې روایتوي، چې:خوله بنت حکیم، حضرت عمر ته راغله و یې ویل:ربیعة بن امیه له یوې ښځې سره ((لنډمهاله واده)) کړی او دوه ځانې شوې ده. حضرت څادر په ځان پسې راښکه او بهر راووت و یې ویل: ((که دا متعه (لنډمهاله واده) مې تر دې مخکې نهې کړی نه وای؛ نو اوس مې سنګساراوه.)) (۳۲)
په اصابه کې وایي: سلمة بن امیه له سلمی (د حکیم بن امیه ابن اوقص اسلمي له ازادې شوې وینځې) سره ((لنډمهاله واده)) وکړ، سلمی ترې دوه ځانې شوه او هغه خپل اولاد حاشا کړ. حضرت عمر یې له پېښې خبر کړ او ((لنډمهاله واده)) یې منع کړ. (۳۳)
عبدالرزاق په مصنف کې له ابن عباس څخه روایتوي، چې یې وویل: ((امیرالمؤمنین [حضرت عمر] یوازې ((ام اراکه)) له متعې منع کړه، هغه د دوه ځانیتوب په حال کې راووته او عمر ترې د لامل وپوښتل، ورته یې وویل:سلمة بن امیه بن خلف راسره ((لنډمهاله واده)) کړی دی...)) (۳٤)
ابن ابي شیبه په خپل مصنف کې له علا بن مصیب له پلاره یې روایتوي، چې وایي:
حضرت عمر وویل: ((که داسې نارینه یې راته راوست، چې له کومې ښځې سره یې ((لنډمهاله واده)) کړی وي؛ که محصن (مېرمن ولري) وي؛ نو سنګساروم یې او که عزب وي؛ نو په کوړو یې وهم)) (۳۵)

* * *

له تېرو روایاتو مو وموندل، چې د رسول اکرم اصحابو (رضی الله عنهم) ویل: د ((فما استمتعم به)) آیت د لنډمهالي واده په اړه نازل شوی دی او رسول اکرم یې د کولو لارښوونه کوله او هغوی هم د اوړو، کجورو یا د جامو په ټاکلي مهر، د رسول اکرم په زمانه کې له ښځو سره ((لنډمهاله نکاح)) کوله او دا حکم د حضرت ابوبکر او د حضرت عمر د خلافت تر نیمایي پورې غځېدلی و، تردې، چې حضرت عمر، د عمروبن حریث د کړنې له امله منع کړ او هم پوه شو، چې ((لنډمهاله نکاح)) د حضرت عمر پر مهال، تر نهې مخکې یې، په ډاګه تر سره کېده او لرې نه ده، چې د هغه تحریم او منع تدریجي او پړاو په پړاو وه: لومړی یې د نکاح د شاهدانو په اړه سختګیري کوله او لارښوونه یې وکړه، چې عادل مؤمنین شاهدان ونیسي-لکه چې له تېرو آیتونو څرګندېږي-بیا یې خپله غوښه منع او نهې په ډاګه کړه، و یې ویل: ((که تر دې مخکې مې منع کړې وای؛ نو اوس مې سنګساراوه)) تر دې پېښې وروسته په اسلامي ټولنه کې، د متعې نکاح [لنډمهاله واده] منع او حرامه شوه او حضرت عمر د خپل ژوند تر پایه پرې ټینګار کاوه او د ناصحانو نصیحت پرې اغیز و نه کړ.

طبري، د حضرت عمر په سیرت کې له عمران بن سواده روایتوي، چې له خلیفه یې اجازه وغوښته او ورته یې وویل: ((د نصیحت په نیت راغلی یم!))

حضرت عمر ورته وویل: ناصحه! ګهیځ او ماښام دې دربانديې درود وي.))

ناصح ورته وویل: ((امت دې پر تا په څلورو څیزونو نیوکه کوي.))

وايي: حضرت عمر د خپلې کوړې سر تر چانې لاندې کړ او نوره يې پر خپل ورانه کېښووه او بيا يې وويل: راوله!

عمران وويل: ((وايي:[د تمتع] عمره دې د حج په مياشتو کې حرامه کړې ده، سره له دې، چې رسول اکرم دا چار کړی نه دی او ابوبکر هم او هغه حلاله ده.))

حضرت عمر وويل: ((هغه حلاله ده؛ خو که هغوی د حج په مياشتو کې عمره وکړي داسې به انګېري، چې حج به يې بسيا وي او دا هګۍ به چورګوړي شوې وي او حج په خلوت شي، حال داچې حج له الهي انوارو ځنې يوه رڼا ده؛ نو زما چار صواب او اندنه مې سمه ده!))

عمران وويل: ((وايې:تا د ((ښځو متعه يا لنډمهاله واده)) حرام کړی دی حال دا چې د اخو يو الهي حکم و:په مناسب مهر مو ((متعه)) کوله او تر درې ورځو وروسته بېلېدو.))

حضرت عمر وويل: رسول اکرم د اړتيا پر مهال حلاله کړې وه، تر هغه وروسته خلک سوکاله شول او اوس له مسلمانانو څوک نه پېژنم، چې عمل پرې وکړي يا ورستانه شي. اوس هر څوک کړای شي په مناسب مهر واده وکړي او تر درې ورځو وروسته په طلاق بېل شي؛ نو سم چار مې کړی دی...)) (٣٦)

* * *

مؤلف وايي: د ((حج د متعې)) په اړه د حضرت عمر مخونه: [((که مسلمانان د حج په مياشتو کې عمره وکړي؛ نو انګېري، چې حج يې بيسا دی))] د حج او عمرې د يو ځای والي له نهې سره اړخ نه لګوي. واقعي علت او د مطلب حقيقت يوه بله مخونه ده، چې به بل روايت راغلی او ويلي يې دي: ((د مکې هستوګن نه "شوده ور تيونه" لري او نه (ګټوره)

کرنه، پسرلی يې يوازې ددې کور مېلمانه دي؛ نو ځکه [حاجيان] بايد دوه ځل ورته راشي: يو ځل مفرد حج ته او بل ځل مفرد عمرې ته، چې قريش (د مهاجرينو بنسټ) ترې گټور شي.))

د ((لنډمهالي نکاح)) په اړه د خليفه مخونه [((د رسول اکرم زمانه د اړتيا مهال و او اوس داسې نه ده))] هم د منلو نه ده؛ ځکه ډېرى روايات، چې د رسول اکرم په زمانه کې د ((لنډمهالي واده کول)) راښيي حکم يې په جگړو او سفر کې و؛ نو ځکه د پېغمبر اکرم د زمانې د حضرت عمر (او همدا راز) تر ننه او راتلونکي پورې هيڅ توپير نه ليدل کېږي.

ځکه انسان چې له کومې ورځې د ځمکې پر مخ راښکاه شوى، همېشه سفر ته اړين و او په ورځو ورځو، مياشتو او کله کله په کلونو له خپلې کورنۍ او مېرمنې لرې پاتې کېږي. اوس که نارينه پر سفر ولاړ شي او سفر يې اوږد هم وي؛ نو له خپلې جنسي غريزې سره به څه کوي؟ ايا کړاى شي، چې له خپل ځايه يې ببله کړي او په يوه بېل ځاى کې يې کېږدي، چې تر راستنېدو وروسته يې وکاروي يا دا چې جنسي غريزه ورسره ده او په سفر او حضر کې ترې نه جلا کېږي؟ اوس، چې غريزه ترې نه بېلېږي؛ نو ايا کړاى شي، چې ورشا کړي او سپينلمنتوب وکړي؟ او که ډېر لږ وگړي د سپينلمنتوب وس لري؛ نو ايا ټول انسانان داسې دي؟ يا دا چې ډېرى يې خپله غريزه وځپي؟ که داسې غټ شمېر بشري ځوځات په يوه ټولنه کې وي او د خپلې غريزې له کابو کېدو يې منع کړي او ترې وغواړي، چې له خپل طبيعت او فطرت سره مخالفت وکړه؛ نو څه بايد وکړي؟ نو ايا له ټولنې سره د خيانت بله لار ورته پاتې کېږي؟ ايا اسلام، چې د انسان د گردو ستونزو هوارې ته مناسبه حل لار ښوولې، دا ستونزه يې بې ځوابه پرېښې؟ نه؛ بلکې دې ستونزې ته يې ((لنډمهاله

واده)) تشریع کړی دی او لکه څنګه چې امام علي (ک) وویل: ((که د حضرت عمر منع نه وای؛ نو یوازې بدمرغه به زنا کوله)) البته غیر اسلامي ټولنو د هواري لار د زنا په جواز کې لیدلې او ازاده یې پرېښې ده!

چې څه وویل شول یوازې له هېواده لرې د مساپرو ستونزه نه ده؛ بلکې هېواد کې میشتي هم ډېری وخت له ((دایمی واده)) بې برخې وي او په دې ستونزه کې نر او ښځه یو شان دي اوس نو که یو انسان د اوږدو کلونو لپاره دایمي واده کړای نشي؛ نو که ((لنډمهالي واده)) ته لاس و نه غځوی؛ نو څه باید وکړي؟ په تېره بیا، چې قرآن کریم مسلمانانو نارینه و ته وايي:

((وَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُم بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاء أَوْ أَكْنَنتُمْ فِي أَنفُسِكُمْ عَلِمَ اللّهُ أَنَّكُمْ سَتَذْكُرُونَهُنَّ وَلَـكِن لاَّ تُوَاعِدُوهُنَّ سِرًّا إِلاَّ أَن تَقُولُواْ قَوْلاً مَّعْرُوفًا وَلاَ تَعْزِمُواْ عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتَّىَ يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ يَعْلَمُ مَا فِي أَنفُسِكُمْ فَاحْذَرُوهُ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ (بقره/٢٣٥)= که په کنایه کې (د عدت پر وخت له کونډو ښځو سره) د نکاح هیله څرګنده کړئ او یا مو دا هوډ په زړه کې نیولی وي (او نه یې څرګندوئ؛ نو په دواړو بڼو کې) پر تاسې څه ګناه نشته، خدای پوهېږي، چې هغوی به په زړونو کې دریادېږي (او خدای په معقوله توګه ستاسې د فطري غوښتنو مخالف نه دی)؛ خو پټ په پټه به ورسره د واده خبره نه کوئ؛ خو داچې په غوره او روا ډول (په کنایه کې) ورته خبره را یاده کړئ؛ خو تر هغې، چې یې د عدت وخت پوره شوی نه وي، نکاح به نه کوئ او پوه شئ، څه چې ستاسې په زړونوکې دي، خدای پرې خبردی. د هغه له مخالفته ووېرېږئ او پوه شئ، چې خدای ډېر بښونکی (او) زغمناك دی (او بندګانو ته په سزا ورکولو کې بیړه نه کوي.))) (٣٧)

او د مسلمانانو ښځو په اړه وایي:
((وَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ طَوْلاً أَن يَنكِحَ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ فَمِن مِّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُم مِّن فَتَيَاتِكُمُ الْمُؤْمِنَاتِ وَاللّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَانِكُمْ بَعْضُكُم مِّن بَعْضٍ فَانكِحُوهُنَّ بِإِذْنِ أَهْلِهِنَّ وَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ مُحْصَنَاتٍ غَيْرَ مُسَافِحَاتٍ وَلاَ مُتَّخِذَاتِ أَخْدَانٍ فَإِذَا أُحْصِنَّ فَإِنْ أَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ مِنَ الْعَذَابِ ذَلِكَ لِمَنْ خَشِيَ الْعَنَتَ مِنْكُمْ وَأَن تَصْبِرُواْ خَيْرٌ لَّكُمْ وَاللّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ = (نساء/۲۵))) (۳۸)

خو څه چې حضرت عمر د خپل تحریم په مخونه کې ویلي:[((لنډمهالی واده دې پر دایمي واده واړوي))] یا بله یې دوه حالته لري:

(الف):دا چې دا هوډ د نر او ښځې په مخکې تفاهم نیول شوی و او دا پرې یوه خوله شوي وي، چې دا هماغه ((لنډمهاله واده)) یا د متعې نکاح ده.

(ب):دا چې مېړه داسې هوډ لري او له ښځې یې پټ کړی وي، چې دا چار د ښځې غولونه او سپکاوی یې دی، سره له دې له مخکې یې پر دایمي واده توافق کړی او نارینه خپل باطني نیت [تر درې ورځو وروسته طلاق] پټ کړی وي.

اوس نه په ظاهره تر دایمي درې ورځني واده وروسته، ښځو او پالندویانو ته ((د دایمي واده)) په باب کوم ډاډ او اعتماد پاتې کېدای شي او په پای کې وایو، کومې خبرې اترې، چې د عمران او حضرت عمر ترمنځ وشوې او په دې اړه، چې له حضرت عمره نور خبرې اترې روایت شوې، په دقیقه څرګندېږي، چې ټول هغه روایات، چې له رسول اکرم څخه د ((لنډمهالي واده)) په تحریم کې روایت شوي او د احادیثو اصلي

کتابونو او تفسیر ته ورننووتي، د حضرت عمر تر پیر وروسته جوړ کړای شوي دي.

ځکه که د حضرت عمر په خلافت کې یو صحابي هم داسې روایت درلودی، چې د ((حج متعې)) او د ((ښځو د متعې)) په باب د خلیفه سیاستونه تایید کړي؛ نو په یقین یې ښرگنداوه؛ ځکه د متعې د تحریم او د کولو په سزا یې، چې خلیفه خورا ټینگار او په ښرگنده گواښ لره په دې توگه د حضرت عمر پېر ته ورسېد، حال دا چې د خپل سیاست مخالفین یې و ځپل او ان د پېغمبر د حدیثو راویان یې هم له روایتولو منع کړي ول.

دې سیاست د حضرت عثمان په لومړي شپږو کلونو کې هم دوام وموند او د متعې په تحریم کې د خلیفه حکم په اسلامي ټولنه کې خپور شو. وروسته نوی کهول راوټوکېد، چې د اسلام په اړه په څه نه پوهېدل؛ خو دا چې هغه څه د خپرېدو اجازه درلوده، چې د خلافت له سیاست سره یې اړخ لگاوه، چې راوروسته پرې رڼا اچوو.

٦. تر حضرت عمر وروسته لنډمهالی واده

د حضرت عثمان د خلافت په دویمه نیمایي کې د خلافت واکمنو ځواکنو انشعاب وکړ او یو بل ته مخامخ ودرېدل:

حضرت عایشه، حضرت طلحه، حضرت زبیر، عمروبن عاص او لارویان یې په یوه لیکه کې ول او مروان، د بني العاص اولاده او نور امویان او لارویان یې په بله لیکه کې ودرېدل. دا شخړې ددې لامل شوې، چې مسلمانانو ته د عمل ډگر پرانستل شي او نسبي ازادۍ ښرک ووهي او د منع شویو احادیثو یوه برخه خپره شي او مسلمانان له خلفاوو سره مقابلې ته راکاږي او مسلمان نوي کهول داسې ښیزونه واوري، چې اورېدای یې

نشو او داسې چارې ووينې، چې يې بيخي ليدلې نه وې. د لنډمهالي واده په اړه ځينې مخالفتونه دا دي:

۱. د عبدالرزاق په مصنف کې له ابن جريح له عطا روايتوي، چې يې وويل: ((صفوان بن يعلي لومړی تن و، چې د لنډمهالي واده نوم مې ترې واورېد. وايي: خبر يې کړم، چې معاويه بن ابي سفيان په طايف کې له يوې ښځې سره ((لنډمهاله واده)) وکړ او دا چار يې زما خوښ نشو. ابن عباس ته ورغلو او دا کيسه مو ورته وکړه: راته يې وويل:هو! لنډمهاله واده روا دی. راوي وايي:زړه مې ارام نشو او جابربن عبدالله ته ولاړو او خلکو ترې پوښتل، چې خبره ((متعې)) ته راورسېده؛ نو جابر وويل: هو! موږ د رسول اکرم، ابوبکر او عمر په وختونو کر متعه کوله، تر دې چې د حضرت عمر د خلافت په وروستيو کې عمروبن حريث له يوې ښځې سره لنډمهاله واده وکړ او...)) (۳۹)

۲. همدا راز د عبدالرزاق په مصنف کې دي چې: ((معاويه بن ابي سفيان چې طايف ته راغی له معاونې (د ابن حفرمي ازاده شوې وينځې سره يې ((لنډمهاله واده)) وکړ) جابر وايي: ((معاونه مې د معاويه په خلافت کې وليده، ژوندی وه او چې ژوندۍ وه، معاويه ورته هر کال ډالۍ را استولې)) (٤۰)

۳. په همدې کتاب کې له حضرت عبدالله بن خيثم روايتوي، چې يې وويل:په مکه کې يوه عراقۍ عابده ښځه له خپل زوی (ابو اميه) سره اوسېده او سعيد بن جبير به يې کور ته تله راتله. وايي: ((سعيد ته مې وويل:دې ښځې ته ډېر ځې راځې؟)) سعيد راته وويل: ((لنډمهاله نکاح مې ورسره کړې ده.)) وايي:سعيد ورته ويلي دي: ((لنډمهاله واده)) تر اوبو څښلو خورا روا دی. (٤۱)

* * *

هو! له هماغه وخته د ((لنډمهالي واده)) د حلال والي او وربانديې فتوې ورکولو خبرې پيل شوې. د عبدالرزاق په مصنف کې وايي: حضرت علي په کوفه کې وويل: ((که عمر بن خطاب مخکښې رايه نه وای؛ نو حکم مې کاوه، چې ((لنډمهاله واده)) دې وشي، چې تر هغه وروسته يوازې بدمرغه زنا کوله)) (۴۲)

په طبري، نيشابوري، فخررازي، ابي صيان او سيوطي تفاسيرو کې روايتوي، چې امام علي (ک) وويل: ((که عمر ((لنډمهاله واده)) منع کړی نه وای؛ نو بې له بدمرغه، چا زنا نه کوله)) (۴۳)

په قرطبي تفسير کې روايتوي، چې حضرت ابن عباس وويل: ((لنډمهاله واده)) يوه الهي ډالۍ وه، چې خدای خپلو بندګانو ته ورکړه [او عمر منع کړه] او که عمر منع کړې نه وای؛ نو يوازې بدمرغه زنا کوله)) (۴۴)

د عبدالرزاق په مصنف، د حبصاص په احکام القرآن، د ابن رشد په بداية المجتهد او د سيوطي په درالمنشور کې د ابن اثير په نهاية اللغة د ابن منظور په لسان العرب او د زبيدی په تاج العرووس کې د ((شقی)) مادې لاندې روايتوي، چې:

عطا وايي: وا مې ورېدل، چې حضرت ابن عباس ويل: ((خدای دې عمر وبښي ((متعه)) محمدي امت ته يوه الهي لورنه وه (او عمر منع کړه) او که منع شوې نه وای؛ نو يوازې بدمرغه زنا کوله)) (۴۵)

د عبدالرزاق په مصنف کې د ((رحمت او لورنې)) د لفظ پر ځای ((اجازه)) او د حديث په وروستيو کې د ((شقا)) پر ځای ((شقي)) راغلی دی.

عطا وايي: پر خدای قسم! لکه چې خبره يې اورم، چې يې ويل: ((الاشقی)) خو بدمرغه!
او د بداية المجتهد عبارت داسې دی:
((ولو لا نهی عمر عنها ما اضطر الی الزنا الاشقی؛ او که عمر منع کړې نه وای؛ نو يوازې بدمرغه زنا کوله)).
۷. هغوی چې تر حضرت عمر وروسته د متعې پر حلال والي ټينګار کاوه:
ابن حزم په محلي کې وايي: ((تر رسول اکرم وروسته د ړومبنيو اصحابو يوه ډله د لنډمهالي واده پر ((حليت)) ټينګه ولاړه وه، چې دا دي:اسماء بي بي د حضرت ابوبکر لور، حضرت جابر بن عبدالله، حضرت ابن مسعود، حضرت ابن عباس، معاويه بن ابوسفيان، حضرت عمروبن حريث، حضرت ابوسعيدخدري، حضرت سلمه او مصبد د اميه بن خلف زامن او حضرت جابر بن عبدالله يې حلالوالی له ګردو اصحابو د رسول اکرم، ابوبکر، عمر او د عمر تر وروستي وخته پورې روايت کړی دی.))
وايي: ((حضرت عمر بن خطاب يوازې په هغه بڼه کې يې مردود ګڼي، چې دوه تنه عادل پرې ګواه نه وي او دوو تنو عادلانو په شهادت يې روا بولي.))
او وايي: ((له تابعينو يې هم پر حلالوالي طاووس، عطا، سعيدبن جبير او مکې نور فقها-اعزها الله-ټينګ ولاړ دي.)) (۴۶)
قرطبي په خپل تفسير کې روايتوي، چې: ((لنډمهاله واده، يوازې عمران بن حصين ځينې اصحاب او يو شمېر اهل البيت روا بولي.))

او وايي: ابوعمر وايي: ((د حضرت ابن عباس اصحاب، مکیان او یمانیان د ابن عباس د مذهب له مخې لنډمهاله واده روا بولي.)) (٤٧)
ابن قدامه په مغنی (٧ ټ، ٥٧١ مخ) کې وايي: ((له حضرت ابن عباسه روایت شوی، چې هغه ((متعه)) جایزه ګڼلې ده.
ډېری اصحاب حضرت عطا او حضرت طاووس پر همدې ګروهه ول.
حضرت ابن جریح پرې فتوا ورکړې او حلالوالی یې له حضرت ابوسعیدخدري او حضرت جابر روایت شوی دی او شیعه ورپسې کتلی دي؛ ځکه بیخي ثابته شوې، چې رسول اکرم د متعې اجازه ورکړې وه))
(٤٨)

د لنډمهالي واده په تحریم کې د حضرت عمر لارویان او د اختلاف راڅرګندېدل د ((لنډمهالي واده)) د حرمت یو پلوی ((عبدالله بن زبیر)) دی.
ابن ابي شیبه په خپل مصنف (٤ ټ، ٢٩٣ مخ، فی نکاح المتعه و حرمتها) کې له ابن ابی ذئب روایتوي، چې یې وویل: ((وامې ورېدل، ابن زبیر خطبه ویله او ویل یې: ((الاو ان المتعة هی الزنا؛ باخبر، چې ((متعه))((هماغه زنا ده.))

بل: ابن صفوان دی، چې حدیث به یې راشي.
بل عبدالله بن عمر دی، چې له دوه لید لوریو یې یوه ده؛ لکه چې شرح به یې راشي. په دې اړه د حضرت عمر د لارویانو او مخالفینو ترمنځ یې شخړې راپېښې شوي، چې ځینې یې راوړو:
(الف) د موافقانو او مخلفانو ترمنځ اختلاف:

د ((لنډمهالي واده)) د ((حليت)) په اړه د ابن عباس او يو شمېر مخالفينو؛ لکه ابن زبير ترمنځ په لاندې شرح مشاجرې او وييني شوي دي.

مسلم په صحيح او بيهقي په سننو کې له عروة بن زبير څخه روايتوي، چې يې وويل: ((عبدالله بن زبير په مکه کې راپورته شو، و يې ويل: ((ځيني خلک شته، چې خدای يې زړونه د سترگو په څېر ړانده کړي او د ((لنډمهالي واده)) فتوا ورکوي!))-د عبدالله موخه، ابن عباس و، چې په سترگو ړوند شوی و-ابن عباس ورته په ځواب کې وويل: ((ته يې يو يې!پر ځان مې قسم چې ((متعه)) د امام المتقين-منظور يې رسول اکرم دی-پر مهال حلاله وه)) ابن زبير وويل: ((ته خو يې پخپله وکړه، چې پر خدای قسم په خپلو ډبرو دې وولم))

ابن شهاب وايي: ((خالدبن مهاجر بن سيف خبر کړم چې : له يوه سړي سره ناست وم، چې چا ترې د ((متعې)) وپوښتل. هغه ورته د متعې کولو اجازه ورکړه. ابوعمره انصاري ورته وويل: ورو! هغه وويل: څه دي؟ پر خدای قسم د امام المتقين په زمانه کې مو متعه کوله)) (٤٨)

له سعيدبن جبيره روايتوي، چې يې وويل: ((وامې وريدل، چې عبدالله بن زبير خطبه وايي او پر ابن عباس د ((متعې)) د حليت د فتوا په اړه نيوکه کوي او ټپسوری کاوه يې)) ابن عباس وويل: ((که رښتيا وايي که له موره يې وبوښتئ.))، چې له خپلې موره يې وپوښتل او ځواب يې واورېد:ابن عباس رښتيا وايي، هو همداسې وه.)) ابن عباس وايي: ((که غواړئ؛ نو هغه قريشي نارينه به دروښيم، چې په ((لنډمهاله واده)) دنيا ته راغلي دي.)) (٤٩)

 څرگنده ده، چې دا خبرې اترې باید په مکه کې د عبدالله بن زبیر د چارواکی پر مهال پېښې شوې وي، پر هغه وخت، چې د جمعې او جماعت لمونځ په بیت الحرام کې کېده او قوي گومان دا دی، چې دا خبرې اترې د جمعې د لمانځه په خطبه کې د ډېری مسلمانانو په شتون کې شوي دي؛ ځکه زما په نظر ابن عباس تر دې ځان لوړ باله، چې د ابن زبیر وینا ته دې راشي؛ خو د جمعې په لمانځه کې، چې شتون یې لازم و او مجبور هم و.

او همدا راز ښېخي څرگنده وه، چې له ابن زبیر او حکومتي غونډال سره د متعې د نهې په اړه د رسول اکرم د ویناوو کړو وړو او تقریر هیڅ ډول لاسوند نه و، چې د ابن عباس د پاخه دلیل [=متعه د رسول اکرم په زمانه کې وه] پر وړاندې یې راوړاندې کړی وای.

د خلافت غونډال د ((حج د متعې او د ښځو د متعې)) په تحریم کې تر ننه په زور غږېږي؛ خو د دوی پر خلاف، هغوی چې پر حلیت یې گروهمن دي، د رسول اکرم د سنتو په لاسوند یې مقابلي ته خپل دلایل راوړاندې کوي.

په صحیح مسلم، د احمد او طیالسي په مسانیدو او د بیهقي په سننو او نورو سرچینو کې له ابي نضرة روایتوي، چې یې وویل: ((له جابر بن عبدالله سره وم، چې یو سړی ورته راغی، و یې ویل: ابن عباس او ابن زبیر د ((حج متعې او دښځو د متعې)) په اړه اختلاف کړی دی)) جابر وویل: ((موږ د رسول اکرم پر وخت کوله، بیا حضرت عمر ترې منع کړو او نوره مو کړې نه ده)) (۵۰)

په بل روایت کې وایي:

((جابر ته مې وويل: ابن زبير له ((لنډمهاله واده)) منع کوي او ابن عباس يې د کولو امر کوي.))
جابر وويل: ((حديث زما په لاس ځرخي: موږ د رسول اکرم په زمانه کې ((لنډمهاله واده)) کاوه. د عمر بن خطاب وخت، چې شو، په خطبه کې يې وويل:خدای عزوجل، خپل پېغمبر ته، چې يې څه وغوښتل حلال کړل او قرآن په خپلو ځايونو کې راکېوت. اوس ((حج)) مو له خپلو ((عمرو)) بېل کړئ او له دې ښځو سره له نکاح لاس واخلئ، که څوک نارينه يې راته راوست، چې لنډمهاله واده يې کړی وي؛ نو په ډبرو به يې وولم)) (٥١)
دا روايت، د بيهقي (٧ ټ، ٢٠٦ مخ) په عبارت کې داسې دی:
((موږ د رسول اکرم او ابي بکر په وختونو کې ((متعه)) کوله، چې کله عمربن خطاب خليفه شو، ويې ويل:رسول اکرم هماغه رسول اکرم او قرآن هماغه قرآن دی او دا دواړه (چې وايم) دوه متعې دي، چې د رسول اکرم په زمانه کې وې او اوس يې زه منع کوم او چا چې وکړې، سزا ورکوم: يوه يې د ((ښځو متعه))، چې که کوم نارينه مې وموند، چې له کومې ښځې سره يې ((لنډمهاله واده)) کړی؛ نو په ډبرو به يې وولم او په ډبرو کې به يې ښخ کړم. بله د حج ((متعه)) ده. خپل حج مو له خپلې ((عمرې)) بېل کړئ، چې دا چار حج او عمره مو ښه پوره کوي))

(ب) د ابن عباس او نورو ترمنځ اختلاف :
د عبدالرزاق په مصنف کې وايي:[ابن] صفوان وويل: ((ابن عباس په ((زنا)) فتوا ورکوي)) ابن عباس وويل: ((زه د زنا فتوا نه ورکوم، آيا [ابن]صفوان، ام راکه هېره کړې ده؟ پر خدای قسم، چې د هغې ښځې

زوی له ((لنډمهاله واده)) دی. ایا د بني جمج سړي، چې ورسره لنډمهاله واده کړی، زنا يې ورسره کړې ده؟)) (۵۲)

په یوه بل روایت کې دي، چې طاووس وايي: ((ابن صفوان وايي: ((ابن عباس د زنا فتوا ورکوي!)) راوي وايي: ((ابن عباس له ((متعې)) د راپيدا شويو اولادونو نومونه واخستل؛ خو زما په یاد يوازې معبد بن امیه پاتې دی)) (۵۳)

معبدبن امیه څوک دی؟

د عبدالرزاق په مصنف (۷ ټ، ۴۹۹ مخ) کې مې په یوه روایت کې ولیده، چې ابن عباس وايي: ((بې له ((ام اراکه)) چا خو امیرالمؤمنین عمر، دې غبرگون ته اړ نه کړ. هغه د دوه ځانی پر حال بهر راووته او عمر ترې لامل وپوښت، ځواب يې ورکړ، سلمة بن خلف ورسره ((لنډمهاله واده)) کړی دی.))نو ځکه چې کله ابن صفوان د ابن عباس نظر رد کړ او ناعوزه يې وباله، ابن عباس ورته وویل: ((تره دې وپوښته!))

د ابن حزم په جمهره النساب (۱۵۹-۱٦۰ مخونه) کې راغلي: ((امیة بن خلف جحمي، د علي، صفوان، ربیعه، مسعود او سلمة په نامه زامن درلودل، چې معبدبن سلمه د دې سلمة بن امیة بن خلف زوی دی، چې مور يې ((ام اراکه)) وه، سلمه، د حضرت عمر یا حضرت ابوبکر په خلافت کې له هغې سره لنډمهاله واده وکړ، چې معبدبن سلمة يې زوکړه وه.))

مؤلف وايي: ((زما په نظر صفوان بن امیه د همدې ابن صفوان پلار دی او دا چې صفوان د سلمة بن امیه ورور دی، ابن عباس ورته وویل: ((له تره دې وپوښته!)) او همدا راز و يې ویل:ایا ام اراکه دې هېره کړې؟ په

خدای قسم، زوی یې (؛ یعنې معبدبن سلمه د ابن صفوان د تره زوی) د ((لنډمهالي واده)) بچی دی. ایا هغه زنا کړې؟ او دا چې له ((متعې)) دنیا ته راغلي بچي یې وشمېرل؛ نو ((معبد)) یې هم پکې وشمېره))

ج) له حضرت ابن عباس سره د حضرت عبدالله عمر اختلاف

د ((لنډمهالي واده)) په اړه له عبدالله بن عمره بېلابېل روایات رارسیدلي دي. ځینې یې دا دي:

امام احمدحنبل په خپل مسند کې له عبدالرحمان بن نعیم اعرجي روایتوي، چې یې وویل:له ابن عمر سره وم، چې یو سړي ترې د متعې [لنډمهاله واده] په اړه وپوښتل، عبدالله غوسه شو و یې ویل: ((پر خدای قسم موږ د رسول اکرم پر مهال زناکار او بدلمني نه وو...)) (٥٤)

د عبدالرزاق په مصنف (٧ ټ، ٥٠٢ مخ) کې وایي:

ابن عمر ته وویل شو: ((ابن عباس د ((لنډمهاله واده)) اجازه ورکوي)) ورته یې وویل: ((گومان نه کوم، چې ابن عباس داسې ووایي.)) ورته وویل شول: ((هو!پر خدای قسم، چې همداسې وایي.)) عبدالله وویل: ((باخبر! پر خدای قسم، د عمر پر مهال یې داسې خبره کړای نه شوه او عمر په سختۍ ترې منع کولئ او زه خو یې یوازې ((زنا)) بولم))

د ابن شیبه په مصنف (٤ ټ، ٢٩٣ مخ) د سیوطي په درالمنشور (٢ ټ، ١٠٤ مخ، ٥٨٠٨ حدیث) کې روایتوي، چې: ((عبدالله بن عمر یې د لنډمهالي واده په اړه وپوښته، ویې ویل: ((حرام دی)) ورته وویل شو: ((ابن عباس خو یې فتوا ورکوي)) ویې ویل: ((نو ولې یې د عمر پر مهال ((زمزمه)) کاوه نه؟))

د بیهقي په سننو (۷ ټ، ۲۰٦ مخ) کې د ((حرام)) تر عبارت وروسته وایي: ((که عمربن خطاب څوک د لنډمهالي واده له کبله نیولای؛ نو په ډبرو یې ایشته.))

۹. په راوروسته پېړونو کې د خلفاوو د ښوونځي د لارویانو د دریځ اوړېدل.

د ابن زبیر د چارواکۍ تر مهاله د خلفاوو د ښوونځي منطق د زور پر چورلیځ و، تر دې وروسته یې دریځ واړاوه او په اړونو یې لاس پورې کړ، چې بېلګې یې دا دي:

الف) د بیهقي په سننو (۷ ټ، ۲۰۵ مخ) کې وایي:ابن عباس پر ((لنډمهالي واده)) فتوا ورکوله او عالمانو پر دې فتوا ټپسورې کاوه او ابن عباس د دوی ټپسوریو ته سر نه ټیټاوه، ان چې یو شاعر یې د فتوا په اړه وویل ((یا صاح هل لک فی فتیا ابن عباس – هل لک فی ناعم خود مبتلة _ تکون مشوالک حتی مصدر الناس)): ((عالمانو د دې اشعارو تر اورېدو وروسته، له ((متعې)) یې پر بېزارۍ ښه ټینګه کړه او خورا یې ناغوره وګڼله)).

د عبدالرزاق په مصنف (۷ټ، ۵۰۳ مخ) کې له زهري روایتوي، چې یې وویل: ((چې کله شاعر دا شعر ووایه: (یا صاح هل لک فی فتیا ابن عباس) عالمانو ((لنډمهاله واده)) خورا ناوړه وګاڼه))

په دې روایت کې راغلي، چې: ((ابن عباس خو د ((لنډمهالي واده)) د حلیت په اړه پر شا نه شو او د خلکو او شاعرانو ټپسورۍ له دې چاره لاس پر سر نه کړ))

ب) تېر روايت يې واړو او د سعيد بن جبير له خولې يې روايت کړی، چې هغه ويلي دي: ((ابن عباس ته مې وويل:پوهېږې، څه دې کړي او څه فتوا دې ورکړې؟ فتوا دې سېدو لرې سيمو ته وړې او شاعرانو يې په اړه شعرونه ويلي دي!))

راته يې وويل: ((څه يې ويلي دي؟))ورته مې وويل:ويلي يې دي:قد قلت للشيخ لما طال مجلسه _ يا صاح هل لک فی فتيا ابن عباس _ هل لک فی رخصة الاطراف النسة _ تکون مثواک حتی مصدر الناس))

ابن عباس وويل: ((انا لله و ايا اليه راجعون، پر خدای قسم، ما خو پر دې فتوا ورکړې نه ده او نيت مې دا نه و، ما له ((متعې)) يوازې هومره حلاله ګڼلې، چې خدای له ((مړي، وينې او د خوګ له غوښې)) حلاله کړې ده.))

د ابن قدامه په المغنی (٧ ټ، ٥٧٣ مخ)کې وايي:هغه راپاڅېد او وينا يې وکړه و يې ويل: ((متعه (لنډمهالی واده)) د مردارې، وينې او د خوګ د غوښې په څېر ده؛ خو په رښتيا، چې د متعې د حليت په اړه د رسول اکرم (ص) اجازه نسخ شوې ده.))

*پر دې روايت نيوکه

د ((متعې د حلالوالي)) مخالفانو د دې روايت په ويلو کې له سعيدبن جبيره هم مخکې تللي دي او هېر کړي يې دي، چې سعيدبن جبير هماغه دی، چې په مکه (٥٥) کې لنډمهالی واده وکړ او همدا راز هېر کړي يې دي، چې د ابن عباس اصحابو مکيانو او يمانيانو د ابن عباس د مذهب له مخې حلال ګاڼه (٥٦) او که ابن عباس له خپلې فتوا ګرځېدلی وای؛ نو اصحاب يې لکه عطا، طاووس او نور هم پر خپل اند نه پاتې کېدل. (٥٧)

هیثمي په مجمع الزواید (٤ ټ، ٢٦٥ مخ) کې د دې حدیث له ناسموالي پرده اوچته کړې او وایي: ((د دې حدیث په لاسوند کې حجاج بن ارطاة چلي دی)) او په تهذیب التهذیب کې یې د حالاتو په شرح کې وایي: ((هغه له یحیی بن ابي کثیر او مکمول څخه _ سره له دې، چې یې څه ترې نه دي اورېدلي _ روایتوي او له دې امله یې حدیثپوهان چلي ګڼي، چې بې زیاتې حدیث ترې نه موندل کیږي))

ابن مبارک وایي: حجاج چل کاوه او موږ ته یې له عمروبن شعیب له غزرمې پرېښوول شوی احادیث ویل.

یعقوب بن ابی شیبه ویل: ((د حجاج احادیث، بی بنسټه او ګډوډ دي)) (٥٨)

ج) ترمذي (باب نکاح المتعه) او بیهقي په سننو (٧ ټ، ٢٠٦ مخ) کې له موسی بن عبیدة له محمدبن کعب له ابن عباسه روایتوي، چې یې ویلي دي: ((متعه (لنډمهاله واده) یوازې د اسلام په لومړنیو وختونو کې وه. په دې توګه:چې یو نارینه به ناپېژاندې سیمې ته راغی او څه موده یې د هستوګنې نیت درلود؛ نو له یوې ښځې سره یې واده کاوه، چې د سړي جامې او اجناس یې ساتل او ژوند یې ورسمبالاوه، تر دې، چې دا آیت نازل شو: ((ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تُبْعَثُونَ (مؤمنون/١٦) = بیا بېشکه د قیامت پر ورځ راپاڅول کیږئ.))

ابن عباس وویل: ((یوازې دا دوه لمنې حلالې دي))

*پر دې حدیث نیوکه

د دې حدیث په لاسوند کې موسی بن عبیده راغلی دی، چې په تهذیب التهذیب (١٠ ټ، ٣٥٦-٣٦٠ مخونو) کې یې په اړه وایي: ((احمد وایي:

((حدیث یې ناپېژاندی دی.)) زما په اند د روایت راوړل یې جایز نه دي. ناغوره احادیث روایتوي.))

د حدیث په متن او منځپانگه کې راغلي دي، چې: ((د اسلام په لومړیو وختونو کې ((لنډمهاله واده)) و، ان چې دا آیت نازل شو:الا علی ازواجهم... او بې له دې دوو، نوره هره لمنه حرامه ده.))

او زه پوهېدای نشم که دا د ابن عباس خبره وي؛ نو ولې یې د آیت د نازلېدو نیمه پېړۍ وروسته؛ له عبدالله بن زبیر سره پر مخالفت لاس پورې کاوه او د ((لنډمهاله واده)) پر حلالوالي ټینگ ولاړو؟

پر دې سربېره آیا د متعې نکاح یو ډول ((واده)) نه دی؟ او همدا راز که دا روایت سم وي او ابن عباس د رسول اکرم په زمانه کې د دې آیت تر نازلېدو وروسته له خپلې فتوا لاس اخستی نه وي؛ نو امام علي (ک) ورته څه وخت (چې یې د متعې په اړه نرمي ښووله) وویل: ((ته ځانمنی یې)) دا روایت به د سمو احادیثو په باب کې راولم.

د) له جابر بن عبدالله یې روایت کړی، چې یې وویل: ((له لنډمهاله واده شویو ښځو سره راووتو، چې رسول اکرم راته وویل: ((دا د قیامت تر ورځې حرامې دي.)) تر دې وروسته، هغوی راسره خدای پاماني وکړه؛ نو ځکه هغه ځای یې د بېلتون ځای ونوماوه؛ خو مخکې تر دې د ((نښلون)) ځای و))

وگورئ:مجمع الزواید، ٤ ټ، ٢٩٤ مخ + فتح الباري، ١١ ټ، ٣٤ مخ

*پر دې حدیث نیوکه

هیثمي وایي: ((دا روایت طبراني په اوسط کې راوړی او په لاسوند کې یې صدقه بن عبدالله دی، چې امام احمدحنبل یې په اړه وایي: ((هیڅ ارزښت نه لري، احادیث یې ناپېژاندي دي.))

او (صحیح خاوند) مسلم یې په اړه وایي: ((حدیث یې ناپېژاندی دی.))
مؤلف وایي: ((د حدیث په متن کې راغلي، چې حضرت جابر له رسول اکرم (ص) روایت کړی، چې آنحضرت (ص) ویلي دي: ((دا د قیامت تر ورځې حرامې دي.)) حال دا چې په صحیحو او متواترو احادیثو کې له جابره روایتوي چې یې ویلي دي: ((موږ د پېغمبراکرم (ص) ابی بکر او عمر په وختونو کې ((لنډمهاله واده)) کاوه ان، چې عمر، د عمروبن حریث د کړنې له امله ترې منع کړو.))
ه) بیهقي په خپلو سننو کې او هیثمي په مجمع الزواید کې له ابي هریره روایتوي، چې یې ویلي دي: ((له رسول اکرم سره د تبوک غزا پر لور ووتو او په ((ثنية الوداع)) کې مو دمه وکړه. پېغمبر اکرم یو شمېر ښځې ولیدې چې ژړل یې. ویې ویل: ((ولې ژاړي؟)) ورته وویل شول:دا هغه ښځې دي، چې مړونو یې ورسره لنډمهاله واده کړی و او بیا ترې بېل شوي دي.)) رسول اکرم (ص) وویل: ((حرم او هدم المتعة النکاح والطلاق والعدة والمیراث؛ واده، طلاق، عدت او میراث متعه حرامه - یا نابوده – کړې ده))
دا روایت په مجمع الزواید کې داسې دی: ((رسول اکرم ډېوې او ژړاندې ښځې ولیدې))
*پر حدیث نیوکه
د دې حدیث په لاسوند کې، مؤمل بن اسماعیل، ابوعبدالرحمان عدوي دی، چې پر ۲۰۵ یا ۲۰٦ س ومړ او په تهذیب التهذیب کې وایي:بخاري وایي: ((حدیث یې ناپېژاندی دی.)) او بل ویلي دي: ((د هغه کتابونه یې ښخ کړل او وروسته یې (بې لیکنې) روایتونه کول؛ نو ځکه یې تېروتنه ډېره ده، هومره چې پر عالمانو یې د احادیثو په اړه تمېده واجب ده؛

ځکه هغه ناپېژاندي روایات له شقه او ډاډمنو شیوخو روایتوي (ورپورې تېرې) او دا خورا ناوړه چلن دی، چې که دا ناپېژاندي روایات د کمزوریو راویانو له خولې ول؛ نو پلمې خو مو ورته توګلې.)) ()

وایو: ((د حدیث په متن کې راغلي، چې: ((هغوی په ثنیة الوداع کې دمه شول او په معجم البلدان کې د ثنیة الوداع په اړه راغلي، چې پر مدینه رادېره د کانکرو یوه یوځای دی، چې د مکې د لارویانو پر سر پروت دی او وایي: ((سمه دا ده، چې دا له اسلامه مخکې یو پخوانی نوم دی او د نومونې لامل یې دا دی، چې دلته مسافرو خدای پاماني کوله)).

د دې خبرې مؤید دا دی، چې کله رسول اکرم له مکې څخه مدینې ته هجرت کاوه د انصارو ښځو ورته ښه راغلاست ووایه او ویل یې: ((طلع البدر علینا فی ثنیات الوداع؛ یعنې سپوږمۍ راباندې په ثنیات الوداع کې راښکاره شوه))؛ نو ځکه ((ثنیة الوداع)) د جاهلیت په پېر کې د مسافرو د خدای پامانۍ ځای و او دا نومونه تر اسلام ړومبی وه؛ نه ترې راوروسته.

پر دې سربېره ولې یوازې د متعې ښځې خدای پامانۍ ته راوتلې وې او بې متعې نه؟ د ژړا لامل یې څه و؟ مړونه یې خو نه راستېدونکیو سفرونو ته نه وتل؟

و) بیهقي (۷ ټ، ۲۰۷ مخ) له علي بن ابیطالب روایتوي، چې یې وویل: ((رسول اکرم له متعې (لنډمهاله واده) منع کړې)) وایي: ((لنډمهاله واده، د هغه چا لپاره و، چې همېشنۍ ښځه یې نه مونده او چې کله د ښځې او نارینه ترمنځ د واده، طلاق، عدت او میراث حکم راولېږل شو، د متعې حکم نسخ شو.))

*پر دې حدیث نیوکه

ددې حدیث په لاسوند کې موسی بن ایوب دی، چې عقیلي د ((کمزوریو = ضعفاوو)) په کتار کې راوړی او یحیی بن معین او ساجي ((منکرالحدیث)) گڼلی دی.

وایم: د حدیث په متن کې علي (ک) یا د شوی، چې یې ویلي دي: ((رسول اکرم متعه منع کړې ده)) حال دا چې آنحضرت وایي: ((که د عمر تېره رایه نه وای؛ نو حکم مې کاوه، چې لنډمهاله واده وکړئ، چې وروسته به ترې بې له بدمرغه ((زنا)) نه کوي))

ز) بیهقي له عبدالله بن مسعود څخه روایتوي، چې یې وویل: ((متعه منسوخ شوې ده. طلاق، مهر، عدت او میراث منسوخ کړې ده.))

*پر حدیث نیوکه

د روایاتو پوراوي، حجاج بن ارطاة له حکم (د عبدالله له اصحابو) دی چې مخکې مو وښود او په اړه یې ویل شوي: ((ټگیجن او پرېښوونکی دی او پر احادیثو یې زیاتونه کوله.)) او پر دې سربېره، نه پوهېږو، چې حکم د عبدالله له کومو اصحابو روایت کړی دی؟

او په بل روایت کې راغلي، چې:زموږ ځینو اصحابو له حکم بن عتیبه له عبدالله بن مسعوده او موږ نه پوهېږو، دا ((ځینې اصحاب)) څوک دي او حکم بن عتیبه چې پر (١١٣ س) یا ترې وروسته له دنیا تللی او یوازې څه له پاسه شپېته کلن و، چې څرنگه یې له عبدالله بن مسعوده روایت کړی، چې پر ٣٢ س ومړ؟

پر دې سربېره د حدیث متن د عبدالله بن مسعود له هغه اند سره اړخ نه لگوي، چې د متعې د حلالوالي او د ((فما استمتعتم به منهن – الی اجل – آیت په تفسیر کې یې راوړی دی.

بل دا چې د (ه – و – ز) په احادیثو کې راغلي، چې: ((نکاح، طلاق، عدت او میراث، متعه [لنډمهالی واده] حرام یا نابود کړی دی)) د دې غونډلې مانا دا ده، چې لنډمهاله واده تر ((همېشنی واده)) او اړوند څیزونو یې مخکې تشریع شوی دی او دا چی لنډمهاله واده ((همېشني واده)) تر تشریع پر خپل ځای و او په هغه نسخ شو؛ نو له دې خبرې سره خو جوخته او لازمه دا ده، چې د پېغمبر او اصحابو ودونه – د همېشني واده حکم تر راتلو پورې – ((لنډمهاله ودونه)) ول!))

ح) په مجمع الزواید (٤ ټ، ٢٦٦ مخ) کې له زید بن خالد جهني روایتوي، چې یې وویل: ((زه او ملگری مې له یوې ښځې سره د لنډمهالي واده لپاره نانداریَ وهلې، چې یو تن راغی او خبر یې کړو: ((رسول اکرم لنډمهاله واده منع کړی دی او همدا راز کورنی خره غوښه یې حرامه کړې ده))

*پر حدیث نیوکه

هیثمي په مجمع الزواید (٤ ټ، ٢٦٦ مخ) کې وایي: ((دا حدیث طبراني روایت کړی او په لاسوند کې یې ((موسی بن عبیده ربذي))، کمزوری او ضعیف دی.)) او د کمزوریَ په اړه یې زموږ نظر تېر شو.

د حدیث له متن پوهېدای شو، چې راوي یې د مکې په سوبې کې د سبره جهني او د خیبر د ورځې روایت سره یوځای کړي او د ((ذي ناب)) ځارویو د غوښو د نه خوړو حکم یې پرې ورزیات کړی او ټول یې په واحد سند او یو ډول سیاق سره یوځای او روایت کړی دی.

ط) هیثمي په مجمع الزواید (٤ ټ، ٢٦٦مخ) کې له حارث بن عزیة روایتوي، چې یې ویل: ((وا مې ورېدل، چې پېغمبر اکرم د مکې د سوبې پر ورځ درې ځل وویل: ((لنډمهالی واده حرام دی.))

*پر حدیث نیوکه

هیثمي (مجمع الزواید:٤ ټ، ۲٦٦ مخ) وایي: ((طبراني روایت کړی دی او په سند کې یې اسماق بن عبدالله بن ابی فروه دی او په اړه یې نورو عالمانو ویلي چې:

((ناپېژاندي احادیث روایتوي، په حدیث یې استناد نه کوي او هغه یې پرېښی دی. روایتول ترې جایز نه دي، حدیث یې نه لیکل کېږي او...))

وګورئ:تهذیب التهذیب:۱ ټ، ۲٤۰ مخ

ی) په مجمع الزواید (٤ ټ، ۲٦٦ مخ)کې له کعب بن مالک روایتوي، چې یې وویل: ((رسول اکرم لنډمهالی واده منع کړی دی)) هیثمي (مجمع الزواید ٤ ټ، ۲٦٦ مخ) وایي: ((دا طبراني روایت کړی دی او په لاسوند کې یې یحیی بن انیسه دی.)) او پوهان یې په اړه وایي: ((هغه کمزوری دی، اهل حدیث یې روایتونه نه کاږي، هغه دروغجن دی، حدیث یې پرېښوول شوی دی...))

وګورئ:تهذیب التهذیب، ۱۱ ټ، ۱۸۳ او ۱۸٤ مخونه.

ک) بیهقي په سننو (۷ ټ، ۲۰٦ مخ) کې له عبدالله بن عمره روایتوي، چې یې وویل: ((عمر پر منبر د خدای تر ستاینې وروسته وویل:

((پر خلکو څه شوي، چې لنډمهاله واده کوي، حال دا چې رسول اکرم ترې منع کړې ده، باخبر!که چا راته متعه کوونکی راووړ؛ نو په ډبرو یې ولم))

*پر حدیث نیوکه

د حدیث په لاسوند کې ((منصور بن دینار)) دی. یحیی بن معین یې په اړه وایي: ((حدیث یې کمزوری دی.))امام نسایي وایي:حدیث یې قوي

نه دی. بخاري وايي: په حديث کې يې ګډون شته او عقلي يې په ((کمزوريو = ضعفاوو)) کې شمېري.
وګورئ:رازي، الجرح والتعديل، لومړی برخه:١٧١ مخ + ذهبي، ميزان الاعتدال ٤ ټ، ١٨٤ مخ + لسان الميزان، ٦ټ، ٩٥ مخ.
تر دې ځايه مو هغه احاديث راوړل، چې د رجال پوهانو له نظره يې په لاسوندونو کې کمزوري او نيوکې وې. په راتلونکې برخه کې هغه احاديث راولو، چې د خلفاوو د ښوونځي پوهان پرې ځکه يوه خوله دي، چې د ((صحيح)) په نامه خپلو کتابونو کې يې راوړي يا يې پر سموالي نيوکه کړې نه ده.
*لومړی حديث: په صحيح مسلم، د نسايي او بيهقي په سننو او د عبدالرزاق په مصنف کې (متن مو له عبدالرزاق اخستی دی) له شهاب زهري له عبدالله او حسن (د محمدبن علي زامن) له خپل پلاره روايتوي، چې هغه له علي بن ابي طالب اورېدلي، چې ابن عباس ته يې ويل: ((ته ځانمنی يې! رسول اکرم د خيبر د سوبې پر ورځ لنډمهالی واده او د کورني خره د غوښې خوړل منع کړل))
دا روايت پر همدې لاسوند، په ډېر لږ توپير، په صحيح بخاري، د ابي داوود، ابن ماجه، ترمذي او دارمي په سننو، د امام مالک په موطا، د ابن ابي شيبه په مصنف او د امام احمدحنبل او طيالسي په مسانيدو او نورو کې راغلی دی.
دويم حديث:له ابی ذره روايتوي، چې يې وويل:موږ د رسول اکرم اصحابو ته يوازې درې ورځې لنډمهاله واده حلال شو او بيا ترې رسول اکرم منع کړو))

او ابوذر زیاتوي: ((لنډمهاله واده زموږ د ډار او جګړې لپاره و)) وګورئ:بیهقي سنن، ۷ ټ، ۲۰۷ مخ.
دریم حدیث:په صحیح مسلم، د دارمي، ابن ماجه او ابي داوود په سننو او نورو کې له بسرة جهني (چې د مکې په سوبې کې له رسول اکرم سره و) روایتوي، چې وایي: ((په مکه کې پینځلس ورځې هستوګن شوو، رسول اکرم راته د ((لنډمهالي واده)) اجازه راکړه. زه او له خپلوانو ځنې یو سړی مې بهر ووتو، زه څه ښکلی او ملګری مې لږ څه بدرنګ و، له زموږ هر یو سره څادر و، زما زوړ او د تره د زوی مې نوی و. د مکې لوړ یا ټیټ ځای ته رسېدلي وو، چې یوه ځوانه او هسکې غړې والا ښځه راسره مخ شوه، ورته مو وویل: چمتو یې، چې له موږ له یوه سره لنډمهالی واده وکړې؟ ویې ویل:مهر به څومره راکوئ؟ موږ هر یو خپل څادر وغوړاوه، هغه یې په کتو شوه، چې ملګري مې ورته وویل:د دې څادر زوړ او زما نوی دی. ځواب یې واورېد: څادر یې څه نیمګړتیا نه لري او دا غونډله یې درې یا دوه ځله وویله. بیا مې ورسره ((لنډمهاله واده)) وکړ او له مکې وتلي نه وو، چې رسول اکرم منع کړ)).
په بل روایت کې وایي:رسول اکرم وایي: ((خلکو!ما پخپله درته د لنډمهالي واده اجازه درکړه (؛ خو) اوس مې خدای د قیامت تر ورځې حرام کړ))
او په بل روایت کې وایي: لیدل مې، چې رسول اکرم د رکن (کعبې) او مقام [د ابراهیم د] ترمنځ ولاړ دی او ویل یې...)).
او په بل روایت کې وایي:رسول اکرم د سوبې پر کال، چې مکې ته ننووتو د لنډمهالي واده د کولو یې اجازه راکړه او لا وتلي نه وو، چې یې منع کړو.)).

او په بل روایت کې وایي: ((د رسول اکرم په زمانه کې مې د بني عامر له یوې ښځې سره ((لنډمهاله واده)) وکړ او دوه سره پڼوني مې ورکړل، بیا رسول اکرم له ((لنډمهاله واده)) منع کړو)).

په بل روایت کې وایي: ((رسول اکرم د مکې په سوبې کې له لنډمهالي واده منع کړو))

او په بل روایت کې: ((رسول اکرم ((متعه)) منع کړه، و یې ویل: ((متعه له نن ورځې مو تر قیامت ورځې پورې حرامه ده.)).

د ابي داوود او بیهقي په سننو او نورو کې له ربیع بن سبره روایتوي، چې یې وویل: ((ګواهي ورکوم، چې پلار مې ویل، چې رسول اکرم په ((حجة الوداع)) کې متعه منع کړه.)).

څلورم حدیث:په صحیح مسلم (۱۰۲۳ مخ) د ابن شیبه په مصنف (٤ ټ، ۲۹۲ مخ) د امام احمد حنبل په مسند (٤ ټ، ۵۵ مخ) د بیهقي په سننو (۷ ټ، ۲۰٤ مخ) او فتح الباري (۱۱ ټ، ۷۳ مخ) او نورو کې له سلمة بن اکوع روایتوي، چې یې وویل:

((رسول اکرم د ((اوطاس)) پر کال، درې ورځې لنډمهاله واده ازاد پرېښود او بیا یې منع کړ.))

د تېرو احادیثو کره کتنه

د امام علي (ک) په حدیث کې (چې حدیثي مهمو سرچینو، صحاحو، مسانېدو، سننو او مصنفاتو روایت کړی او موږ له څلوارلس کتابونو راخستی) څرګنده شوې وه، چې رسول اکرم د خیبر په غزا کې دوه څیزونه حرام کړي ول: الف) لنډمهاله واده؛ ب) د کورني خرو غوښې. په خیبر کې د ((لنډمهالي واده))د تحریم سند، یوازې همدا یو حدیث دی، سره له دې چې په خیبر کې د کورني خرو د تحریم سند په ګڼ

شمېر رواياتو کې راغلی دی، چې په يوه کې هم د ((لنډمهالي واده)) تحريم ته اشاره شوې نه ده، چې دا دی څېړو يې.

الف) په خيبر کې د لنډمهاله واده تحريم:

د رسول اکرم له لوري په خيبر کې د ((لنډمهالي واده)) تحريم د هغې ورځې له تاريخي واقعيت سره اړخ نه لګوي؛ لکه چې يو شمېر پوهانو لکه ابن قيم پرې رڼا اچولې ده: ابن قيم په خپل ((ازاد المعاد)) (۲ ټ، ۱۵۸ مخ) کې وايي: ((د خيبر په سوبې کې يو صحابي هم له ((يهودي ښځو)) سره لنډمهاله واده کړی نه و او نه يې په دې اړه له رسول اکرم اجازه غوښتې او نه چا د خيبر د غزا په باب متعه روايت کړې ده او په خيبر غزا کې بيخي د ((متعې)) د کېدو او تحريم ياد هم شوی نه دی.))

او وايي: ((په خيبر کې مسلمانې ښځې نه وې او شته ښځې پکې يهودې وې او تر هغې ورځې له کتابيانو ښځو سره د واده جواز ثابت نه دی، يوازې د خيبر تر سوبې وروسته خدای ورسره واده حلال کړ او د مائدې په پينځم آيت کې يې وويل: ((الْيَوْمَ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ وَطَعَامُ الَّذِينَ أُوتُواْ الْكِتَابَ حِلٌّ لَّكُمْ وَطَعَامُكُمْ حِلُّ لَّهُمْ وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الَّذِينَ أُوتُواْ الْكِتَابَ مِن قَبْلِكُمْ إِذَا آتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ مُحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَافِحِينَ وَلاَ مُتَّخِذِي أَخْدَانٍ وَمَن يَكْفُرْ بِالإِيمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ وَهُوَ فِي الآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ))

او دا حلاليت په وروستيو کلونو او تر ((حجة الوداع)) وروسته يا پر هغه کال و؛ نو د خيبر د سوبې پر مهال، له کتابيانو ښځو سره واده ثابت نه دی...)) وګورئ:د تېرې سرچينې، ۲۰۴ مخ.

ابن حجر (فتح الباري، ۹ ټ، ۲۲ مخ) د تېر حدیث په شرح کې د ((خیبر غزا)) په باب وایي: ((د خیبر د سوبې وخت، د لنډمهالي واده ځای نه و؛ ځکه پکې هیڅ ډول متعه او لنډمهالی واده شوی نه و))

ابن حجر په ((فتح الباري:۱۱ ټ، ۷۲ مخ) کې ((په وروستیو کلونو کې د رسول اکرم له لوري د لنډمهالي واده منع)) په باب له سهیلي روایتوي، چې وایي: ((پر دې حدیث نیوکه دا ده، چې وایي:د خیبر د سوبې پر وخت لنډمهاله واده منع شوی دی، چې دا خبره سیرت کاږي او د احادیثو راویان په رسمیت نه پېژني))

ابن حجر د همدې کتاب پر ۷٤ مخ کې د ابن قیم خبره (چې مخکې تېره شوه) راخلي.

ب) ابن حجر (فتح الباري، ۱۲ ټ، ۷۰ مخ) له ابن عباسه روایتوي، چې هغه د ((کورني خره)) د غوښې د خوړو د حلال والي لپاره په دې آیت استدلال کاوه:قل لا اجد فی ما اوحی الی محرما...

ژباړه:ووایه، چې راته وحې شوي، حرام پکې نه موم...))

مؤلف وایي: د کورني خرو د غوښې له خوړو د رسول اکرم نهې شونې ده، چې یوازې د خیبر په کورني خرو پورې ځانګړې وي او د یوه لامل له مخې وي، چې په لاندې روایاتو کې راغلی دی:

په صحیح بخاري (باب لحوم الخیل) کې ابي اوفي روایتوي، چې یې وویل: ((په خیبر غزا کې وږي شوو، سره له دې، چې دیګونه خوټېدل او ځیني غوښې پخېدو ته نژدې وې، د رسول اکرم جار چي غږ کړ: ((ببخي د دې خرو غوښه مه خورئ او ټوله لرې وغورځوئ.))

ابن ابي اوفي وایي: ((موږ یې خبر کړو، چې رسول اکرم له دې امله منع کړو، چې د هغوی خمس (پینځمه) یې بېل کړی نه و.

ځینو هم ویلي دي: ((رسول اکرم یې ځکه د غوښې خوراک منع کړ، چې چټل خواړه ول)) وګورئ:شرح فتح الباري:۹ ټ، ۲۲ مخ
او ښایي د تحریم لامل یې یو څیز وي، چې ابوداوود د خپلو سننو (۲ ټ، ٦٤ مخ) په خراج کتاب، باب: ((تعشیر اهل الذمة)) کې له عرباض بن ساریه سلمي روایت کړی، چې یې ویلي دي: ((په خیبر کې راکوز شوو او له رسول اکرم سره خپل اصحاب ول. د خیبر خاوند، چې سرغړاند او بدخویه و، رسول اکرم ته وویل: ((محمده!تاسې ته روا ده، چې خره مو ذبح کړئ، مېوې مو وخورئ او ښځې مو ووهئ؟)) رسول اکرم غوسه شو و یې ویل: ((د عوف زویه!پر آس دې سپور شه او غږ کړه چې: ((باخبر، چې دا کرونده یو مؤمن ته هم حلاله نه ده او دا چې ګرد لمانځه ته راټول شئ.))
وایي: ((راټول شول. رسول اکرم ورته لمونځ ورکړ او بیا راپاڅېد، و یې ویل:ایا ځینو مو پر بالښتونو ډډه وهلې او انګېري، چې کوم څیز (؛ خو څه چې په قرآن کې دي) حرام کړی نه دی؟باخبر، چې موعظه مې وکړه او په داسې څیزونو مې امر و نهې وکړه، چې د قرآن په څېر یا ترې ورزیات دی. خدای اجازه درکړې نه ده، چې بې اجازې د کتابیانو کورونو ته ننوځئ او حق نه لرئ، چې ښځې یې ووهئ او مېوې یې وخورئ او دا حکم تر هغه وخته پورې پر خپل ځای دی، چې خپل مالیات او واجب حقوق درکړي))
د ابن اوفي په روایت کې هغه لامل ښوول شوی، چې په هغو ورځو کې رسول اکرم اصحاب د کورني خرو د غوښې له خوړو منع کړي ول. ځینې اصحابو، چې پخپله د پېښې شاهدان ول، ویلي یې دي: ((د نهې لامل یې دا وه، چې د هغوی پینځمه یې ورکړې نه وه.))

دا موضوع هغه روايات تاييدوي، چې د ((غلول او خيانت)) په اړه رارسېدلي دي. يا دا چې د رسول اکرم نهې د نورو د مالونو له لوټولو نهې وه؛ لکه چې په لاندې حديث کې ده:د ابي داوود په سننو (٣ ټ، ٦٦ مخ، باب فی النهی عن النهی) کې له يوه انصاري سړي روايتوي، چې يې وويل: ((له رسول اکرم سره يوه سفر ته ولاړو او خلک لوږې راوخستل او پسونه يې وموندل او ويې لوټل. ديګونه مو خوټېدل، چې رسول اکرم کمان په لاس راورسېد او په خپل کمان يې ديګونه واړول او غوښې يې په خاورو ولړلې و يې ويل: ((لوټونه تر مردارو ډېره حلاله نه ده))

نورو هم - لکه چې تېر شو - وويل: ((د کورني خرو غوښې خوراک؛ ځکه منع شول، چې چټل خواړه ول))

د ((لنډمهالي واده)) د تحريم موضوع همداسې ده؛ ځکه عرباض بن ساريه روايت وکړ، چې هغه سرکښ بدخويه يهودي، رسول اکرم ته شکايت وکړ و يې ويل: ((ايا تاسې ته روا ده، چې زموږ خره ووژنئ، مېوې مو وخورئ او ښځې مو ووهئ؟)) او رسول اکرم ګرد راټول کړل او ورته يې وويل: ((تاسې ته بې اجازې د کتابيانو کورونو ته ننوتل روا نه دي او حق نه لرئ، چې ښځې يې ووهئ او مېوې يې وخورئ دا حکم تر هغه وخته پر خپل ځای دی، چې خپل مالياتو او واجب حقوق درکړي))

نو ځکه په دې اړه هم د رسول اکرم نهې يوازې د هغو کتابيانو د ښځو له وهلو او نهې وه، چې ((جزيه او ماليات)) يې ورکول او له ((لنډمهالي واده)) نهې نه وه.

دا وه د خيبر د غزا کيسه، چې تېره شوه؛ خو د ((متعې)) د تحريم يو پلوي، يو روايت راپنځولی او د امام علي (ک) د لمسي له خولې يې په هغه پورې تړلی دی، چې متعه پلوي ابن عباس ته يې ويلي: ((ته ځانمنی يې)) او هغه يې خبر کړی، چې رسول اکرم په خيبر غزا کې ((لنډمهالی واده)) منع کړی دی او همدا راز د کورني خرو د غوښې له خوړو دې خلاق نوښتګر هېر کړي، چې امام علي (ک) هماغه دی، چې يې ويل: ((که عمر لنډمهاله واده منع کړی نه وای؛ نو بې له بدمرغه چا زنا نه کوله.))

هېښنده خو دا ده، چې دلته يې د امام علي له لمسيو د لنډمهالي واده د تحريم روايت په امام علي (ک) پورې تړلی دی او پر همدي سندي جوړښت او ترکيب يې يو بل روايت هم جوړ کړی او ويلي يې دي: ((امام علي حکم وکړ، چې ((حج)) له ((عمرې)) بېل کړئ!))او لرې نه ده، چې د دواړو رواياتو پنځګر او نوښتګر يو تن وي.

۲. د ابوذر د روايت حالت همداسې دی. له ابوذره يې روايت کړی، چې ويلي يې دي: ((د حج متعه يوازې د محمد (ص) په اصحابو پورې ځانګړې وه او دا اجازه يوازې موږ ته وه))

او د لنډمهالي واده په اړه يې هم روايت کړی، چې يې ويلي دي: ((لنډمهاله واده يوازې موږ ته د رسول اکرم اصحابو ته درې ورځې روا شو او بيا رسول اکرم ترې نهې وکړه)) او دا چې ويلي يې دي: ((او لنډمهاله واده ځکه و، چې موږ په وېره او جګړه کې وو.))

او هېښنده داچې، د ابوذر په دواړو رواياتو کې دلته او هلته په دواړو لارو کې ابراهيم تيمي او عبدالرحمان بن اسود دي او د سند له اړخه د دواړو

روایاتو حال د هماغه روایاتو له حاله سره یو شان دی، چې په امام علي (ک) پورې یې تړلي دي.
۳ او ٤. خو د سبره جهني روایت: سم یې هماغه دی، چې د وینې په لومړیو کې مو له صحیح مسلم، د امام احمد د مسند او د بیهقي له سننو مو راوړی و، چې: ((رسول اکرم ورته د لنډمهالي واده اجازه ورکړه)) او دا چې ((د بني عامر له یوې ښځې سره یې ((لنډمهاله نکاح)) وکړه او خپل څادر یې په مهر کې ورکړ او درې ورځې ورسره و، بیا رسول اکرم وویل: له چا سره چې د دې ((متعه شویو)) ښځو څه پاتې وي، ازادې دې یې کړي))؛ یعنې رسول اکرم ورته وویل:چې له هغو ښځو دې بېل شي، چې ((لنډمهاله نکاح)) یې ورسره کړې ده او له مکې نه وتلو ته دې چمتو وي)) تر څه مودې وروسته د ((لنډمهالي واده په اړه حضرت عمر د چار مخوونکي)) ډګر ته راووتل او ددې روایت عبارات یې واړول او د [لیخل سبیلها= لار دې یې خوشې کړي] غونډله یې په [انها حرام من یومکم هذا الی یوم القیامه؛ دوی له ننه مو د قیامت تر ورځې حرامې شوې] واړوله، چې وښیي، ((لنډمهاله واده)) د مکې په سوبې کې حرام شوی [نه دا چې خلیفه حضرت عمر حرام کړی وي]؛ خو دا چې دا روایت د ((متعې د حرمت)) په اړه له نورو روایاتو سره اړخ نه لګوي – هغه روایات چې ځینې یې په ډاګه وایي، چې ((لنډمهاله نکاح)) د ((مکې له سوبې)) مخکې او د ((خیبر د سوبې))پر مهال ((تحریم))شوې وه او ځینې وایي:جواز او حرمت یې دواړه د مکې تر سوبې وروسته و – او دا چې ځان د دې ټولو روایاتو په سموالي او رښتیتوب ملزم بولي، دې ته اړ شول، چې دې ښکاره تناقض او ټکر ته یو ځواب چمتو کړي؛ نو له دې امله داسې یو څیز یې په محمدي

شریعت پورې وتاړه، چې د اسلام سپېڅلی دین ترې نړه دی او هغه داچې: ((دا پېښه څو ځل نسخ شوې ده)) چې شرح یې دا ده:

١١. تر یو ځل ډېر د لنډمهالي واده د حکم نسخ:

مسلم په خپل صحیح کې یو باب لري، چې: ((د متعې د نکاح باب او د دې څرګندونه، چې روا شوه او نسخ شوه او بیا روا شوه او نسخ شوه او تر دې وروسته د نسخ حکم یې د قیامت تر ورځې پاتې دی.))

ابن کثیر (١ ټ، ٤٧٤ مخ) په خپل تفسیر کې وایي: ((شافعي او یو شمېر نور عالمان پر دې دي، چې: لنډمهاله واده حلال شو او نسخ شو وروسته حلال شو او دویم ځل نسخ شو.))

ابن عربي (مشروح خبرې یې راځي) وایي: د ((لنډمهالي واده)) حکم دوه ځل ((نسخ)) شوې او بیا ((حرام)) شوی دی.))

زمخشري هم په کشاف تفسیر (١ ټ، ٥١٩ مخ) کې ورته اشاره کړې ده. او نورو ویلي دي: ((لنډمهاله نکاح)) تر دوو ځلو ډېر نسخ شوی دی.

ابن رشد (بدایة المجتهد:٢ ټ، ٦٣ مخ) وایي: لنډمهاله واده پینځه ځل نسخ شوی دی.

او حق له دې وروستۍ ډلې سره دی؛ ځکه که په یوه حکم کې د ((نسخ)) تکرار د احادیثو د ټکر او تناقض د منځه وړو لپاره ومنو؛ نو له ناچارۍ باید ووایو، چې د نسخ تکرار د متناقضو احادیثو د شمېر هومره دی.

نو له همدې مخې څه چې قرطبي د ابن عربي تر خبرې وروسته روایتوي سم دي.

قرطبي (تفسیر:٥ ټ، ١٣٠ او ١٣١ مخونه) وایي: بل عالم، چې د ((لنډمهالي واده)) د احادیثو لارې راټولې کړي ویلي دي:

((ددې احاديثو غوښتنه ده، چې د ((لنډمهالي واده)) حكم به اوه ځل حلال او حرام شوى وي؛ ځكه ابن عمره روايتوي، چې دا حكم د اسلام په لومړيو وختونو كې و او سلمة بن اكوع روايتوي، چې دا د ((اوطاس)) د سوبې په كال پورې اړوند دى او په علي (ک) پورې اړوند رواياتو څرګنديږي، چې د ((خيبر په سوبې)) كې و او ربيع بن سبرة يې د حليت روايت د مكې په سوبې پورې اړوند ګڼي.

په صحيح مسلم كې ددې رواياتو لارې راغلي دي او بې له صحيح مسلم څخه، د علي (ک) له خولې روايتوي، چې نهې يې د تبوک په غزا كې وه.

د ابو داوود په سننو كې له ربيع بن سبره روايتوي، چې نهې يې په حجة الوداع كې وه او ابن داوود دا وروستى روايت ددې باب خورا سم روايت بولي او عمرو له حسن نه روايتوي چې تر حجة الوداع مخكې او وروسته روا شوې نه ده. دا خبره د سبره له خولې هم روايت شوې ده او دا اوه دريځونه دي، چې لنډمهالى واده پكې حلال او بيا حرام شوى دى...))

* * *

په دې توګه په صحاحو كې د شتو احاديثو پر سموالى التزام، د خلفاوو د ښوونځي لارويان دې دريځ ته رارسولي، چې ووايي: ((لنډمهاله واده، د اسلام په شرح كې څو ځل نسخ شوى دى)) او ابن قيم (ازاد المعارف، ۲ ټ، ۲۰٤ مخ) په دې اړه څومره ښه خبره كړې ده، چې وايي: ((په يقين، چې په شريعت كې دغسې نسخ بې مخينه ده او په څېر يې په اسلام كې نه كېدونكې ده.))

او د ابن عربي (د ترمذي شرح، ۵ ټ، ۴۸-۱۵ مخونه) خبره څومره سپكه ده، چې په دې اړه وايي:

(([د ځو ځل نسخ] دا څرګند او پوره ټینګ باب د احکامو په ناسخ و منسوخ کې ثابت دی او د دې شریعت له عجایبو څنې دی، چې ((څو ځل)) نسخ پکې پیښېږي...))

پر دې ویلو سربېره نه پوهېږم، څرنګه یو له دې روایاتو سم وګڼل شي، چې په ((تواتر)) یې له حضرت عمره روایت کړی، چې یې ویلي دي: متعتان کانتا علی عهد رسول الله (ص) انا الهی عنهما:متعه النساء و متعه الحج؛ د رسول اکرم پر مهال دوه متعې وې، چې یې زه [اوس] منع کوم: د ښځو متعه [لنډمهالی واده] او د حج متعه او په بل عبارت (زاد المعاد، ۲ ټ، ۲۰۵ مخ) کې وایي: ((و احرمهما؛ او هغه دواړه حراموم)) څنګه کېدای شي، چې یو له دې روایاتو سم وي، سره له دې، چې په سم روایت کې له جابره وایي: ((موږ د رسول اکرم (ص)، ابوبکر او عمر په وختونو کې لنډمهاله واده کاوه؟))

او په بل روایت کې وایي: ((د عمر د خلافت تر وروستیو پورې او...))

په بل روایت کې وایي: ((موږ د رسول اکرم او ابوبکر په وختونو کې په یوه اندازه کجورو او اوړو متعه کوله، تر دې چې عمر د عمروبن حریث د کړنې له امله منع کړه))[د روایاتو سرچینې مخکې ویل شوي دي]

او څرنګه شونې ده، چې له دې روایاتو یو سم وي او پخپله حضرت عمر او له اصحابو او تابعینو څنې یوه هم د ابن زبیر تر مهاله اورېدلی نه وي؟ او یو مسلمان هم په دې اوږده موده کې ترې خبر نه وي؟که وه؛ نو حضرت عمر یې خبراوه او استشهاد یې پرې کاوه او د خلافت واکمن پلاوي د ابن زبیر تر وخته خپراوه او استناد یې پرې کاوه.

په تېره بیاچې د تحریم مخالفینو (ابن عباس، جابر، ابن مسعود او نورو) هغوی د رسول اکرم د سنتو په لاسوند مغلوب او محکوم کړي ول او نور

يې پرې ګواهان نيول او له نورو؛ لکه له اسما (د ابن زبېر مور) يې پوښتل او علي او ابن عباس په ډاګه ويل: ((که عمر ((لنډمهاله واده)) منع کړی نه وای؛ نو بې له بدمرغه چا زنا نه کوله)) او چا هم ونه ويل، چې رسول اکرم (ص) منع کړې ده.

هو! دا خو درسره منم، چې دا ډول احاديث، په دې نيت جوړ شوي، چې د لنډمهالي واده په باب د حضرت عمر دريځ تاييد او نيوکې پرې ځواب کړي؛ لکه چې يې له ((عمرې)) د ((حج)) د بېلونې احاديث هم پر هغه د نيوکو د لرې کولو لپاره جوړ کړي او دا دهغو احاديثو په څېر دي، چې د قرآن د سورتونو د لوستو په ځانګړنو کې يې د ثواب په نيت جوړ کړي وي.

حافظ محي الدين نواوي په خپل ((تقريب)) کې وايي: ((حديث سازي څو ډوله دي، چې خورا خطرناک او زيان رسوونکي هغوی دی، چې ځان يې د زهد په جامو کې رانغاړلی وي او د ثواب لپاره احاديث جوړولي او خلک يې جوړونې ورباندې د ډاډ له امله مني))

او سيوطي د نواوي په شرح (تدريب الرواي:۱ ټ، ۲۸۲ مخ) کې وايي: ((د ثواب لپاره د جوړشوي روايت يوه بېلګه، هغه روايت دی، چې حاکم په خپل لاسوند تر ابوعمار مروزي پورې روايتوي، چې ((ابوعصمت، نوح بن ابي مريم ته ووېل شول، تا څرنګه د قرآن د هر يو سورت په ځانګړنو کې د عکرمه له خولې له ابن عباسه دا ټول روايات راوړي دي، حال دا چې دا يو روايت هم د عکرمه له اصحابو سره نشته؟)) هغه ووېل: ((ومې ليدل، چې خلکو قرآن ته شا کړې او د ابي حنيفه فقهې او د ابن اسحاق مغازي ته يې مخه کړې؛ نو ځکه مې د ثواب لپاره دا احاديث جوړ کړل...))

او په دې توګه د متعو په نهې کې د حضرت عمر د دریځ د تایید لپاره احادیث جوړ شوي دي. په تېره بیا له لنډمهالي واده د رسول اکرم د نهې په باب، چې روایت شوی دی، چې زما په اند د ابن زبیر تر زمانې وروسته او د احادیثو د راټولونې او تدوین پر پېر مخکې، جوړ شوي دي؛ یعنې دا ډول احادیث د لومړي پېړۍ په وروستیو او د دویمې پېړۍ په پیل کې د حضرت عمر کړنې ته د مخونې لپاره جوړ شوي دي.

هو! یو یې حدیث جوړ کړ، و یې ویل: ((رسول اکرم د خیبر په غزا کې ((لنډمهاله واده)) منع کړ.)) بل وویل: ((رسول اکرم په قضایي عمره کې حلال او حرام کړ.)) او درېمی وایي: ((دا حکم د مکې په سوبه کې و)) او څلورم یې وایي: ((د اوطاس د سوبې پر کال و)) او پینځم وایي: ((د تبوک په غزا کې پېښ شوی دی)) او شپږم ویلي: ((په حجة الوداع کې و))[دا لړۍ ابن حجر د فتح الباري په یولسم ټوک، ۷۳ مخ کې راوړې ده] او په دې توګه هر یو یې غواړي، چې ووایي: ((حلیت او حرمت یې سره یوځای، په یوه وخت او ځانګړي ځای او د رسول اکرم په زمانه کې و او د حضرت عمر تحریم هم له همدې امله و.))

هو! دا احادیث له سره په ټکر کې دي او د خلفاوو د ښوونځي پوهان د دې ټکر په لرې کولو پسې راووتل؛ خو داسې پلمه یې ورته راوړندې کړه، چې د اسلامي شریعت د نیمګړتیا لامل شوه؛ نو ځکه یې دا منع په رسول اکرم پسې وتړله او سره له دې، چې په ((محمدي شرع)) پورې تور و، پر هغه منع یې منګولې ښخې کړې، و یې ویل: ((دا حکم دوه ځل حلال او دوه ځل نسخ شوی دی.)) و یې ویل: ((حلالېدل او نسخ یې تر دې ډېره وه او تر اوو ځل پورې وه!))

او هغوی چې ځان ددې احادیثو پر سموالي ملتزم بولي او پر همدې خپله خبره ټینګ ولاړ وي، اسلام ته سپکاوی ستر ناوړین نه ګڼي!
د خلفاوو د ښوونځي عالمانو د لنډمهالي واده د تحریم په تایید کې له دې احادیثو ګټه وړې ده. بېلګه یې د یحیی بن اکثم او مامون الرشید ترمنځ د درېمې لېږدیزې پېړۍ په سر کې خبرې اترې دي، چې ابن خلکان د محمد بن منصور له خولې روایتوي، چې: ((موږ له عباسي خلیفه مامون سره د شام په لاره کې وو، چې یې وویل: غږ کړئ: ((لنډمهاله واده حلال دی)) یحیی بن اکثم ما او ابی العیناء ته وویل: ((ګهیځ وخته ورشئ، که د خبرو ځای و؛ نو ورسره یې وکړئ؛ که نه چوپ شئ، چې زه درشم)) وایي: ((مامون ته ولاړو، چې مسواک وهي او په غوسه وایي: ((دوه ډوله متعې وې، چې د رسول اکرم او ابي بکر په وختونو کې کېدې او زه یې منع کوم!نوښتګره!ته څوک یې، چې رسول اکرم او ابوبکر ترسره کول؛ خو ته یې منع کوې؟)) ابوالعینا ما (محمدبن منصور) ته اشاره وکړه، و یې ویل: ((هغه سړی، چې د عمربن خطاب په اړه داسې وایي، موږ ورسره خبرې وکړو؟)) وایي: ((له دې امله چوپ شول، چې یحیی بن اکثم راغی او کېناستو.))
مامون الرشید، یحیی ته وویل: ((څه شوي، چې غوسناک دې وینم؟))
یحیی وویل: ((په اسلام کې د راپېښ شوي ناورین له خپګانه))
مامون وویل: ((څه راپېښ شوي دي؟))
یحیی وویل: ((د زنا د حلیت غږ!))
مامون وپوښتل: ((زنا؟))
یحیی وویل: ((هو! متعه [لنډمهاله واده] زنا ده!))
مامون وویل: ((له کومه وایې؟))

یحیی وویل:د خدای له کتاب او د رسول اکرم له حدیثه؛ ځکه خدای وایي: ((قد افلح المؤمنون - الی قوله – والذین.... هم العادون))
وروسته یې وویل: (امیرالمؤمنینه!مینزه لنډمهاله ښځه ده؟))
مامون وویل: ((نه)).
یحیی وویل:لنډمهاله ښځه دې هماغه ښځه ده، چې میراث وړي او میراث پرېږدي او اولاد یې ورسره یوځای کېږي (مخکې وویل شول، چې د اهل بیتو په ښوونځي کې د لنډمهالي او همېشنی ودونو اولادونه یو شان دي.) او هغه شرایط لري؟))
مامون وویل: ((نه))
یحیی وویل:چې څوک له دې دواړو [همېشني واده او مینزې] پښه واړوي له پوله اوښتو ځنې دی.
امیرالمؤمنینه!دا زهري دی، چې له عبدالله اوص (د محمدبن حنیفه زامن) له پلرونو له علي بن ابیطالب (رض) روایتوي، چې یې وویل:
رسول اکرم راته حکم وکړ، چې په لوړ غږ د ((متعې نهې او تحریم یې)) اعلان کړه او داحکم تر هغه وروسته و، چې آنحضرت (ص) یې د کولو حکم ورکړی و))
مامون راته وویل: ((د زهري حدیث خوندي دی؟))
ومو وویل: ((هو! امیرالمؤمنینه!له راویانو یې یو هم مالک دی.))
مامون وویل: ((استغفرالله؛ له خدایه ښښنه غواړم، غږ کړئ، چې لنډمهاله واده حرام دی. او داسې یې وکړل!))
ابواسحاق، اسماعیل بن حمار بن زید، د مالکي مذهب فقیه، یوه ورځ د یحیی بن اکثم په باب خبرې وکړې او هغه یې د ستر مقام خاوند وباله، و

يې ويل: ((په څېر يې په اسلام کې څوک مقام نه لري او همدا ورځ يې رایاده کړه)) وګورئ:د فيات الدعيان ۵ ټ، ۱۹۹ او ۲۰۰ مخونه

هو! د خلفاوو د ښوونځي عالمان د وييني او مناظرې پر مهال په دې احاديثو استدلال کوي او چې کله د حضرت عمر له غوښې خبرې سره مخ شي او مني، چې يې ويلي دي: ((د رسول اکرم په زمانه کې دوه متعې کېدې او زه يې منع کوم او چا چې وکړې سزا ورکوم))؛ نو وايي: ((خليفه اجتهاد کړی دی!)) سره له دې، چې د خدای او استازي يې حکم دی؛ خو خليفه اجتهاد کړی دی!

وګورئ:ابن ابی الحديد، شرح نهج البلاغه:۳ ټ، ۳٦۳ مخ

لیکوال: استاد علامه شهید مرتضی مطهري

لنډمهاله واده

په ډېرو اسلامي مسایلو چې نیوکې کېږي او په اړه یې، چې کومې شبهې دي او له ټولې مینې او گروهې سره، چې له دې دین سره یې لرم، د ډېرو پر عکس، کله هم پرې نه خپه کېږم؛ بلکې په زړه کې خوشحاله یم؛ ځکه گروهمن یم او په عمر کې مې په تجربې هم لیدلي، چې دا سپېڅلی اسماني دین په هر مورچه یا مورچو کې، چې تر ټولو ډېر تر برید لاندې راغلی؛ نو په لا ځلانتیا، قوت او سرلوړۍ راښکاره شوی دی. دا د حقیقت ځانگړنه ده، چې شک او تشکیک یې له روښوالي سره مرسته کوي. شک د یقین سریزه او تردید د پلټنې پوړۍ ده. د غزالي په "میزان العمل" رساله کې راغلي: ((د وینا همدومره گټه راته بس ده، چې تا د زوړ او گروهو په اړه شکمن کړي؛ ځکه شک د پلټنې بنسټ دی او څوک چې شک نه کوي، سم غور نه کوي او څوک چې سمه کتنه ونه کړي، سمه لیدنه نشي کړای او دا شان کس په ړوندتوب او حیرانۍ کې وي.))

پرېږده، چې ووایي او ولیکي او نیوکې وکړي، بې له دې چې خپله غواړي؛ نو دا کار به یې د اسلامي حقایقو د روښانېدو وسیله شي.

د جعفري فقهې له لید لوري، واده د اسلام له ځلاندو قوانینو دی، چې په دوه ډوله ترسره کېږي. دایم او لنډ مهاله.

دایم او لنډمهاله واده په ځینو ځایو کې سره یو او په ځینو کې سره اختلاف لري. څه چې په لومړۍ درجه کې دا دواړه له یو بله بیلوي، دا دی چې ښځه او سړی تصمیم نیسي، چې د لنډ وخت لپاره سره واده وکړي او د مودې تر پوره کېدو وروسته که لېواله ول؛ نو تمدید دې کړي که لېواله نه وه، له یو بله دې بېل شي.

بل دا چې د شرایطو له اړخه ډېره ازادي لري، چې څرنګه غواړي په هر ډول تړون تړلای شي. د ساري په ډول: په دایمي واده کې وغواړي که نه سړی باید د روزانه لګښت، جامو، کور او د ښځې د نورو اړتیاوو؛ لکه دارو او ډاکتر په شان چارو ته اوږه ورکړي؛ خو په لنډمهاله واده کې د طرفینو لخوا په ازاد تړل شوي تړون پورې اړه لري، ممکن سړی ونه غواړي یا ونشي کړای دا لګښتونه پوره کړي یا ښځه ونه غواړي د سړي له پیسو ګټه وکړي.

په دایمي واده کې ښځه باید سړی د کورنۍ د مشر په توګه وپېژني او د کورنیو ګټو په پولو کې یې امر ومني؛ خو په لنډ مهاله واده کې په تړل شوي تړون پورې اړه لري.

په دایمي واده کې ښځه او مېړه له یو بله ارث وړي؛ خو په لنډمهالي واده کې دا شان نه دي.

نو له دایمي واده سره د لنډمهالي واده اصلي او جوهري توپیر دا دی، چې لنډ مهاله واده د حدودو او قیودو له اړخه ((ازاد)) دی؛ یعنې د طرفینو په ارادې او تړون پورې اړه لري، ان لنډوالی هم په حقیقت کې طرفینو ته یو ډول ازادي وربښي او ورته وخت ورکوي.

په دایمي واده کې ښځه او مېړه یو هم د یو بل له خوښې پرته حق نه لري د ماشوم راوړو مخنیوی وکړي؛ خو په لنډمهاله واده کې د بل لوري دا

خوښي اړینه نه ده. په حقیقت کې دا هم یو ډول بله ازادي ده، چې زوجینو ته ورکړل شوې ده. هغه ماشوم، چې ددې واده له لارې لاس ته راځي، له دایم واده سره هیڅ توپیر نه لري.

مهر، هم په دایم واده کې لازم دی او هم په لنډمهالي کې، په دې توپیر، چې په لنډ مهاله واده کې د مهر نه ذکر کول د تړون د ماتېدو لاملېږي او په دایم کې عقد نه باطلېږي، مهر المثل ټاکل کېږي.

لکه څرنګه چې په دایم عقد کې د ښځې مور او لور په سړي حرامه ده او د سړي پلار او زوی په ښځې حرام او محرم دي، په لنډمهاله- منقطع عقد کې هم داشان دی؛ لکه څرنګه چې نورو ته په دایمي(واده شوې) ښځې مرکه کول حرام دي، په لنډمهالې ښځې هم نورو ته مرکه حرامه ده. لکه څرنګه چې له بلې دایمي(واده شوې) ښځې سره زنا د ابدي حرمت لامل ګرځي، له موقتې ښځې سره زنا هم د ابدي حرمت لامل ګرځي؛ لکه څرنګه چې دایمه (واده شوې) ښځه تر طلاق وروسته باید تر یوې مودې صبر وکړي(عده) موقته ښځه هم باید له مودې تر پوره کېدو وروسته باید صبر وکړي (عده)، په دې توپیر، چې د دایمې ښځې عده درې ځلې د میاشتنیو جامو راتلل دي او د غیر دایم دوه ځل یا څلویښت ورځې دي.په دایمي واده کې له دوو خویندو سره واده کول جایز نه دي، په موقت کې هم جایز نه دي.

دا هغه څه دي، چې په جعفري فقه کې د لنډمهاله واده په نامه راغلي دي.

ښکاره ده، چې موږ له داسې ځانګړنو سره ددې قانون پلویان یو؛ خو دا چې خلکو له دې قانونه ناوړه ګټنې کړي او کوي یې؛ نو دا له قانون سره هیڅ تړاو نه لري. ددې قانون له منځه وړل د هغو ناوړه ګټنو مخنیوی

نشي کړای؛ بلکې شکل یې بدلوي او سربېره پردې په سل گونو نور مفاسد هم ددې قانون د لغو کولو له امله رامنځ ته کیږي.
په هغو ځایونو کې، چې د انسانانو سمونه وکړو او پوه یې کړو؛ نو دا چې موږ د انسانانو د سمونې وړتیا نه لرو، په بیا بیا دې د قانون مواردو ته گوت نیونه و نه کړو او نباید په دې اړه انسان تبرئه کړو او قوانین مسوول وگڼو.
اوس وینو، چې د لنډمهالی واده په درلودو سره څه اړتیا ده، چې د لنډمهالي واده د قانون په نامه قانون جوړ کړو.ایا لنډمهاله واده د ښځې له انساني حیثیت او د بشر د حقوقو د اعلامیې له روحیې سره په ټکر کې دی؟ لنډمهاله واده که لازم هم و، ایا په پخوا وختونو کې اړین و؛ خو ایا د نننی وخت ژوند او شرایط ورسره ټکر نه لري؟
موږ دا مطلب تر دوو عنوانو لاندې څېړو:
الف- نننی ژوند او لنډ مهال واده
ب- د لنډمهالي واده مفاسد او نیمگړتیاوې

نننی ژوند او لنډ مهاله واده
لکه څرنگه چې مو وویل دایم واده، زوجینو ته ډېر مسوولیت ور په غاړه کوي؛ ځکه داسې انجلۍ او هلک به پیدا نشي، که د طبیعي بلوغ په پیل کې د غریزې تر فشار لاندې راشي؛ نو دایم واده ته به غاړه کیږدي.د نوي پېرځانگړنه دا ده، چې د طبیعي بلوغ او ټولنیز بلوغ او د کورنۍ د تشکیل د ځواک واټن یې لاپسې زیات کړی دی. که په پخواني ساده پېر کې یو هلک د طبیعي بلوغ په لومړنیو کلونو کې داسې کار ته د عمر تر پایه ورغاړې واته او کړای یې هم شو؛ خو په نوي پېرکې دا ناشونې

ده. یو بریالی ځوان، چې خپل د زده کړې پېر له لیسې واخله تر پوهنتونه پورې په ښه شان سرته ورسوي؛ نو ۲۵ کلن به وي او تر دې وروسته کړای شي کار او ګټه ولري، درې څلور کاله هم لګي، چې ځان ته څه برابر کړي او دایم واده ته چمتو شي او انجلۍ هم دا شان ده.

ننني ځوان، د بلوغ پېر او جنسي کړکېچ
که تاسې نن اتلس کلن ځوان محصل ته چې د جنسي جذبې په لوړ پړاو کې دی، ورته د دایم واده وړاندیز وکړئ؛ نو درپورې وبه خاندي. شپاړش کلنه محصله انجلۍ هم دا شان ده. عملاً دا ناشونې ده، چې دا طبقه په دې عمر کې دایم واده ته غاړه کېږدي، چې د یو بل پر وړاندې او د خپل اولاد پر وړاندې درانده مسولیتونه لري.
کوم یو؟ لنډمهال رهبانیت یا جنسي کمونزم یا لنډمهال واده؟
تاسې پوښتم: په دې حال کې، طبیعت او غریزې سره څه چلن وکړو؟ ددې کبله چې په ننۍ نړۍ کې د ژوند وضع مو نه پرېږدي، چې په شپاړلس او اتلس کلنۍ کې واده وکړو، ایا طبیعت چمتو دی، چې د بلوغ پېر وځنډوي، څو زده کړې مو پای ته نه وي رسولي، جنسي غریزه راسره کار ونه لري؟
ایا زلمي چمتو دی، چې د ((رهبانیت لنډ مهالی)) پېر تېرکړي او ځان تر سخت فشار لاندې ونیسي تر هغه، چې د دایم واده امکانات پیدا شي؟
که فرض کړو یو ځوان چمتو شي، چې لنډمهالی رهبانیت ومني، ایا طبیعت چمتو دی، چې د جنسي غریزې د ممانعت له کبله، رامنځ ته شوي ناوړه او خطرناکې اغېزې ومني، چې ننۍ ارواپوهنې ترې پرده پورته کړې ده؟

یوازې دوه لارې پاتې کېږي: یا دا چې ځوانان پخپل حال پرېږدو او ځان پرې پوه نه کړو، یو هلک پرېږدو، چې له سل گونوانجلیو سره یوځای شي او یوې انجلۍ پرېږدو، چې له لس گونو هلکانو سره نامشروعه اړیکې ولري او ځو ځلې ماشوم وغورځوي؛ یعنې عملاً جنسي کمونزم ومنو او دا چې هلک او انجلۍ دواړو ته مو ((متساویاً)) اجازه ورکړې، د بشر د حقوقو د اعلامیې روح مو خوشحاله کړی دی؛ ځکه د ډېرو لنډ اندو په نظر د بشر د حقوقو د اعلامیې روح دا دی، که ښځه او سړی دواړه له یوې دروازې لوېږي؛ نو اوږه په اوږه او یوځاې دې ورټوپ کړي، لنډه دا چې ((متساویاً)) دې ورټوپ کړي.

ایا داشان جونې او هلکان د زده کړې په پېر کې له داسې ډېرو کړکیچنو اړیکو په درلودو، تر دایم واده وروسته به د ژوند ښځه او سړې ووسي؟

بله لار ازاده او لنډمهاله واده دی. لنډمهال واده په لومړۍ درجه کې ښځه محدودي، چې په یو وخت کې د دوو کسو ښځه ونه وسي. ښکاره ده، چې سړی به هم همدا شان وي.کله چې یوه ښځه د ځانگړي سړي شوه؛ نو سړي به هم د ځانگړې ښځې وي؛ خو دا چې له یوې خوا یې شمېره ډېره وي. په دې توگه انجلۍ او هلک د زده کړې پېر تېروي، بې له دې چې لنډ مهالی رهبانیت او عوارض یې تېر کړي او بې له دې چې د جنسي کمونزم په ډنډ کې غورځېدلی وي.

ازموېنېزه واده

دا اړتیا په زده کړې پورې ځانگړې نه ده. په نورو شرایطو کې هم رامنځ ته کېږي. ممکن یوه ښځه او سړی چې انگېري له یو بل سره دایم واده وکړي او لا تراوسه یې په یو بل ډاډ نه دی پیدا کړی؛ نو د ازموېنې واده

ترعنوان لاندې لنډ وخت ته یو بل سره واده کوي، که په یو بل یې ډاډ پیدا کړ، وبه یې غځوي او که نه له یو بله بېلېږي.

تاسې پوښتم دا چې اروپایان یو ډله بدکاره ښځې د ښار په یو ټاکلي ځای کې د دولت تر څارنې او نظر لاندې اړینې ګڼي؛ نو دا د څه لپاره دي؟ ایا بې له دې دي، مجرد سړي، چې دایم واده نشي کړای؛ نوکورنیو ته یې ستر خطر ګڼل کیږي؟

راسل او د لنډمهاله واده څرګندونه

مخور انګلیسي فیلسوف ((برتراند راسل)) پخپل اثر((ښځه او مېړه او اخلاق)) کې لیکي:

((که سم فکر وکړو، پوهېږو چې د معصومیت فواحش، کورنۍ او د ښځو نجونو پاکي مو ساتي. کله چې لکی د ویکتوریا په پېر کې دا ګروهه وویله، بې له دې چې پخپله یې په لامل پوه شي، اخلاقیان پرې ډېر خپه شول؛ خو کله یې هم ونشو کړای چې د لکي د ګروهې خطا اثبات کړي. د اخلاقیانو د منطق ننۍ ژبه دا ده: (که خلکو مو له ښوونو لاروي کړې وای؛ نو فحشاء به نه وه.)خو دوی پوهېږي چې څوک یې خبرې ته غوږ نه ږدي.))

هغه ښځې او سړي، چې دایم واده نشي کړای، د خطر لپاره یې دا د پېرنګیانو د هوارۍ فورمول و او د اسلام فورمول هم وړاندې شو.که د پېرنګیانو فورمول عملي بڼه واخلي او یوه ډله بدبخته ښځې دې ټولنیزې دندې ته ځانګړې شي؛ نو ایا هغه مهال به ښځه خپل انساني او ربښتیني حیثیت ته رسیدلي وي او د بشر د حقوقو د اعلامیې روح به هم خوشحاله شوی وي؟

برتراند راسل پخپل کتاب کې د تجربي واده په نامه څېرکی پرانستی او وايي:
((قاضي ليندزی چې کلونه د((دِ نور)) د محکمې مامور و او په دې موده کې يې ډېر حقايق تر سترګو تېر شوي، وړانديز کوي، چې د ((رفاقتي واده)) په نوم دې ترتيبات ونيول شي.په خواشينۍ يې (په امريکا کې) خپله دنده له لاسه ورکړه؛ ځکه وليدل شو، چې هغه د ګناه د حس تر راپورنې ډېر د ځوانانو د سعادت په فکر کې وه. ګوښه کېدو ته يې کاتوليکانو او د تور پوستو ضد ډلګۍ سره لاسونه ورکړي ول. د ((رفاقتي واده)) وړانديز يو محافظه کاره عقلمن کړی او موخه يې په جنسي اړيکو کې ټيکاو رامنځ ته کېدل دي. ((ليندزي)) پوه شوی و، چې په واده کې بنسټيزه ستونزه د پيسو نشتوالی دی. پيسو ته اړتيا يوازې د احتمالي ماشومانو له اړخه نه ده؛ بلکې له دې کبله دی، چې د ښځې له خوا د معيشت برابرول ښه نه بريښي. په دې توګه پايله ته رسي، چې ځوانان بايد ((رفاقتي واده)) وکړي، چې له درې اړخو له عادي واده سره توپير لري: لومړی دا چې له واده موخه به د نسل توليد نه وي. دويم دا تر هغې چې ځوانې ښځې ماشوم نه وي زېږولی او دوه ځانې شوي نه وي، د طرفينو په رضايت طلاق شونی دی. دريم دا چې د طلاق په صورت کې به ښځه د خوراک لپاره د مرستې وړ وي...... زه د ((ليندزي)) د وړانديزونو د اغيزمنتوب په اړه څه شک نه لرم او که قانون منلې وای د اخلاقو په ښه کېدو کې به يې ډېره اغېزه کړې وه.))
څه چې ((ليندزی)) او ((راسل)) ورته ((رفاقتي واداه)) وايي، که څه هم له اسلامي لنډمهاله واده سره لږ توپير لري؛ خو دا ښيي چې د

((لیندزی)) او ((راسل)) په څېر متفکرانو دې ټکي ته پام شوی و، چې یوازې دایم او عادي واده د ټولنې ټولو اړتیاوو ته بسیا نه بریښي.
د لنډمهاله واده د قانون ځانګړنې او د شته والي اړتیا یې او دا چې دایمي واده په یوازې ځان بشري اړتیاوو ته، په تېره بیا په نننۍ پېر کې بسیا نه دی؛ نو دا موضوع تر څېړنې لاندې ونیول شوه. اوس غواړو هغه بل اړخ یې وڅېړو، وینو چې لنډمهاله واده ممکن کوم زیانونه ولري، په سریزه کې غواړم یو مطلب ته اشاره وکړم:
په ټولو موضوعاتو او مسلو کې چې بشر ته په کې د ځرګندونې حق و او شته؛ نو د بلې هیڅ موضوع وپینه د بشري ادابو، دودونو، عنعنو، ګروهو او علومو د تاریخ په باب کړکېچنه او ګونګه نه ده؛ ځکه په هیڅ موضوع کې بشر ددې موضوعاتو په اندازه پرتې نه دي ویلي او اتفاقا د شهوت د موضوعاتو په اندازه یې په بله موضوع کې څرګندونې نه دي کړي.
د ساري په ډول که څوک په فلسفه، عرفان، تصوف او اسلامي کلام کې لږ څه معلومات ولري او بیا د نننیو لیکنو یوه برخه ووایي، چې غالباً د بهرنیانو کټ مټ خبرې دي؛ نو دوی پوهیږي، چې زه څه وایم. مثال یې داسې دی؛ لکه مستشرقین چې ددې مسلو په اړه هر ډول نظر ورکول لازم ګني؛ خو دا چې دا مسایل پخپله په ژوره توګه وپېژني او پرې پوه شي.
د ساري په ډول په اسلامي عرفان کې چې د ((وحدت وجود)) په نامه څه مشهور دي؛ نو څومره خبرې ورپسې وشوې! یوازې یو څه پاتې دي او هغه دا چې ((وحدت وجود)) څه دی او په اسلامی عرفان کې یې اتلان لکه محي الدین عربي او صدرالمتالهین شیرازي له ((وحدت وجود)) څه انګېرنې درلودې؟

چې په یوه مجله کې مې د لنډمهالي واده په اړه ولوستل؛ نو بې واکه د وحدت وجود مساله رایاده شوه، ومې لیدل ټولې خبرې راغلي، بې له هغه څه، چې ددې قانون روح او زښې جوړوي او د قانون جوړونکی موخه وه.

که څه هم، چې دا قانون یو ((ختیځ میراث)) دی؛ ځکه ورته پاملرنه نه کیږي، که دا یوه ((لویدیځه ډالۍ)) وای؛ نو دا شان به نه و. که دا قانون له لویدیځه راغلی وای؛ نو نن به پرې کنفرانسونه او سیمنارونه جوړېدل او ویل به یې چې یوازې په دایمي واده پورې، د واده ترل د شلمې پیړې له دویمې برخې سره اړخ نه لګوي، ننني کهول د دایمي واده تر دومره دباو لاندې نشي راتللای او غواړي آزاد وي او آزاد ژوند وکړي او غواړي ټول قیودات او حدود ځان ته پخپله خوښ کړي.

ځکه دا ترنم، چې اوس له لویدیځه راولاړ شوی او د ((برتراند راسل)) په شان کسان، چې د ((رفاقتي واده)) وړاندیز کوي؛ نو وړاندوینه کیږي، له هغې اندازې به یې ډېر هرکلی وشي، چې اسلام غوښتي او دایم واده بیخې شاته وغورځوي او موږ به په راتلونکی کې دې ته اړ شو، چې له دایم واده دفاع او تبلیغ یې کړو.

هغه نیمګړتیاوې او مفاسد، چې د لنډمهالي واده په هکله ویل شوي دا دي:

١- د واده سته باید پر دوام وي. زوجین، چې د ښځې او مېړه تړون تړي؛ نو تل باید ځان د یو بل وګڼي او د بېلتون تصور یې ذهن ته رانشي، نو په دې توګه لنډمهالې واده نشي کړای چې د زوجینو ترمنځ مضبوط تړون اوسي.

دا چې د واده بنسټ باید پر دوام وي، ډېر ښه مطلب دی؛ خو دا نیوکه هله سمه ده، چې وغواړو لنډمهاله واده د دایمي واده ځایناستی کړو او دایمي واده منسوخ کړو.
بېشکه که طرفین د دایمي واده شرایط لري او په یو بل یې پوره ډاډ پیدا کړ او هوډ یې نیولای وي، چې تل به د یو بل وي، د دایمي واده تړون تړي.
لنډمهاله واده؛ ځکه تشریع شوی، چې دایمي واده په یوازې ځان نشي کړای په ټولو شرایطو کې د بشر اړتیاوې ځواب کړي او یوازې په دایمي واده پورې د مسلې انحصار (؛ یعنې چې ووایو یوازې دایمي واده دی او بس) به ددې لامل شي، چې وګړي لنډ مهالي رهبانیت ته مخه کړي او یا هم د جنسي کمونزم په ډنډ کې وروغورځېږي. دا ښکاره خبره ده، که هلک او انجلۍ ته د دایمي واده شرایط وي؛ نو ځان دې په لنډمهالي واده نه بوختوي.
۲- خپله ایراني هلکانو او انجونو د لنډمهالي واده هر کلی نه دی کړی، چې شیعه مذهبه دي او هغه یې د ځان یو ډول سپکاوی ګڼلی؛ نو خپله د شیعه وو عمومي افکار یې هم ردوي.
په واده شویو ښځو کې د لنډمهالي واده د کرکې لامل د هغو هوسرانو سړیو ناوړه ګټنې دي، چې په دې اړه یې کړي دي او قانون یې باید مخه ونیسي او موږ به ددې ناوړه ګټنو په هکله ویینه وکړو.دویم، دا چې د دایمي واده په شان د لنډ مهالي واده هرکلي هم وشي؛ نو دا ناسمه تمه ده، حال دا چې د لنډمهالي واده فلسفه دا ده، چې طرفین دایمي واده ته چمتووالی نه لري او یا ورته ناشوني وي.

۳- لنډمهاله نکاح د ښځې د حیثیت او درناوي پرخلاف ده؛ ځکه یو ډول انسان په کرایه نیول دي او انسان پلورنې ته شرعي جواز دی، دا د ښځې د حیثیت پر خلاف، د څو پیسو پر وړاندې، چې له سړي یې اخلي، خپل وجود ورته ورکوي.

دا نیوکه تر ټولو عجیبه ده. لومړی دا چې د لنډمهالي واده ځانګړنې مو، چې مخکې وویلې، له کرایې او اجارې سره څه تړاو لري، ایا د لنډمهالي واده د مودې محدودیت د دی لاملېږي، چې د واده له صورته ووځي او د اجارې او کرایې بڼه ونیسي؟ ایا دا چې غوښ او ټاکلی مهر لري؛ نو کرایه او اجاره ده؟ که بې مهره و او سړي، ښځې ته څه نه ورکول؛ نو ایا ښځې خپل انساني حیثیت لاس ته راوړی؟ موږ به د مهر په اړه بیله وینه وکړو.

فقې دا روښانه کړې او مدني قانون هم پر همدې بنسټ ځان تنظیم کړی، چې لنډمهاله او دایم واده، د تړون د منځپانګې له اړخه له یو بل سره هیڅ توپیرنه لري او نه یې هم باید ولري، دواړه ودونه دي او دواړه باید په ځانګړو ټکیو سره وشي او که لنډمهاله نکاح د کرایې او اجارې له ځانګړې خطبې (صیغې) سره وویل شي؛ نو باطله ده.

دریم داچې، له کومې نېټې او وخته د انسانانو کرایه منسوخه شوې؟ ټول درزیان، نابیان، ډاکتران، کارپوهان، د دولت ټول کارمندان له لومړي وزیر نیولي تر ټیټ رتبه کارمنده او د کارخانو ټول کارګران د کرایو سړي دي.

څلورم دا، هغه ښځه چې پخپل واک او خوښه له یو سړي سره لنډمهاله نکاح تړي؛ نو دا کرایي انسان نه دی او د انساني شرافت او کرامت پر خلاف یې کوم کار نه دی کړی. که غواړئ، چې کرایي ښځه ووینی، که

غواړئ د ښځې مریتوب ووینی، اروپا او امریکا ته سفر وکړئ او د فیلمومو کمپنیو ته لږ سر ورښکاره کړئ، پوه به شی، کرایه ښځه یعنې څه.

وګورئ، چې دا کمپنۍ د ښځې حرکتونه، د ښځې ژست نیونه، د ښځې ښځینه طرزونه او د ښځې جنسي هنرونه پلوري.سینما او تیاتر ته، چې تاسې کوم ټکټونه اخلئ، په حقیقت کې د کرایه دارو ښځو د اجارې بیه ورکوی. وګورئ هلته بدمرغه ښځه، له دې لپاره چې پیسې لاس ته راوړي، په کومو کارونو لاس پورې کوي.ډېره موده باید د کارپوهانو تر څارنې لاندې د جنسي حرکتو رموز زده کړي، خپل روح، بدن او شخصیت باید د پیسو د پیدا کولو یو کمپنۍ ته سپاري، څو دا کمپنۍ ډېر ګهاک پیدا کړي.

کلبونو او هوټلونو ته لږ سر ورښکاره کړئ، وګورئ، چې ښځې څه شرافت لاس ته راوړی دی او دا چې ناڅیزه مزد باید واخلي او د پلانکي پیسه دار جیب ډک کړي؛ نو څرنګه خپل حیثیت او شرافت باید د مېلمنو په خدمت کې کېږدي.

کرایي ښځې هغه دي، چې د سترو پلورونځیو مزدورې او اجیرې دي او خپل عزت او شرف یې د حرص د پراختیا او ودې وسیله ګرځوي.

کرایي ښځه هغه ده، چې یوې وټیزې (اقتصادي) موسسې ته د ګهاک راماتونې په موخه په تلویزون کې د یو سوداګریز توکي د تبلیغ لپاره په زرګونو ډول ښځینه طرزونه کوي، چې ټول یې مصنوعي او مزدورۍ ته یې کوي.

څوک دی، چې یوه نشي نن په لویدیځ کې د ښځې ښایست، جنسي جذبه، د ښځې اواز، هنر او ابتکار، روح او جسم او لنډه دا چې د ښځې شخصیت د اروپا او امریکا د پانګوالی په چوپړ کې یوه ناڅیزه وسیله ده.
زه نه پوهېږم که یوه ښځه په ازادو شرایطو له یو سړي سره لنډ مهاله نکاح وتړي؛ نو کرایي ښځه ګڼل کېږي؛ خو که یوه ښځه په یو واده کې د زرګونو حریصو سترګو مخې ته او د هغوی د جنسي خواهشونو د ارضا په موخه خپله ټوله مړۍ وشلوي او په نڅا ځان مړ کړي، څو ټاکلی مزد واخلي؛ نو دا کرایي ښځه نه ګڼل کېږي.
اسلام، چې د سړیو مخه یې نیولې، څو له ښځو دا شان ګټنې ونه کړي او ښځه یې له دې اسارته خبره کړې او له دې یې هم منع کړي، چې په دا شان کارونو لاس پورې نه کړي او له دې لارې د ډوډۍ پیدا کولو یې منع کړي؛ نو ایا اسلام د ښځې مقام راټیټ کړی که د اروپا د شلمې پېړۍ دویمې برخې؟
که یوه ورځ ښځه په رښتیا خبره او ویښه شوه او ټولې هغه لومې راوسپړي، چې د شلمې پېړۍ سړي ورته په پټه ایښې وې؛ نو ددې ټولو ټګیو برګیو پر ضد به راپاڅي او هله به تصدیق کړي، چې قرآن یې یوازېنی رښتینی، کلک ملاتړې او ژغورځای (پناهګاه) دی، که څه هم دا ورځ لرې نه ده.
په یوه مجله کې د مرضیې او رضا د ((کرایي ښځې)) په نامه یو راپور خپور شوی و، چې د ښځې بدمرغي یې په کې بیان کړی و.
د رضا د څرګندونو له مخې دا داستان له مرکې پیل شو؛ یعنې لومړی ښځه د سړي په مرکه ولاړه، څرګنده ده، ښځه چې په سړي مرکه کوي؛ نو پای به یې ښه نه وي.

خو د مرضیې د څرګندونو له مخې هوسناکه او د کلک زړه سړي، ښځه غلولې وه، چې غواړي دایمي واده ورسره وکړي او د ښځې او اولادونو پالندویي یې وکړي او ښځه بې له دې چې خبره وي، سړي د صیغې په نامه ترې ناوړه ګټنه کړې او بیا یې همداسې بې پروا پریښې ده.
که دا څرګندونې سمې وي؛ نو دا نکاح باطله ده. د سخت زړه سړي، له عرفي او شرعي له قانونه په بې خبرۍ ښځې تېرى کړى او باید سزا ورکړل شي.تر دې مخکې، چې د رضا په شان کسانو ته سزا ورکړل شي، باید روژنه یې وشي او تردې مخکې، چې د رضا په شان کسانو ته سزا ورکړل شي یا روزنه یې وشي، د مرضیې په شان ښځې باید پوه کړاى شي.
هغه جنایت چې د سړي له سخت زړه او د ښځې له بې خبرۍ راټوکیدلی؛ نو له قانون سره څه تړاو لري، چې دا مجله رضا په حقه ګڼي او په قانون پسې توره راوباسي؟ که د لنډمهالي واده قانون نه واى، سخت زړي رضا به بې خبره مرضیه په ارامه پریښي واى؟
ولې د سړي او ښځې له روزنې او پوهاوي پښې سپکوئ، د ښځې او سړي شرعي حقوق او وظایف تر پښو لاندې کوئ او بیچاره ښځې غلوئ او د ښځې یوازېنې رښتینې قانون د ښځې دښمن معرفي کوئ او دهغې پخپل لاس غواړئ، یوازېنی ژغورځاى یې وتړګوئ.

لنډمهاله نکاح او ګڼ ښځې

۴- دا چې لنډمهاله نکاح، په هر حال کې ګڼ ښځې ته یو ډول اجازه ده او د ګڼ ښځې د غندنې وړ ده؛ نو په دې ډول لنډمهاله نکاح د غندنې ده.

دا چې منقطع نکاح کومو کسانو ته تشریع شوې، د همدې مبحث په ترڅ کې او د ګڼ ښځې په اړه به د خدای په پار د ووینې بېله لمن وغځوو.

پـه لنډمهالي واده کې د ماشومانو برخلیک

۵- دا چې لنډمهاله نکاح دوام نه لري؛ نو له دې واده زېږېدلو ماشومانو ته نامناسبه ځاله ده. د لنډ مهالي واده لازمه دا ده، چې راتلوونکي ماشومان، بې پالندوی او د لورین پلار له ملاتړ او له ګرانې مور او له تود کورني چاپېریاله بې برخې پاتې شي.

مخکې مو وویل د دایمي او لنډمهالې نکاح ترمنځ یو توپیر د نسل تولید دی. په دایمي واده کې دواړه لوري بې د یو بل له رضایته نشي کړای د نسل له تولیده پښې سپکې کړي، د لنډمهالي واده پر خلاف چې دواړه لوري پکې ازاد دي. په لنډ مهاله واده کې ښځه دې د سړي د استمتاع- برخمنۍ خنډ نشي؛ خو بې له دې چې د سړي استمتاع ته زیان ورسوي، کړای شي له خپلې دوه ځانۍ هم مخنیوی وکړي او دا موضوع د نني دوه ځانۍ ضد وسایلو له لارې هواره شوې ده.

همداشان که په لنډ مهالي واده کې دواړه لوري وغواړي، چې ماشوم راوړي او راتلوونکي ساتنه او روزنه یې په غاړه واخلي؛ نو ماشوم راوړي. ښرګنده ده، چې د طبیعي عاطفي له اړخه د لنډمهالي او دایم ماشوم ترمنځ توپیر نشته او که فرضا مورو پلار خپلې دندې ته شا کړي، قانون یې دې کار ته اړ کوي؛ لکه څرنګه چې د طلاق په پېښېدو کې قانون لاسوهنه کوي او د ماشومانو د حقوقو له تویېدو مخنیوی کوي. که دواړه

لوري ونه غواړي، چی ماشوم راوړي او د لنډمهالې نکاح موخه يې د غريزې تسکين وي؛ نو د ماشوم له راوړو مخينوی کوي.
لکه څرنګه چې پوهېږو کليسا له دوه ځانی مخينوی نامشروع ګڼي؛ خو د اسلام له نظره که زوجين په لومړيو کې له ماشوم راوړنې مخنيوی وکړي، مانع نشته؛ خو که څاڅکی وتړل شو(منعقد) او د اولاد د تکوين لومړنی هسته رامنځ ته شوه، اسلام يې په هيڅ ډول د نابودی او له منځه وړو اجازه نه ورکوي.
دا چې شيعه فقها وايي، چې د دايمي واده موخه د نسل توليد او د لنډمهالی واده موخه يوازې استمتاع او د غريزې تسکين دی، همدا موخه بيانوي.

لنډمهاله واده او د حرامسرای مساله
هغه مسله چې لويديځوال يې د ختيځ والو پر خلاف تل راپورته کوي او پرې فيلمونه او نمايشنامې يې جوړ کړي او جوړوي يې، د حرمسرای تشکيل دی، چې په خواشينی سره د ختيځ په تاريخ کې يې ډېری بېلګی تر سترګو کيږي.
د ختيځ د ځينو خلفاوو او سلاطينو ژوند ددې پښو کامله بېلګه ګڼل کيږي او حرامسرا د ختيځ سړي د ځان پالنې-هواپرستی او هوسرانی، بشپړه بېلګه پتېيل کيږي.
وايي لنډ مهاله نکاح جايز ګڼل د حرمسری له تشکيل سره مساوي دي، چې د لويديځ پر وړاندې د ختيځ کمزوی ټکی او د شرمندګی لامل دی او د ځان پالنې-هواپرستی او هوسرانی جايز ګڼل دي، چې په هره بڼه وي، دا مطلب د اخلاقو، ودې او د پوپناکېدو لامل دی.

همدا مطلب یې د ګڼ ښځۍ په هکله هم ویلی. د ګڼ ښځۍ جایز ګڼل یې د حرمسرا د جوړښت په شان تفسیر کړی دی.
د ګڼ ښځې په هکله به موږ بېله وینه ولرو؛ خو اوس لنډمهال واده ته راګرځو. دا مساله له دوو اړخونو باید وڅېړل شي: یو دا چې له ټولنیز اړخه د حرمسرا د جوړښت لامل څه و؟ د لنډمهالي واده قانون د ختیځو حرمسریو په جوړښت کې څه ونډه درلوده که نه؟
دویم دا چې د لنډمهالي واده د قانون له تشریح موخه دا وه، چې په څنګ کې ورسره ځینو سړیو ته د هوسرانۍ او حرامسرای جوړونې وسیله وګرځي که نه؟

د حرمسرای جوړونې ټولنیز علتونه

لومړی برخه د حرمسرایو جوړونه د دوو لاملونه له کبله رامنځ ته شوي:
د حرمسرای جوړونې لومړی لامل د ښځې تقوا او عفاف دی؛ یعنې ټولنیز او اخلاقي شرایط باید داشان وي، چې ښځې پرېښږدي، حال دا چې له یو ځانګړي سړي سره جنسي اړیکي لري، له نورو سړیو سره یې هم ولري. په دې شرایطو کې عیاش او هوسران سړی ځان ته لار هواره ویني، چې څو ښځې په ځان راټولې او حرمسرای جوړه کړي.
څرګنده ده که ټولنیز او اخلاقي شرایط، په ښځه عفاف او تقوا لازم و نه ګڼي او ښځه وړیا او اسانه ځان د سړي په خدمت کې کړي او سړي وکړای شي هره شېبه له هرې ښځې سره هوسراني وکړي او د هوسرانۍ وسیله تل په هر ځای او هر شرایطو کې چمتو وي؛ نو دا سړي کله هم دې ته چمتو نه دي، چې ستړې، اوږدې، په لویې لګښت او له سترو تشکیلاتو سره حرمسرای جوړې کړي.

بل لامل يې د ټولنيز عدالت نشتوالی دی. چې ټولنيز عدالت نه وي، يو د نعمتو په سيند کې ډوب وي او بل بېوزلی او بيچاره وي؛ نو ډېری سړي د کورنۍ له جوړولو او د ښځو له درلودو بې برخې کېږي او مجردو ښځو شمېره لوړېږي او حرمسرای جوړونې ته لار هوارېږي.

که ټولنيزعدالت په ځای وي او هر چا ته د کورنۍ جوړونې او ښځه کولو وسيله چمتو وي؛ نو پخپله هرې ښځې ته ځانگړی سړی پيدا کېږي او د عياشۍ، هوسرانۍ او حرمسرای جوړونې خبره له منځه ځي.

خو د ښځو شمېره تر سړيو څومره ډېره ده، حال دا چې ټول بالغ سړي، ښځې ولري، بيا هم هر سړي ته يا لږ تر لږه هر شتمن ته د حرمسرای جوړونې لار پاتې کېږي؟

د تاريخ عادت دا دی، چې د خلفاوو او سلاطينو د دربار د حرمسرايو سرگذشت وښيي، د هغوی عيش او عشرتونه ټکي په ټکي راواخلي؛ خو د هغو په اړه يې چوپتيا غوره کړې، چې د ماڼۍ په پښو کې مړه شول او د هغوی له بې برخيتوبۍ، ناکاميو، حسرتونو او د مړوهيليو له توضيح او تشريح ډډه کوي، چې ټولنيزو شرايطو دې ته نه پرېښوول، چې ځان ته همسر پيدا کړي او چوپ پاتې کېدل. په لس گونو او سل گونو ښځو چې په حرمسرايو کې وې، يوه ډله بې برخې او بيچاره گانې وې، چې د عمر تر پايه مجردې پاتې شوې.

په څرگنده توگه که دا دواړه لاملونه له منځه ولاړ شي؛ يعنې تقوا او عفاف په ښځو لازم امر وگڼل شي او جنسي بريا بې له واده(دايم او لنډمهال دواړه) ناشونې شي او له بلې خوااجتماعي اقتصادي ناخوالې له منځه ولاړه شي او ټولو بالغو وگړيو ته د بشر تر ټولو طبيعي حق؛ يعنې

واده څخه ګټنه شونې شي، د حرمسرایو جوړونه، به ناشونې او ناممکن شي.
تاریخ ته لنډه کتنه ښیي، چې د لنډمهالي واده قانون د حرامسریو په جوړونه کې کوچنۍ اغیز هم نه درلوده.د عباسیانو خلفاء او عثماني سلاطین چې تر ټولو ډېر په دې عنوان مشهور دي، یو یې هم د شیعه مذهب لارویان نه ول، چې د لنډمهالي واده له قانونه یې ګټنه کړې وای.
شیعه مذهبي سلاطین، په دې چې کړای یې شول دا قانون ځان ته بهانه کړي، کله هم په دې اړه د عباسیانو خلفاوو او عثماني سلاطینو ته ونه رسېدل. دا پخپله ښیي، چې دا پېښه د ځانګړي ټولنیزې وضع زېږنده ده.

ایا د لنډ مهالي قانون تشریع د هوسرانۍ د تامین لپاره دی؟
د دویمې برخې په اړه.که په هر څیز کې تردید وکړو، له دې اړخه تردید نشو کړای، چې اسماني ادیانو عموماً د هوسرانۍ او ځان پالنې-هواپرستۍ پر ضد پاڅون کړی، تر هغه چې د ډېرې ادیانو په لاریانو کې هوسرانۍ او ځان پالۍته شا کول د سختو ریاضتونو د زغم بڼه غوره کړې ده.
له ځان پالۍ سره مبارزه د اسلام له غوڅو او واضح اصولو دي. قرآن کریم ځان پالي یا د بوت پالۍ په لیکه کې راوړې ده. په اسلام کې ((ذوّاق)) د خدای ملعون او مبعوض معرفی شوی؛ یعنې هغه کس، چې موخه یې دا ده، چې له ډېرو ښځو سره سملي او خوند ترې اخلي؛ خو په کوم ځای کې چې د طلاق په اړه خبرې کوو، ددې مطلب مدارک به هم رانقل کړو.
په نورو شرایعو د اسلام امتیاز دا دی، چې ریاضت او رهبانیت یې مردود ګڼي، نه دا چې ځان پالي جایزه او مباح وګڼي. د اسلام له نظره ټولې

غریزې(جنسي او نورې) دې د طبیعت د اړتیا او اقتضاء په حدودو کې اشباع او ارضاء شي؛ خو اسلام دا جایز نه ګڼي، چې انسان دې د غریزو اور ته لمن ووهي او د نه مړه کېدونکي روحي تندې په بڼه دې راواړوي. په دې توګه که څه د ځان پالۍ، ظلم او بې عدالتۍ رنګ غوره کړي؛ نو کافي ده، چې پوه شو د اسلام د موخې مطابق نه ده.

د تردید ځای نه دی د لنډ مهالي واده د قانون د قانوندان موخه دا نه و، چې ځان پالو ته د عیاشۍ او حرمسرای جوړونې او د یوې ډلې ښځو او ماشومانو د بدمرغۍ او دربدرۍ وسیله دې شي.

امامانو په لنډمهالي واده ډېر ټینګار کړی او ځانګړې فلسفه لري، چې مخکې به پرې رڼا واچول شي.

په ننني نړۍ کې حرمسرای

اوس ګورو، چې ننۍ نړۍ د حرمسرای له جوړونې سره څه کړي دي. ننۍ نړۍ د حرمسرای دود منسوخ کړی دی. ننۍ نړۍ حرمسرای پالنه ناخوښ کار ګڼي او د رامنځ ته کېدو لامل یې له منځه وړی دی؛ خو کوم لامل؟ ایا د ټولنیزو ناخوالو لامل یې له منځه وړی او په پایله کې ټولو ځوانانو واده ته مخه کړې او د حرمسرایو د جوړونې لار یې له منځه وړې ده؟

نه! بل کار یې کړی دی، له لومړني لامل؛ یعنې د ښځې له عفاف او تقوا سره یې مبارزه پیل کړې ده او له دې لارې یې سړي ته ستر خدمت کړی دی. تقوا او عفاف په هماغه کچه چې ښځې ته ارزښت لری او هغه ګرانه او درنوي، په هماغه کچه(همدا تقوا او عفاف) سړي ته خنډ شمېرل کېږي.

ننني نړۍ داسې کار کړی، چې ددې پېړۍ عياش سړی له هماغومره زحمت او لګښت سره حرمسرای جوړونې ته اړتيا نه لري. د لویدیځ تمدن له برکته ددې پیړۍ سړي ته هر ځای حرمسرای دی. ددې پیړۍ سړی لازم نه ګڼي، چې د هارون الرشيد او فضل بن یحیی برمکی په شان پيسې او ځواک ولري، چې د هغوی په اندازه د ښځې له جنسه په بېلابېلو ډولونو او رنګونو کې ګټنه وکړي.

ددې پیړۍ سړي ته دا بسيا دي، چې يو موټر ولري او د مياشتې څو روپۍ وګټي؛ نو د ښځې له جنسه د ګټنې او عياشۍ داسې وسيلې ورته چمتو دي، چې هارون الرشيد په خوب کې هم نه وې لېدلی. هوټلونو، رسټورانټونو او کلبونو وار د مخه د حرمسرا په ځای په دې پیړۍ کې د چمتووالي اعلان کړی دی.

يو ځوان په ډاګه وايي، چې په هغه پلانکي کور کې مې دوويشت معشوقې په بېلابېلو بڼو درلودې.ددې پیړۍ سړي ته له دې بل څه غوره کېدای شي، چې د لويديځ تمدن له برکته يې يوازې د حرمسرای جوړونې دراندده لګښتونه له لاسه ورکړي او حرمسرای خو لا پخپل ځای ده.

که د حرامسرايو د جوړونې د پير سړی له خارو راپاڅي او د عيش و عشرت او د ښځو ارزاني وړياتوب ووينې؛ نو له هغو درندو لګښتو په درلودو چمتو نه دی، چې حرامسرای جوړه کړي، له لويديځوالو به منه وکړي، چې د حرامسرای له جوړولو يې معاف کړی او مخې سره به اعلان وکړي، چې لنډمهاله واده او ګڼ ښځي منع؛ ځکه د ښځو پر وړاندې سړيو ته مسووليت او دنده رامنځ ته کوي.

که وپوښتو ددې لوبې پرونی او ننني ګټوونکی خو معلوم شو؛ نو بایلوونکی څوک دی؟ په خواشینۍ باید وویل شي، ښځه ده، چې خورا خوش باوره او په زړه ساده ده.

د دويم خليفه لخوا د لنډمهالي واده منع

لنډمهاله واده د جعفري فقهې له څانګړنو ده او نورې اسلامي فقهې یې جایزه نه ګڼي. زه کله هم لېواله نه یم، د سني او شیعه د اسلام راپرڅونې دې شخړې ته ورننوځم، دلته یوازې تاریخ ته یې لنډه کتنه کوم.

ټول مسلمانان سره یوه خوله او اجماع لري، چې په صدر اسلام کې لنډمهالی واده و او هغه مسلمانان، چې په ځینو سفرو تلل او له خپلو مېرمنو لرې ول او پرې به سخته و؛ نو رسول اکرم(ص) ورته د لنډمهال واده اجازه ورکوله. همداراز ټول مسلمانان سره یوه خوله دي، چې دويم خليفه پخپل وخت کې لنډمهاله نکاح تحریم کړه او ویې ویل:((د پیغمبر په وخت کې دوه څیزه روا وو، چې زه یې نن ممنوع کوم او کوونکي ته بې سزا ورکړم، د ښځو متعه او د حج متعه.))

ځیني اهل سنت ګروهمن دي، چې لنډمهاله نکاح، پیغمبراکرم د خپل عمر په وروستیو کې منع کړې او د خليفه منع په واقع کې هماغه د پيغمبر له خوا منع ده. خو پوهېږو کومه وینا، چې له دويم خليفه رانقل شوې ددې مطلب پر خلاف ده.

ددې مطلب سمه توجيح دا ده، چې ((علامه کشف الغطاء)) بیان کړې:((خليفه له هغه مخې ځان ته حق ورکاوه، چې دا موضوع منع کړي، چې پټيېله یې دا موضوع د مسلمانانو د ولي امر د اختياراتو په واک کې ده؛ هر حاکم او ولي امر کړای شي د خپلو اختياراتو له مخې او

د خپل پېر او وخت د غوښتنو په پام کې نېونې سره له داسې چارو ګټنه وکړي.))

په بله وینا د خلیفه منع، شرعي نه؛ بلکې سیاسی منع وه؛ لکه څرنګه، چې له تاریخه ګټنه کېږي، دویم خلیفه، د واکمنۍ پر مهال خپله اندېښنه نه پټوله، چې صحابه دې په نوي مسلمان شویو هېوادو کې له نویو مسلمانانو سره ورګډ او خپاره واره شي، څو خلیفه ژوندی و، صحابه یې دې کار ته پرېنښوول، څو اسلامي روزنې په نوې مسلمان شویو ژورې اغېزې نه وي کړې، دویم خلیفه له داسې مسلمانانو سره د صحابه وو د وینې له امتزاجه خوشحاله نه وه او دا یې راتلوونکي کهول ته ګواښ ګاڼه؛ نو څرګنده ده چې دا یو لنډمهاله امر و.

دا چې د هغه وخت مسلمانانو د خلیفه دې تحریم یا بندیز ته غاړه کېښوه، علت یې دا و، چې د خلیفه دا بندیز یې د دایمي قانون په توګه؛ نه بلکې د لنډ مهاله سیاسي مصلحت په توګه وګاڼه که نه دا خو ناشونې ده، چې د وخت خلیفه ووایي، پېغمبر هغسې حکم کړی او زه یې داسې ورکوم او خلکو به هم ورسره دا خبره یې منلې وای.

خو وروسته د ځانګړو پېښو په تېره بیا د پخوانیو خلفاوو او په ځانګړي ډول د لومړینو دوو خلفاوو ((سیره)) یوه ثابته برنامه وپتیېل شوه او د تعصب لړۍ ترهغې ولاړه، چې د اصلي قانون بڼه ویې ونیوه؛ نو دلته د دویم خلیفه په پرتله په اهل سنتو ورونو نیوکه ډېره ده. خلیفه د لنډمهالي سیاسي منع په توګه، په لنډمهالي نکاح بندیز ولګاوه، (لکه په ایران کې چې په تنباکو بندیز و)؛ نو نه ښايي، چې د ابدیت بڼه ورته ورکړل شي.

څرګنده ده، چې د((علامه کشف الغطاء)) څرګندونه ددې ښوونکې نه ده، چې ایا له اصله، د خلیفه دا لاسوهنه سمه وه او که نه وه او ددې

ښوونکې هم نه ده، چې لنډمهال واده، ایا له هغو مسلو ده، چې د مسلمانانو شرعي ولي کړای شي، ان د لنډ وخت لپاره یې هم منع کړي که نه؛ بلکې یوازې ددې ښوونکې ده، څه چې په لومړیو کې وشول، په دې نامه او عنوان و؛ ځکه د مسلمانانو له خوا له مخالف غبرگون سره مخ نشو.

په هر حال د خلیفه نفوذ او شخصیت او د هېواد سنبالنې له طریقې یې د خلکو په پټو سترگو پلوي، ددې لامل شوه، چې دا قانون هېر او شاته ورغورځول شي او دا قانون، چې دا دایمي واده مکمل دی او شاته اچول یې پرېشانۍ رامنځ ته کوي، د تل لپاره ترک کړای شو.

داچې دا قانون هېر او پرېښوول شي؛ نو نبوي کورنۍ، چې د سپېڅلي دین پاسوالان دي، دې قانون ته یې ډېر هڅونه وکړه. امام صادق وایي:((په کومه موضوع کې چې کله به هم تقیه ونه کړم، هغه متعه ده.))

دلته و، چې د لنډمهالي نکاح د تشریع له اوّلي حکمت سره ثانوي حکمت او مصلحت هم یوځای شو او هغه هڅه د ((متروکه سنت)) بیا راژوندي کېدل دي. زما په اند، له هغه ځایه، چې امامانو، ښځه لرونکي سړي له دې کاره منع کړي، ددې قانون د اوّلي حکمت په اعتبار دي او غواړي، چې ووایي دا قانون، هغو سړیو ته وضع شوی نه دی، چې ورته اړتیا نه لري، امام کاظم، علي بن یقطین ته وویل:((له لنډمهالې نکاح سره دې څه کار دی، حال دا چې خدای بې اړې کړی یې.))

او بل ته یې وویل:((دا کار هغه ته روا دی، چې د ښځې په درلودو، خدای هغه له دې کاره بې اړې کړې نه دی؛ خو څوک چې ښځه لري، هله دا کار کړای شي، چې خپلې ښځې ته لاس رسې ونه لري.))

دا چې ټول خلک يې دې کار ته هڅول، د ثانوي حکمت؛ يعنې((د متروکه سنت د بيا راژوندي کېدو)) له امله وو؛ ځکه ددې متروکه سنت بيا راژوندي کېدو ته د اړمنو هڅونه بسيا نه بريښېده.
د شيعه وو په رواياتو او اخبارو کې له دې مطلب گتنه کړای شو.
په هر حال څه چې څرگند او جوت دي، دا دي، چې ددې قانون له وضع او تشريع د لومړني قانون ايښوونکي موخه او دې قانون ته د امامانو هڅونه، دې لپاره نه وه، چې حيوان صفتو ته د ځان پالۍ، هوسرانۍ او حرمسرای جوړونې وسيله شي او همداراز د ځينو ښځو غلونې او بې پالندويه ماشومانو د بدمرعۍ وسيله دې هم شي.
د حضرت علي وينا
ښاغلی مهدوي ليکي:
د ((احوال الشخصيه)) ليکوال، شيخ محمد ابوزهره له حضرت علي داسې نقل کړي، لا اعلم احد تمتع و هو محصن الا رجمته بالحجاره.
ښاغلي مهدوي دا عبارت داسې ژباړلی:
که پوه شوم، چې يو نا اهل متعه کړې، د زنای محصن حد به پرې جاري او سنگسار به يې کړم.
که د حضرت علي خبرو ته غاړه ږدو؛ نو هغه روايات چې د متعې په باب په شيعه او غير شيعه کتابو کې راغلي، دا ټول پرېږدو او يوازې په همدې روايت پورې ونښلو، چې ناقل يې د اهل سنتو يو عالم دې او سند يې نامعلوم دی؟
حضرت علي وايي:((که عمر منده نه وای کړې او په متعه يې بنديز نه وای لگوالای، چا به هم زنا نه وای کېی؛ خو يوازې هغو چې له ختې کاږه دي.))

یعنې که په متعې بندیز نه وای لګېدلی، چا به هم د غریزې له مخې زنا ته مخه کړې نه وه، یوازې هغو به دا عمل کاوه، چې تل د قانون پر خلاف یې کړنې غوره ګڼلې.

دویم دا چې د پورتني عبارت مانا دا ده:((که یوه شوم ښځه لروونکي سړي متعه وکړې؛ نو سنګساربه یې کړم.))

نه پوهېږم ښاغلي مهدوي ولې د ((محصن)) ټکی د ښځې لرونکي په ځای ((نااهل)) ژباړلی دی.

بیا هم د روایت موخه دا ده، چې ښځه لرونکي سړي، د لنډمهاله نکاح حق نه لري او که موخه دا وه، چې څوک هم حق نه لري، چې لنډمهاله نکاح وتړي؛ نو د ((هو محصن)) قید به له منځه تللی وای.

نو دا روایت که اصل ولري، هغه نظر تاییدوي، چې وایي:((د متعې قانون هغو ته وضع شوی، چې ښځې ته اړتیا ولري؛ یعنې مجرد وي یا هغوی، چې خپلې ښځې یې ورسره نه وي.)) نو دا روایت د لنډمهالې نکاح په حرمت نه؛ بلکې په جایزتوب یې دلیل دی.

ليکوال: استاد ناصر مکارم شيرازي

لنډمهاله واده (متعه)

موږ ګروهمن يو، چې لنډمهاله واده يو شرعي چار دی، چې په اسلاميیفقه کې د «متعه» په نامه مشهوره شوې ده؛ نو په دې ترتيب، واده په دوه ډوله دی: دائم واده، چې وقت او زمان يې نامحدود دی او لنډمهاله واده، چې وخت يې د دواړو لوريو په هوکړه ټاکل کېږي.

دا واده دايمي واده ته په ډېرو مسائلو کې ورته والی لري؛ منجمله د مهر په مسئله کې، له هر ډول مانع او خنډه د ښځې د خلاصېدو او د هغو بچيانو د احکامو په اړه، چې ددې واده په پايله کې پېدا کېږي، دا بچيان له دائمي واده له پېدا کېدوونکيو بچيانو سره هېڅ توپير نه لري، تر بېلتون وروسته د عدې ساتل دا ټول زموږ په نزد له مسلماتو دي، په بله وينا لنډمهاله واده (متعه) د واده له ټولو ځانګړنو سره يو ډول واده دی.

البته د دائمي ا و لنډمهاله واده ترمنځ ځينې توپيرونه شته منجمله دا چې په لنډمهاله نکاح کې د ښځې نفقه په مېړه واجبه نه ده او ښځه او مېړه له يو بله وراثت نه وړي.(خو د دوی بچيان له مور او پلار او له يو بله ارث وړي)

په هر حالم وږ دا حکم له قرآنه اخستی دی، چې فرمايي «فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً؛ د هغه ښځو چې ورسره متعه کوئ، مهر ورکړئ»[1]

ډېرو لويو مفسرانو او مشهورو محدثانو جوته کړې ده، چې دا آيت د لنډمهاله واده (متعې) لپاره دی.

---

۱. نساء سوره ۲۴ ايت

په تفسیر طبري کې تر دې آیت لاندې ډېر روایتونه نقل شوي دي، چې ښيي دغه آیت د لنډمهاله واده په هکله دی او د پېغمبر (ص) ډېرو اصحابو پر شهادت ورکړی دی.[۱]

په «الدرالمنثور» تفسیر او «سنن بیهقی» کې هم په دې هکله ډېر روایتونه راغلي دي[۲]

په «صحیح بخاري» «مسند احمد» او «صحیح مسلم» او نورو ډېرو کتابونو کې هم داسې روایتونه تر سترګو کېږي، چې د پېغمبر(ص) پر مهال د لنډمهاله واده په شتون دلیل دی که څه دهغو مخالف روایتونه هم لیدل کېږي.[۳]

د اهل سنتو ځینې فقیهان په دې عقیده دي، چې د پېغمبر(ص) پر مهال لنډمهاله واده و او بیا دغه حکم نسخ شوی دی، حال داچې ځینې وایي، چې دا حکم د پېغمبر (ص) د عمر تر پایه پورې و او دویم خلیفه نسخ کړی دی. (مُتْعَتَانِ كَانَتَا عَلىٰ عَهْدِ رَسُوْلُ الله وَاَنَا مُحَرِّمُهُمَا وَمُعَاقِبٌ عَليهما: مُتْعَةُ النِّسَاءِ وَ مُتْعَةُ الْحَجّ؛ دوه متعې د پېغمبر(ص) پر مهال وې او ما هغه حرامې کړې او په هغو به سزا ورکوم! د ښځو متعه او د حج متعه (چې د حج یو ډول دی) د دې خبرې ګواه دی.[٤]

---

**۱. تفسیر طبري ۵ ټوک ۹ مخ**

**۲. الدر المنثور، ۲ ټوک ۱۴۰ مخ سنن بیهقی، ۷ ټوک ۲۰۲ مخ**

**۳. مسند احمد ۴ ټوک ۴۳۶ مخ ـ صحیح بخاری ۷ ټوک ۱۲ مخ او صحیح مسلم ۲ ټوک ۱۰۲۲ مخ د (باب نکاح المتعه) تر عنوان لاندې راغلي دي.**

**۴. دا حدیث په همدې محتوا سره یا دې ته په ورته محتوا سره په سنن بیهقی ۷ ټوک ۲۰۲ مخ او په نورو ډېرو کتابونو کې راغلی دی، د الغدیر لیکوال له صحاحو او مسندونو پنځه ویشت حدیثونه نقلوي چې « متعه» په شریعت اسلامي کې حلاله او د پیغمبر**

په دې کې شک نشته چې په دغه اسلامي حکم کې د اهل سنتو راویانو په منځ کې د نورو ډېرو احکامو په شان اختلاف دی، ځینې د پیغمبر(ص) پر مهال یې د نسخېدو عقیده لري او ځینې د دویم خلیفه په زمانه کې او لږ شمېر ترې بیخي انکار کوي او دا ډول اختلافات په فقهي مسائلو کې دي؛ خو شیعه فقیهان یې په مشروعیت کې د نظر اتفاق لري او وایي، چې د پیغمبر(ص) پر مهال نه ده نسخ شوې او د آنحضرت تر رحلت وروسته یې نسخیدل ناممکن دي.

په هر حال موږ عقیده لرو چې: که له لنډمهاله واده ناوړه استفاده ونشي، د هغو ځوانانو په هڅې کله د دائمي واده وس نه لري د ځینو ټولنیزو اړتیاوو ځواب ویلای شي. یا د هغو مسافرانو په مسئله کې چې د تجارتي، اقتصادي، تعلیمي یا داسې نورو اړتیاوو لپاره یوه موده له خپلې کورنۍ لرې پاتې کېږي او یا داسې نور موارد او له لنډمهاله واده سره مخالفت په دغو کسانو کې د فحشا د زیاتېدو لار پرانځي، په تېره بیا زموږ په زمانه کې چې د دائمي واده عمر د بېلابېلو دلایلو په وجه ډېر زیات شوی دی اوبلخوا د شهوت پاروونکي عوامل زیات شوي دي.که دا لار بنده شي، بېشکه چې د فحشا لپاره لار پرانستل کېږي.

یو ځل بیا ټینګار کوم، چې موږ له دغه اسلامي حکمه له هر ډول ناوړه استفادې، د هوسبازانو په لاس کې دهغې له بازیچه کېدو او ککړتیا ته د ښځو د راکاږلو لپاره دیوې وسیلې په توګه دا ستفادې سخت مخالف یو؛ خو له قانونه د ځینو هوس بازانو ناوړه استفاده باید د قانون د مخنیوي لامل او پلمه ونه ګرځي؛ بلکې باید د ناوړه استفادې مخه ونیول شي.

---

**(ص) د لومړي خلیفه په وخت او دوهم خلیفه په ځینې وخت کې موجوده او دود وه بیا دوهم خلیفه د خپل عمر په وروستیو کې نهي کړه (الغدیر، ۳ ټوک۳۳۲مخ).**

"متعه" یا "لنډمهاله واده" ........................................................... ۱۱۵

ليکوال:آيت الله جعفر سبحاني

**متعه**

د شيعه فقه د کتاب او سنت د لارښوونو په بنسټ، د دوه ډول ازدواج (واده يا مېړه او ماينه کېدل) پر صحت باندي ويونکی دی: «دائم ازدواج» چې توضيح ته اړتيا نه لري، او «موقّت ازدواج» يا «متعه» چې د هغه څرنگوالی په لاندي شرحه سره دی:

ښځه او نارينه چې هېڅ شرعي مانع او خنډ (نسب او رضاع او نور) د هغوئ د واده پر لاره شتون و نه لري د مهريې له ټاکنې څخه وروسته، د يوې معينې مودې لپاره د کوروالي پيوند يو د بل سره برقراروي او د دې مودې له تمامېدو نه وروسته بې د طلاق د صيغې له اجراکولو نه يو د بل څخه جلا کيږي. په دې ترڅ کي که چيري د دوئ څخه اولاد زيږېدلی وي، د هغوئ شرعي اولاد دی او له دواړو څخه ارث وړي. ښځه هم د مودې له تمامېدو نه وروسته بايد شرعي عدّه وساتي، او که ميندار وي بايد د ماشوم تر زيږېدنې پوري صبر وکړي او د بل چا سره د ازدواج او واده څخه ډډه وکړي.

موقته واده د ماهيت له کبله د دائمي وادې سره يو دی او ټوله حکمونه چې پر دويمې باندي راځي پر لومړني باندي هم مترتب کيږي. هغه مهم توپير چې د دې دوه ازدواجونو تر مينځ شتون لري په لاندي دوه مطلبونو کي لنډيز کيږي:

۱. په موقته ازدواج کي د مودې تعيينول؛

۲. په هغه کي د نفقې د ورکړنې د وجوب نشتوالی.

که چيري له دې دوه مطلبونو څخه تېر شو نور توپيرونه هغسي کوچني دي چې د هغو تر مينځ څه داسي فاصله نه ايجادوي.

له هغه ځایه چې اسلام، خاتم او جامع دین دی، د جنسي بحرانونو د مشکلاتو د حل لپاره دا طرحه تجویز کړې ده. هغه ځوان په نظر کې ونیسو چې د هېواد په بهر کې په لوست او تحصیل باندې بوخت دی او د دائمې وادې توان نه لري. په دې بڼه کې د هغه تکلیف څه شی دی؟ ښکاره ده چې یاد شوی ځوان باید د درو لاندې لارو څخه یو غوره کړي:

الف ـ ځان ساتنه او د جنسی تمتع څخه ځان محرومول؛

ب ـ د فاسدو او ناروغو ښځو سره د نامشروعې اړیکې ایجادول؛

ج ـ تر ځانگړو شرایطو لاندې، د پاک لمنې ښځې سره د موقتې وادې څخه گټه اخیستل، چې د مشکل د له منځه وړلو سره یوځای، هېڅ ډول لگښت هم د هغه لپاره نه ایجادوي.

ښکاره ده چې په پورتني مثال کې څلورمه لاره شتون نه لري چې یاد شوی ځوان د هغه څخه گټه واخلي (البته دا په دې معنا نه ده چې موقت ازدواج، دغسې شرایطو ته ځانگړی دی، امّا دغسې موارد کولای شي د دې حکم د تشریع د حکمت څخه حکایت کوونکی وی).

په دې ترخ کې باید پام ولرو چې د نورو مذهبونو فقیهانو هم یو ډول دائمي ازدواج تاییدوي چې د هغه واقعیت همغه موقت ازدواج دی، او هغه دا دی چې ښځه او نارینه په دائمي توگه واده کوي اما د هغوئ څخه یو یا دواړه پوهیږي چې باید د یوې مودې نه وروسته د طلاق په بڼه یو د بل څخه جلا شي. د دې ډول د ازدواج تجویزول کټ مټ همغه د موقت د ازدواج تجویز دی او یوازې په نوم کی د هغه سره توپیر لري.

د خدای کتاب او د پیغمبر 9 سنت د موقت د ازدواج «متعه» د مشروعیت حکایت کوونکي دي. قرآن کریم فرمایي: Γفَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةًΦ (نساء/۲٤): هر کله د تمتع عقد مو د ښځو سره وتړل، د هغوئ مهریه ورته ورکړئ. اتفاق ته نژدی اکثره مفسرانو، د دې آیې نزول یې د موقت ازدواج په اړوند بللی دی. په اصولي توګه په دې مطلب کې چې په اسلام کې داسي ازدواج تشریع شوی دی، د هیڅ شک ځای نشته، که یو اختلاف وي د هغه د منسوخ کېدنې او نه کېدنې په باره کې دی. د فریقینو روایتونه د دې څخه حکایت کوي چې دا حکم منسوخ شوی نه دی او یوازي د ځینو لاملونو له کبله د دویمې خلیفې په زمانه کې د دې حکم له اجراء څخه مخنیوی شوی دی. دا په داسي حال کې ده چې د خلیفې خبره هم د پیغمبر اکرم په زمانه کې د متعې د جواز او دود څخه حکایت کوي او دا رسوي چې په دې مخنیوی کې بې له هغه د شخصي رای څخه بل شی په کار نه ده. ځکه چې هغه داسي وویل: «أیها النّاس ثلاثٌ کنّ علی عهدِ رسولِ الله أنا أنهی عنهُنَّ وَ أُحَرِّمُهُنّ و أُعاقِبُ علیهنّ و هي متعة النساء و متعة الحج و حيّ علی خیر العمل»[1]: ای خلکو درې شیان د خدای د رسول په زمانه کې دود ول چې زه له هغو نه نهی کوم او هر څوک هغه تر سره کړي هغه ته عقاب او کیفر ورکوم. هغه درې شیان د ښځو متعه، د حج متعه او حی علی خیر العمل دي.

عجبه دا ده چې د خلیفې نهی د لومړني او آخرني په موردونو کې تر اوسه په خپل زور باندي پاته ده، امّا د حج متعه ـ د خلیفې د نظر پر خلاف ـ د ټولو مسلمانانو تر کړنې لاندي ځای لري! (د حج د متعې

---

۱. د قوشچي د تجرید شرحه، د امامت مبحث، ۴۲۴ مخ، او نور.

څخه مقصد دا دی چې د خدای د کور زيارت کوونکی د عمرې او د حج د اعمالو په مينځ کي له احرامه راووزي، او د احرام محرّمات پر هغه باندي حلال شي).

پر دې مطلب باندي چې پيغمبر د متعې څخه نهيه نه ده کړې روښانه شاهد دا دی چې بخاري د عمران بن حصين څخه رانقلوي چې وايي: «د متعې آيه په قرآن کي نازله شوه، موږ هم د رسول الله سره په هغه باندي کړنه وکړ. هېڅکله يوه آيه د هغه د تحريم په هکله نازله نشوه او پيغمبر له هغه څخه نهيه و نه کړه تر څو وفات شو. هغه وخت يو وګړی په خپل رای سره د هغه په باره کي خبره وکړه» (مقصد يې د متعې تحريم د دويمې خليفې په واسطه ده).[1]

پای

---

۱. نزلت آية المتعة في كتاب الله ففعلنا بها مع رسول الله و لم ينزل قرآن يحرّمها و لم ينه عنها حتى مات، قال رجل برأيه ما شاء (صحيح بخاري: ۲/ ۲۷، د تفسير برخه، د بقرې د سورې څخه د ۱۹۲ آيې تر لاندي).